د افغانستان اسلامي امارت
د ملي دفاع وزارت

# فصلنامه اردو

د ملي دفاع وزارت خپرنيز ارګان



څلورمه ګڼه ۱۴۴۵ هـ ق کال
ربيع الثانی، جمادی الاول، جمادی الثانی میاشت
۱۴۰۲هـ ل کال د میزان، عقرب، قوس میاشت

بسم الله الرحمن الرحیم

# فصلنامه


د امتیاز خاوند: ملي دفاع وزارت

د تاسیس نېټه: ۱۲۹۹ ل م کال

څلورمه ګڼه ۱۴۴۵ هــ ق کال

د ۱۴۰۲ هــ ل کال د میزان، عقرب او قوس میاشتې



**مدیریت تنظیم و انسجام اشتهارات و تبلیغات**

مسؤل مدیر: مولوي عبدالله "مخلص"

تلیفون: ۰۷۸۷۲۷۵۶۹۵

pBX لمبر: ۲۶۷۱۴۵۰

سکرتر مسؤل: عبدالاحد "مدبر"

کتونکې پلاوی:

مولوي عبدالله(مخلص)

محمد آغا (حیدري)

ډګروال محمدنذیر(ګلبهاری)

مولوی عبدالناصر(فاتح)

مولوی نور احمد

ډیزاین او کمپوز: عزت الله "محمدي"

تخنیکي همکار: خوشحال همت "بابکرخیل"



ویب سایټ:Mod.gov.af

یوټیوب:MoDAfghanstan1

ټویټر:modafghanstan2

تیراژ: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ چارې: اسلامي ملي اردو مطبعه


# فهرست


سرلیکنه........................................................................................۱

د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزیر مولوي محمد یعقوب(مجاهد) سره د طلوع نیوز ځانګړې مرکه...........................................................۲ـ۱۹

اسلامي ملي اردو د روزنې په حال کې.........................................۲۰-۲۱

حاکم اسلامي نظام او ولس څه مسوولیتونه لري؟...............................۲۲- ۲۴

د افغانستان فعلي وضعیت ګواښ نه بلکې فرصت دی.......................۲۵

د لیکوالی ضرورت او اهمیت!...................................................۲۶

دکتورین نظامی...........................................................................۲۷- ۲۸

د زورواکو په نړۍ د زورواکي اوبدل کېږي.................................۲۹-۳۰

تعهد نیروهای اردوی اسلامی ملی دفاع از وطن و ارزشهای ملی کشور..۳۱

جایګاه اهمیت و ارزش سال هجری در اسلام...............................۳۲-۳۴

د اسرائیلو له لوري په فلسطین وروستي ظالمانه بریدونه....................۳۵- ۳۹

**روزنیزه هنداره**

د حضرت خالد بن ولید(رض) جنګي تکتیکونه...............................۴۰-۴۱

ویژګی های یک مجاهد ایدیولوژیک..........................................۴۲-۴۵

د وطن او اسلام پلورنکي...........................................................۴۶

عکرمه او ابوجهل.....................................................................۴۷

صدیقین څوک دي؟....................................................................۴۸

عقل، علم او ادب د انسان تر ټولو ستره پانګه ده..........................۴۹- ۵۰

دمسلمانانو ترمنځ دیپلټون لاملونه د یووالي ساتلو تګلار....................۵۱- ۵۲

په نړۍ داسلامي انقلاب اغیزې.................................................۵۳- ۵۵

د ادب ګلبڼ.............................................................................۵۶- ۵۷

رواني چارې............................................................................۵۸- ۶۲

# سرليکنه...

د افغانستان اسلامي امارت د نړۍ، سيمې او ګاونډيو هيوادونو سره د اسلامي اصولو په چوکاټ کې د مثبت تعامل غوښتونکی دی او نه غواړي چې هيڅ يو هيواد سره ناسالمې سيالۍ ولري.

د افغانستان اسلامي امارت د رسميت پېژندنې ټول هغه مراحل چې د نړۍ هيوادونه يې غوښتنې لري، د اسلامي اصولو په رعايتولو او د افغانستان د بهرنۍ پاليسۍ(سياست) په پام کې نيولو سره په دا تېر دوه کلونو کې پوره کړي دي، کومې د کور دننه مسايل چې د افغانستان حکومت او ولس پورې تړاو لري، په هغه باندې هيڅ بهرنی هيواد نه شي کولای چې د تېر په شان د افغانستان پر حکومت او ولس باندې خپلې غوښتنې تحميل کړي.

د نظامي دکتورينو په نظر، د يو ملک ته تر ټولو ستره بدنامي، د جګړې په ډګر کې ناکامي ده.

د امريکې جمهور رييس په خپله وينا کې چې د ۲۰۲۲ کال د جنوري په مياشت کې کانګرس ته واوروله: (افغانستان د امپراطوريو ګورستان دی موږ په دغه هيواد کې ماتې وخوړه او خپل عسکر مو ترې را و ايستل.)

دا ټکی په پام کې نيولو سره که چيرته بياهم کوم بهرنی هيواد داسې خيال پر سر ولري چې په افغانستان کې لاس وهنه وکړي، لومړی دې د خپلو بادارانو څخه وپوښتي چې افغان مېړنی ولس او د پردي يرغلګر پرضد د دوی کارنامې او حماسې ورته يادې کړي.

د افغانستان اسلامي امارت د دفاعي او امنيتي ځواکونو په درلودلو سره دا توان لري چې د خپلې خاورې او خپل مجاهد او مېړني ولس څخه دفاع او ساتنه وکړي.

ملي دفاع وزارت خپل مسؤليت په پوره ايمانداری او اخلاص سره سرته رسوي او د اسلامي ملي اردو په درلودلو سره د افغانستان د سرحداتو د ساتنې او په هيواد کې د لا زيات ډاډمن امنيت د ټينګولو په خاطر هيڅ چاته دا اجازه نه ورکوي چې د افغانستان په کورني مسايلو کې مداخلې وکړي.

**اداره**

موږ باور لرو چې د همغږي په پراخولو، ګډو هڅو او متقابلو همکاريو په ترڅ کې د اطلاع رسونې، عامه پوهاوی او پيغام رسونې د لا ښو برنامو په وړاندې کولو سره، وکولای شو چې د کره معلوماتو خاوند شو. څنګه چې په ټولنه کې بې له پوهاوي څخه هيڅ ډول ګډون تل پاتې نه وي.

# د افغانستان سلامي امارت د ملي دفاع وزير مولوي محمد یعقوب (مجاهد) سره ځانګـــړې مـــرکه

د افغانستان د دفاع وزير مولوي محمد يعقوب مجاهد حفظه الله ۱۴۰۲د هـ ل کال د جوزا میاشتې په ۲۴ مه نېټه د افغانستان د مشهورې داخلي رسنۍ طلوع نیوز سره ځانګړې مرکه وکړه، دا مرکه د طلوع نیوز په برنامو کې د مناظرې په نامه یادېږي، د مرکې په تالار کې د افغانستان یو شمېر سیاسي شنونکو، پوهانو او اولسي استازو ګډون کړی و.

یاده مرکه چې د طلوع نیوز د مشهور خبریال فریدالله محمدي په کوربتوب ترسره شوه د هغه ترځنګ یو شمېر نورو سیاسي شنونکو هم مستقیم له دفاع وزیر صاحب ځخه پوښتنې لرلې، که څه هم دا د افغانستان د اسلامي امارت د ملي دفاع وزیر لومړنۍ مرکه وه خو دا چې د اسلامي امارت له بیا ځلې حاکمیت وروسته د لومړني لوړپوړي چارواکي مرکه وه او مستقیم یې خپل ملت ته د هغوی د پوښتنو ځوابونه وویل له همدې امله یې نړیوال رسنیز پوښښ ترلاسه کړ او د هغو خلکو اندېښنې یې له منځه یوورې چې ګواکې د اسلامي امارت مشران خپل اولس ته د هغوی د پوښتنو ځواب نه وايي، همداراز د اسلامي امارت نورو مشرانو ته یې هم په دې برخه کې د خپل مسؤلیت اداء کولو ترغیب ورکړ او کنګل یې مات کړ.

د دفاع وزارت د اشتهاراتو او تبلیغاتو د تنظیم او انسجام مدیریت همدا مرکه په لیکلې بڼه د مهالنۍ مجلې له لارې تاسې سره شریکوي ترڅو خوندي هم شي او لوستونکي ګټه ترې واخلي.

## مرکه

محمدي- مجاهد صاحب ستړي مشئ وزیر صاحب: ښه راغلاست درته وایو ټولو راغلو میلمنو ته او ټولو اوریدونکو ته اسلام علیکم ورحمت الله و برکاته!

**پوښتنه**: وزیر صاحب پیل به لدې ځخه وکړو چې تاسو د اسلامي امارت د بنسټګر ملا محمد عمر مجاهد وارث یاست د کومې موخې لپاره چې دغې اسلامي امارت بنسټ ډېره کشیشوله ستاسو والد صاحب آیا په هغې تکل او په هغې طرف باندې اسلامي امارت روان دی؟

**ځواب**: نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد! بسم الله الرحمن الرحیم د کومې ورځې ځخه چې د افغانستان اسلامي امارت چې په ابتدا کې د طالبانو یا د طلباوو اسلامي تحریک وو او د بنسټ ډېره یې کشیشودل شول او ابتدا یې وشوه او دا مبارزه شروع شوه هغه ټول د همدې موخو د پاره وو چې کومو موخو ته موږ اوس رسیدلي یو.

**پوښتنه**: د بیلګې په توګه؟

**ځواب**: ابتدا د تحریک د شر او فساد د بې امنیو د خود سریو د هېواد د تجزیې همداسې هغه مشکلات چې تقریبا اکثره هېوادوال یا یې په سترګو لیدلي او یا یې اوریدلي ددې مشکلاتو سره افغانستان مخامخ وو ددغو مشکلاتو د له منځه وړلو لپاره تحریک پیل شو مبارزه روانه شوه قربانۍ ورکول شوې په نتیجه کې یې یو امنیت راغی اسلامي نظام حاکم شو هغه ګډوډۍ هغه مشکلات چې ټول ولس ور سره مخامخ وو هغه د منځه ځخه لاړ نو دا اوس هم چې موږ او تاسې وینو همغه مقصد او هماغه اهداف هغه تر سره شوي دي او هغه ته موږ رسیدلي یو چې هم الحمد لله په ټول هېواد کې سرتاسري امنیت دی او هم هر چا ته خپل حق رسیدلی دی عدالت تامین دی په یو واحده قومانده باندې یو مضبوط قوي نظام دی نو همدغه تقریبا د اسلامي تحریک د شروع کیدو اهداف وو او هغو اهدافو ته موږ رسیدلي یو.

**پوښتنه**: را به شو د مولوي محمد عمر مجاهد صاحب شخصیت ته که د هغه په اړه باندې په څو کلیماتو کې تاسو د هغه د وارث په صفت باندې راته تشریح کړئ او لیدونکي یې وګوري هغه به څه وي؟

**ځواب**: مرحوم امیر المؤمنین رحمه الله چې زموږ والد صاحب وو هغوی یقینا چې د افغانانو د پاره بلکې د ټولو مسلمانانو د پاره په دغه عصر کې چې ده وجود درلود یوازینی شخصیت وو چې د ټولو مسلمانانو بلکې د ټولو افغانانو هیلې ورسره را ژوندۍ شوې او د افغانستان هغه یقیني تجزیه چې د حالاتو په نتیجه کې زمینه ورته مساعده وه هغه د منځه څخه ولاړه او افغانستان همداسې یو موټی پاتې شو د قوم ژبې او سمت په نامه چې کومې ډلې او ټپلې جوړې شوې وې هغه ټولې له منځه څخه ولاړې او د دې د پاره یې بې انتها کوششونه وکړل زحمتونه یې وګالل د هغه د شخصیت په اړه کیدای شي ترما ډېر معلومات دده هغه ملګري چې د جهاد په وخت کې ورسره ملګري وو ببیا د تیر امارت د نظام په وخت کې ورسره ملګري وو هغوی به تر ما هم ډېر معلومات ولري خو په هر صورت هغوی پر ولس باندې یو مهربانه په ټولو مجاهدینو علماوو طلباوو باندې یو مهربان، حلیم، جهادي، او ملي شخصیت وو او د اسلام او وطن د پاره یې بې شمیره خدمتونه وکړل.

**پوښتنه**: څو کاله تاسو خپل والد صاحب ونه لیده؟

**ځواب**: تقریبا دیارلس کاله موږ ونه لیده.

**پوښتنه**: ولې؟

**ځواب**: په دې وجه چې هغوی په داسې یو حالت کې وو هغه ځای او هغه ساحه او منطقه ټولو ته معلومه ده په یونیم کیلو متر کې د امریکایانو لوی بیس او لویه اډه وه چې د جنوب په سطحه تقریبا همدا لویه اډه د امریکایانو وه په داسې یو ساحه کې دده اوسیدل او دده پټېدل دغو شرایطو دا نه ایجابوله چې دده سره په کور کې ووسیږي او ماشومان ووسیږي ځکه ببیا امکان نه وو د دې چې دی په دغسې حالت کې دلته د امریکایانو د دومره پراخ استخباراتي پوښښ سره محفوظ کړای شي.

**پوښتنه**: تېر شل کاله تاسو نظامي مسؤل تر ډېره وخته پورې پاتې شوې یاستې تیر شل کاله چیرې وې؟

**ځواب**: تیر شل کاله همدلته په هیواد کې وو تاسو شاهدان یاست چې په هماغه وخت کې کله چې زه مسؤل وم تقریبا د هیواد ۶۰٪، ۶۵٪ خاوره د افغانستان زموږ تر ولکې لاندې وه، په همدې ولایتو کې زابل، کندهار، هلمند، اروزګان، میدان وردګ، لوګر حتی تر جلال آباد پورې ما سفرونه کړي دي.

**پوښتنه**: څنګه توانیدلي وۍ یو عکس مو نه پیدا کیده دا پوښتنه نه درته پیدا کیږي کله کله چې مولوي یعقوب مجاهد څنګه توانیدلی وو چې حتی یو انځور یې هم نه راواته؟

**ځواب**: نو موږ کوشش دا کاه چې که چیرې انځورونه خپاره شي په هغه وخت کې موږ ببیا دا خدمت په داسې شکل باندې نشوای کولی ځکه چې په هر کلي هر ځای کې موږ داسې یو عادي ګرځیدلو مثلا یو موټر به راسره وو یا دوه کوچنې موټر به را سره وو هم د فضاء د لارې د تعقیب څخه مو ځان ساته هم د ځمکې د لارې نو کوشش مو ډېر په دې کې وو چې انځورونه ددې د پاره خپاره نشي تر څو موږ هغه کار او هغه خدمت چې کوو یې هغه ببیا ونکړای شو.

**پوښتنه**: شل کاله تاسو د امریکا په وړاندې د جګړې تاریخ لرئ دغه شل کاله اند و تفکر دادی چې جګړه په امکاناتو کیږي جګړه پر وسله کیږي دا د شل کالو وسله او جګړې امکانات مو له کومه کول؟

**ځواب**: اوله خبره خو دا ده چې په جګړه کې زموږ مصارف داسې مصارف نه وو لکه د نورو جنګونو مثلا موږ د زیږې بوشکې څخه

استفاده کوله چې هغه د امریکا په میلیونونو ډالرو یو ټانک یې یعنی مقابله یې ور سره کولی شوله.

**پوښتنه:** خو دا باروت یې پوښتنه پیدا کیږي چې له کومه مو کول؟

**ځواب:** باروت موږ خپله جوړول هغه کسان اوس هم دلته زموږ سره کار کوي زموږ سره را سره دي زموږ ملګري دي چې باروت موږ په خپله جوړول.

**پوښتنه:** یعني ټول هغه تجهیزات چې ستاسو په جګړه کې ترې استفاده کوله ستاسو خپل وو اما په تیرو شلو کلونو کې تاسو د پاکستان، ایران، روسې او چین په ملاتړ تورن وي؟

**ځواب:** دا خو هسې آوازې وې زه خپله د دې ټولې صحنې تقریبا دا اخیري پنځه کاله شپږ کاله مسؤل تقریبا تر ډېره حده پورې زه وم.

**پوښتنه:** تر تاسو ښه شاهد بل نشته؟

**ځواب:** هېڅ نظامي مرسته له دغو هېوادونو څخه چې تاسې یې نومونه یاد کړل یا د نورو هېواونو څخه موږ نده تر لاسه کړې حتی یو کلاشینکوف هم موږ ته د دوې لخوا څخه ندی رسیدلی او نه کومه مرسته موږ د دوی د خوا څخه نه مالي نه بله مرسته دا فقط داسې وه زموږ په مقابل کې تبلیغات وو چې کیدل او زموږ د بدنامی او کوشش وو چې کیدل نور په عمل کې دا څه وجود نه درلودل.

**پوښتنه:** که هماغه زیږې بوشکې ته راشو مواد ورته اړتیا وه دغه مواد له کومه کیدل؟

**ځواب:** دا عادي مواد وو مثلا داسې تخنیکاران به بیا که چیرې دلته نه وي وروسته کیدلی شي چې تاسې بیا تشریح ور څخه وغواړئ دغه مواد چې موږ تاسې په هېواد کې عام استعمالیږي د همدغو څخه دا باروت جوړیدل یعنی داسې مواد نه پکې استعمالیدل چې هغه نقلول او وړلو او راوړلو باندې بندیز ولګیږي تر څو د یوه ځای څخه بل ځای ته په همدې سړکانو په دغو ځایو باندې د یوه ولایت څخه بل ولایت ته انتقالیدل.

**پوښتنه:** بل اړخ ته به راشو پدې شل کلن مزل کې حتما لوړې ژورې وې داسې تصور مو کاوه چې یوه ورځ به راځي بیا به حکومت ستا په لاس کې وي؟

**ځواب:** دا امید را سره وو خو دا چې په داسې شکل باندې چې اوس موږ دې هدف ته ورسیدلو فکر مو نه کاوه نو په مخکې مو ډېرې ناخوالې لیدلې او ډېر ور ته فکرمند وو چې څنګه به کیږي خو هغه الحمدالله بې له کوم جنګه په دا اخري وختو کې بې له کومو مشکلاتو څخه د ښارونو د تخریب څخه چې دې ته به موږ ډېر زیات اندیښنې وو، دا هدف تر لاسه شو.

**پوښتنه:** علت یې څه وو تاسو تصور نه کاوه چې داسې وشي اما بدون له جګړې څخه مو تاسو ښارونه ونیول په لس ورځو کې تقریبا د افغانستان ګڼې برخې تاسو ونیولې دلیل او علت څه وو؟

**ځواب:** علت دا وو چې دلته د تیر نظام ساتنه مکمل د امریکایانو د خوا څخه کیدله کله چې امریکایانو په اصطلاح لاس ایله کړ نو اداري خود به خوده سقوط کاو نور دا توان په دوې کې نه وو نه د جنګ انرژي وه نه قومانده وه نه ژمنتیا وه نه مخکې داسې یو هدف ورته پروت وو چې د هغه د پاره دوي ځانونه قربان کړي.

**پوښتنه:** د دې سره بل اړخ ته فکر دادی چې په دوحه کې مذاکرات روان وو تاسو له امریکایانو سره هوکړه وکړه نور مو افغان حکومت د خبرو ور نه باله ځکه مو جګړې ته مخه کړه موافق یې ددې اند سره؟

**ځواب:** موږ په ټوله مذاکراتي پروسه کې مذاکرات پر دوه بعده یا پر دوو حیصو باندې ویشلي وو یو د خارجیانو سره مذاکرات وو یو بین الافغاني مذاکرات وو زموږ موقف دا وو تر څو چې د خارجیانو سره مذاکرات نه وي شوي د خارجي اشغال په شتون کې افغانان نشي

کولای چې یوې نتیجې ته ورسیږي.

**پوښتنه**: ولې دا فکر در سره پیدا شو؟

**ځواب**: دا تاریخ ثابته کړې ده او په دې کې عملاً موږ ته معلومیدل چې ټول واک او ټول اختیار که خارجي پالیسې وه او که داخلي، دا د خارجیانو سره وه. نو تر څو چې د هغه چا سره چې مقتدر دي او کار یې په لاس کې دی هو او نه کولای شي، د هغوی سره خبره ونشي، مذاکرات ونشي او د هغوی سره سرې یو نتیجې ته ونه رسیږي نو د بل چا سره هسې مذاکرات یا وخت تیرول فکر کوم دا د وخت ضایع کیدل وو.

**پوښتنه**: د دوحې په تړون کې د اسلامي امارت د یوه لوړ پوړي چارواکي په صفت راته ووایاستئ پټ څه شته؟

**ځواب**: هېڅ کوم پټ څه وجود نه لري همدا توافقنامه وه چې وشوه توافقنامې سره بعضې مکانیزمونه وو د همدې توافقنامې د عملي کیدو د پاره مثلا ضمایم دا وو چې خارجیان د یو اړخ څخه وځي تر هغه وخته چې دوی مثلا ددې ځای څخه وځي هغه ځای ته رسیږي په لاره کې به خنډ نه ورته جوړیږي په لاره کې به دوې نه راګرځول کیږي د مثال په ډول او یا داسې وو چې مثلا د اور کم او اوربند دا کیسې په هغه وخت کې ډېرې وې په لویو مراکزو باندې به حمله نه کیږي تر څو مذاکراتو ته تاوان ونه رسوي او همداسې دې ته ورته نور هغه تفصیلي شیان ټول شته وجود لري یوه نقطه هم پټه وجود نلري دا هسې یو تبلیغات دي زما په نظر دا هم د امریکایانو په دې کې کوشش دی او هڅه ده چې هم ولس پر موږ باندې بې اعتماده کړي او شکمن کړي او ځیني هغه هېوادونه چې د دوې سیالان دي هغوی ته دا وښایې چې داسې څه پټ وجود لري.

**پوښتنه**: د دې موخه څه ده چې خلک دا خبرې کوي چې پټ څه شته ضمایم شته ولې دا خلک دغه موخې څه دي چې پدې پسې اخته دي دا مسله بار بار راپورته کوي د اسلامي امارت د واکمنۍ وروسته به تاسې لیدلي وي هره ورځ دا ډنډوره غږیږي؟

**ځواب**: همدا ما وویل چې دا ډنډوره ددې د پاره کوي تر څو خپل سیمه ییز رقابتونه وساتي یا یې ددې د لارې تامین کړي او یا داسې وي چې ولس یوه اندازه پدې کې شکمن او بې اعتماده کړي.

**پوښتنه**: دا کار څوک کوي؟

**ځواب**: دا کار په رأس کې امریکا ده نور ملګري هېوادونه یې ټول یا هغه کسان چې پدې فکر کې دي دا کوشش کوي.

**پوښتنه**: هدف یې ستاسو په اند باندې د اسلامي امارت ناکامي ده که کوم بل هدف لري؟

**ځواب**: غالباً نو بې اعتمادي، شکوک او شبهات پیدا کول دا هم د ناکامۍ لورې ته یو ګام دی.

**پوښتنه**: د اسلامي امارت او د خلکو تر منځ؟

**ځواب**: اسلامي امارت او د خلکو تر منځ او د اسلامي امارت او نورو هېوادنو تر منځ.

**پوښتنه**: په تیرو شلو میاشتو کې په ځلونو باندې امریکا تاسو او تاسو امریکا د دوحې په توافقنامې یا هوکړې په نقص کولو باندې تورن کړي یاست اصلي مسله څه ده؟

**ځواب**: توافقنامه په هغه وخت کې په مطبوعاتو کې نشر شوېده کولی شي هر هېوادوال چې ویې ګوري او مطالعه یې کړي او بیا دا ورته معلومیږي او جوتیږي چې د توافقنامې څخه سرغړونه چا کړېده په هماغه وخت کې چې توافقنامه امضاء شوې وه یعنی ددې وخت ټاکل شوي وو په دومره وخت کې هلته هم دوی سرغړونې کولې په سلهاوو سرغړونې دوی کړي دي خو بیا هم موږ د هېواد د ملي منافعو په خاطر په بعضو ځایونو کې د برداشت څخه کار اخیستی.

**پوښتنه**: درې مثاله زه ددې توافقنامې درته وړاندې کوم وزیر صاحب لومړی ټول ګڼونه یا د افغانانو تر منځ حکومت د دې توافقنامې یوه برخه ده دوهم د افغانستان خاوره د ترهګرۍ پر وړاندې یا نړۍ ته د ګواښ نه پیښیدو او بله مسله مهمه چې وه هغه حقونه دي دغه نړۍ اوس هم پر تاسې باندې نیوکه لري؟

**ځواب**: په توافقنامه کې د حقونو په نامه زما په فکر باندې بشر حقونه داسې څه وجود نلري اما د افغانستان خاوره د خارجیانو او د نورو هیوادونو په خلاف د نه استعمال په باب موږ په توافقنامه کې دا ژمنه کړې ده بیا مو هم کړې ده اوس یې هم کوو او دا مو دریځ هم دی چې هیڅ کومې ډلې ټپلې یا شخص ته موږ اجازه نه ورکوو چې د افغانستان خاوره د بل چا په ضرر باندې استعمال کړي.

**پوښتنه**: اما همدغه نړیوال وایې چې دلته لسګونه ترهګرې ډلې دي او اسلامي امارت ورسره اړیکه لري وروستی تازه راپور د ملګرو ملتونو سازمان به تاسې اوریدلی وي القاعده او ټي ټي پي یاد کړي دي؟

**ځواب**: دا خو هسې تبلیغات دي چې کیږي زما په فکر که دوې چیرې داسې ډلې ټپلې شمار کړي چې یو دوه درې کومې ډلې ټپلې دي چې دوي یادوي دا پخوا دا ډنډورې غږیدلې چې په افغانستان کې شل ډلې دي ددې د پاره چې زموږ مبارزه تر پوښتنه لاندې راولي او مذاکرات او دا هرڅه ناکامه کړي تر څو دا وښایي چې که چیرې د طالبانو یا د اسلامي امارت سره مذاکرات کیږي بیا همدلته ډیری ډلې ټپلې وجود لري چې جګړه به روانه وي خو دا دې هیوادوالو ټولې دنیا ته معلومه شوه چې هغه ډلې ټپلې څه شوې؟

**پوښتنه**: مجاهد صاحب څنګه کابل ته راغلئ یعنی هدف مو د تحولاتو ورځ ده که دغه بیان داسې لنډ راته قیصه کړې څنګه راغلئ قوماندہ ستاسو په غاړه باندې وه دغه برخه کې که راته معلومات را کړئ؟

**ځواب**: کله چې اول ځل د نیمروز ولایت نیول کیده تر دغه وخته پورې امیرالمؤمنین صاحب موږ ته د ولایتونو د نیولو اجازه نه راکوله په همدې خاطر چې مشکلات ستونزې ایجاد نشي ولس په تکلیف نشي په لومړۍ درجه کې په اول قدم کې په هلمند کې جنګ شروع وو چې په هغه وخت کې هم موږ د ولایت د نیولو اراده نه درلوده فقط په هغه وخت کې زما سره د هغه وخت والي چې اوس هم د ولایت مسؤل دی طالب مولوي صاحب هغوی را سره په رابطه کې وو نو دوی ویل چې محبس ته موږ ډیر نږدې یو موږ به یو هڅه وکړو چې محبس څخه دا بندیان ازاد کړو نو بیا ما اجازه ورکړه چې فقط تاسې بندیانو د آزادولو د پاره کوشش وکړې خو نور د ولایت د نیولو هڅه به نه کوې خو به هر صورت هلته د امریکایانو ناټو د ټولو خارجیانو د خوا څخه توجه زیاته شوله چې هغه کار هم تقریبا ونشو او هلته جنګ شروع شو او د نیمروز ولایت کله چې زما سره مسؤلینو تماس ونیو و چې یعنی ډیر ولایتو دا هڅه کوله تماسونه یې بیخي ډیر نیول چې موږ ډیر نږدې یو یعنی ډیر په اسانۍ سره کولای شو چې ولایت ونیسو خو زموږ له خوا اجازه نه ورته کیدله په نمیروز کې داسې وشولو چې ماسره حال ونیول شو تماس ونیول شو چې دې ولایت سقوط کړی دی.

خلک ټول وتلي دي موږ فقط دومره ویلي وو، چې تاسې دولایتو څنډو ته شاوخوا اطرافو ته ځانونه نږدې کړې همدلته ووسیږئ دغو ساحو کې چې مجاهدین نږدې شوي وو دلته ددوی سره تشویش پیدا شوی و، ټول ایران ته اوښتي وو، ټانګان، وسائط، وسائل، اسلحې دایې ټول له ځان سره انتقال کړي و، نو بیا موږ ته وویل شو، چې ساحه خالي ده کوم څوک وجود نه لري په دې شرط مو اجازه ورکړله، چې تاسې مخ ته ځئ که چیرې یو ځای هم کوم نظامي په مخ کې درته ودریږ نور مخته مه ځئ خو په هر صورت موږ تر ولایت پورې ورسیدو هیڅوک مخې ته ونه دریدل بلاخره ولایت ونیول شو همداسې دا نورو ولایاتو سقوط په دغسې شکل باندې راشروع شو نو کله چې کابل ته خبره نږدې شوه چې نور ولایتونه تقریبا تر ډیره حده پورې راخلاصول، نیول شوي و، نو زموږ دریځ دا وه، چې په هغه وخت کې زه او مجاهد صیب نور ملګري سره په تماس کې و، ذبیح الله مجاهد صیب اعلامیه ترتیب کړه اعلامیه موږ نشر کړه، چې موږ کابل ته په زور،

او په جنگ باندې دننوتلو اراده نه لرو، نو مجاهدين مو شاوخوا تم کړل چې تاسو پر اطرافو باندې واوسېږئ ترڅو يو تصميم د کابل د نيولو ونيول شي. بلآخره چې مثلا زمونږ ته د قطر د لارې هم امريکايانو هم تېرې ادارې کوشش کاوه چې هلته يو تفاهم، يو څه د کابل په تسليمۍ کې وشي مونږ په دې اړه فکر کاوه ترڅو يو تصميم ونيسو خو دلته هم همداسې وشول، چې مونږ ته معلومات راتلل تر اعلامې خپرېدو وروسته، مجاهدينو تر درېدلو وروسته مونږ ورته وويل چې تاسو مخته مه ځئ چې د کابل څخه د حکومت لوی چارواکي هغوی وتلي دي، تللي دي، د وتو په حالت کې دي، خپله اشرف غني هم وتلی دی په دې وخت کې يعنې اشرف غني د کابل د ولايت څخه سهار وتلی و، مونږ ماښام فيصله وکړه، چې مونږ کابل ته داخليږو هغه تللی و، هغه تقريبا سهار يا غرمه داسې وختو کې تللی و، مونږ مازيگر، ماښام کابل ته داخل شولو.

**پوښتنه**: تاسو څه وخت معلومات تر لاسه کړل، چې ولس مشر غني تللی دی؟

**ځواب**: ماښام شاوخوا به وه داسې دقيق وخت مې نه په يادکېږي نو په هغه وخت کې بيا مونږ ته راپورونه راغلل، ولس غوښتنه کوله بعضو مشرانو دلته چې په کابل کې اوسېدل غوښتنه کوله چې چور تالان شروع دی.

**پوښتنه**: کرزي صيب په هغې مشرانو کې شامل وه؟

**ځواب**: نه د کرزي صيب څه خبره ماته نه ده رسېدلې.

**پوښتنه**: هغه وويل چې ماورته وويل چې راشئ راننوځئ چې کابل کې چور ونه شي ځکه ما يادونه وکړه؟

**ځواب**: ماته يې نه دي ويلي کېداشي نورو مشرانو ته يې خبره شوې وي نو په دغسې حالت کې زه هم په کندهار کې وم بيا دکندهاره څخه په هماغه شپه باندې راروان شوم.

**پوښتنه**: چېرې وې چې دغه قوماندې مو ورکولې؟

**ځواب**: په کندهار کې وم داوخت کندهار نيول شوی وه يو څو ورځې مخکې.

**پوښتنه**: اوس به راشو دې ته چې پوره دوه ويشت مياشتې داسلامي امارت دواکمنۍ تېرېږي څه ډول يې ارزيابي کوې؟

**ځواب**: شه يې ارزيابي کوم او امېد ده نور به پرمختګ هم ولرو او کوم پرمختګونه چې اوس شوي دي کومې لاسته راړونې چې اسلامي امارت اوس يې لري فکر نه کوم چې په تېرو شلو کلونو کې دې په دا بعضو مواردو کې خو بيخي يوقدم هم اخيستل شوی وي، په مختلفو برخو، د مخدره موادو دمخنيوي په برخه کې او پاتې شو امنيت، ټولو ته معلوم دی چې په کومه کچه باندې راغلی دی او اقتصادي حالت هم الحمدلله سره د دومره بنديزونو، سره د دومره مشکلاتو ښه مخته روان دی. بودجه دا دوهم کال دی چې مونږ د داخلي عوايدو څخه تصويبوو، همداسې نور پرمختګونه د پوځ په برخه کې داپرمختګ شوی دی الحمدلله اردو تقريبا جوړه ده، پوليس الحمدلله منظم شوي دي جوړ شوي دي، استخباراتي قوت الحمدلله فعال دی چې دپټو دښمنانو مخه يې نيولې ده. نور په هره برخه کې يې الحمدلله ډېر پرمختګ شوی دی، چې د قوشتېپې دکانال په څېر چې په هغوی باندې کار شروع شوی دی، زما په فکر باندې په دوه کاله کې مونږ ډېر پرمختګ کړی.

**پوښتنه**: که د پوهنتون ديو استاد په صفت نمرې ورکړې، په تېرو دوه ويشت مياشتو کې اسلامي امارت ته به څومره نمرې ورکړې ؟

**ځواب**: نو د پوهنتون يو استاد که خپل ځان ته نمرې ورکوي کېداشي چې سل نمرې ورکړي.

**پوښتنه**: که د دفاع وزارت د سرپرست په توګه باندې نمرې ورکړې، اسلامي امارت ته به څو نمرې ورکړئ؟

**جواب**: نه نمرې بايد هغه څوک يا ولس راکړي، يا دريمګړی څوک مونږ ته نمرې راکړي اوس که زه نمرې ورکوم خپل ځان ته به نمرې

ورکوم او طبعا خپل ځان ته سړی تر سلو کمې نمرې نه ورکوي.

**پوښتنه:** راضي یې؟

**ځواب:** راضي یم.

**پوښتنه:** د نړۍ هیڅ هیواد په رسمیت نه یې پېژندلي، دوه ویشت میاشتې کیږي، راضي یې؟

**ځواب:** نه د دې څخه خو نه یم راضي چې هیڅ هیواد په رسمیت نه یو پېژندلي باید ومو پېژني موږ غوښتنه هم کړې ده اوهغه شرائط چې رسمیت د پېژندلو د پاره دې، نړیوال یې وړاندې کوي، فکر نه کوم چې هغه کې نیمګړتیا وجود ولري په هر صورت دوی د خپلو موخو د ترلاسه کولو د پاره یا د خپلو غوښتنو دمنلو د پاره دا فشار اچوي پر موږ باندې چې موږ به هیڅ کله هم داسلامي او ملي منافعو پرخلاف چاته تسلیم نشو.

**پوښتنه:** که همدې غوښتنو ته راشو د دنیا ته، دنیا څه له تاسو غواړي؟

**ځواب:** دنیا هغه څه غواړي چې په بعضو مواردو کې موږ شرعا نشو کولی.

**پوښتنه:** دبیلګې په توګه؟

**ځواب**: د بیلګې په توګه داسې آزادي چې هغه نه اسلام ایجاب وي، نه یې شریعت ایجابه وي او نه یې زموږ او ستاسې ملي منافع ایجابه وي همداسې په نورو برخو کې د دوی اقتصاد مثلا د دوی په خوښه باندې عیار شي مثلا دې ته ورته نور څه.

**پوښتنه:** مجاهد صیب! تاسو د نړۍ غوښتنو ته اشاره وکړه، آزادي ته مو اشاره وکړه، ظاهراً راپوروښه ګڼو رسنیو څخه خپریږي د دنیاوالو داسې غوښتنې د آزادۍ په اړه باندې شاید نه وي کړې دغه غوښتنې فکر کوئ پټو مجالسو کې له تاسو غوښتل شوې دي. ظاهراً ټول ګډونه حکومت یادوي، ظاهراً دوی د نړۍ سره تعامل یادوي، ظاهراً دوی د ښځو حقونه یادوي، د ښځو زدکړې یادوي، د آزادۍ مسئله له تاسو سره په شخصي مجالسو کې، که پټو مجالسو کې، یادیږي؟

**ځواب**: همدا شیان دي چې تاسو اشاره ورته وکړه په دې کې موږ غواړو چې خپلو شرائطو مطابق خپل شرائط موږ له ځانه نه دي جوړ کړي هغه شرائط چې زموږ عقیده یې ایجابه وي او اسلامي شریعت موږ په هغه شرائطو او په هغه کړۍ کې رامحدود کړي یو او یا زموږ ملي منافع یې ایجابه وي او ملي منافع دا اجازه نه راکوي چې دهغو څخه موږ قدم واړه وو، پټه کومه غوښتنه وجود نه لري.

**پوښتنه:** همدغه غوښتنې چې ما څلور یادې کړې کوم یو یې ستاسو پر اند باندې داسلامي مقدس دین سره یا نبوي ارشاداتو سره په ټکر کې دي؟

**ځواب:** ته یې یادونه وکړه د یوه یوه.

**پوښتنه:** د بېلګې په توګه ټول ګډونه حکومت؟

**ځواب:** ټول ګډونه حکومت، ټول ګډونه تعریف دوی یې یو قسم تعریفوي موږ یې بل قسم تعریفوو.

**پوښتنه:** د دوی تعریف څه دی ستاسو تعریف څه دی؟

**ځواب**: د دوی تعریف دا دی چې د دوی په خوښه حکومت جوړشي. مثلاً د دوی په فرمایشاتو، فلان باید وزیر وي، فلان باید رئیس وي، فلان باید والي وي، فلان باید قومندان وي، په مجموع کې زموږ د مذاکراتو په جریان کې هم هڅه دا وه، کوشش مو دا وه، او دریغ مو دا وه، چې په داخلي مسائلو کې موږ خارجیانوته دخل نه ورکوو، دا چې ستاسو د حکومت ډول باید څنګه وي، په څنګه شکل باید وي، څوک باید په حکومت کې وي، څوک باید په حکومت کې نه وي، تعلیم سلسله دې باید څنګه وي او همداسې د بیان د آزادۍ په هکله

باید ته ځنګه رفتار وکړي. زموږ پالیسي په مجموع کې د وخته څخه دا پاته شوې ده چې دا باید افغانان پخپله په دې اړه تصمیم ونیسي.

**پوښتنه:** ټول ګډونه حکومت ته ستاسو تعریف څه دی؟

**ځواب:** له ټول ګډونه حکومت نه زموږ تعریف دا دی چې په هغه کې د ټول افغان ولس، خلک په کې وي.

**پوښتنه:** کوم خلک د تحریک غړي که له تحریک څخه د باندې؟

**ځواب:** تحریک او د تحریک څخه د باندې.

**پوښتنه**: په ټولو وزیرانو کې راوښیئ بغیر له تحریک څخه د باندې وزیر صیب، شاید یو وزیر د تجارت او سوداګرۍ موجود وي له هغې پرته راته ووایاستئ؟

**ځواب:** موږ هڅه کړې ده، کوشش مو کړی دی، کېدلی شي ابتدایي حالات یي ټول وخت انقلابونه داسې وي چې په ابتدایي حالاتو کې که وېش په ګډ کې بیا ګډوډي راځي نو که چېرې موږ ته وخت راکړل شي نو دوام پیدا کوو، زه په دې امېد باندې یم، په دې عقیده باندې یم، چې باید په دې کې یو تنوع راشي.

**پوښتنه**: څه ډول تنوع؟

**ځواب:** په هغه برخو کې چې مسلکیتوب وجود ولري هلته باید هغسې کسان چې هغه کار په ښه طریقه مخته وړلی شي.

**پوښتنه**: یعنې مسلکي کسان د امارت یا د تحریک طالبان د افغانستان له دائرې نه د باندې؟

**ځواب:** په مجموع کې زما نظر دا دی چې یا امارت، یا تحریک، یا ولس، دا ټول باید یو کړو. او داسې یو انځور وړاندې کړو چې په افغانستان کې د افغانستان ولس دی او بس.

**پوښتنه**: د دې لپاره کار شوی؟

**ځواب:** د دې لپاره به کېداشي ځینو برخو کې کار شوی وي او روان به وي هڅې به کیږي خو زما په فکر باندې کفایت نه کوي زما خپله نظر دا دی چې په دې کې مطبوعات خپل رول ادا کړي، پوځ او اردو خپل رول اداکړي، پولیس خپل رول ادا کړي، مدرسه او پوهنتون خپل رول ادا کړي، همداسې نور هغه شخصیتونه یا هغه ټولنې یا هغه قومونه چې په ولس کې منل شوي وي هغه باید په دې کې د خپل مسؤلیت په اندازه یعنې د خپل استعداد په اندازه دوی کوښښ او هڅه وکړي او دې ته کار وکړي، تر څو دا مختلف نومونه د افغانستان څخه ورک شي.

**پوښتنه**: مجاهد صیب! افغان ولس له لسیزو جګړو ستړی دی، سوله یې هیله وه او سوله یې هیله ده فکر کوې څومره مو دغه هیله پوره شوې ده.

**ځواب:** الحمدلله اوس خو په سل کې سل فیصده د افغانستان ولس په امن کې دی. جنګ، جګړې، چاپې، بمبارد، ستونزې، مشکلات نشته یوازې یوه اندازه اقتصادي ستونزې به وي. الله تعالی ته امېد لرو چې هغه به هم حل شي په امنیتي لحاظ موږ کوم داسې جدي ستونزې نه لرو چې پر هغه باندې حساب وشي.

**پوښتنه**: تاسو یو وخت په خپلو خبرو کې ویلي و، چې د افغانستان هوایي حریم اشغال ده، ذبیح الله مجاهد صیب هم دا خبره کړې وه. سوله د هوایي حریم د اشغال په وخت کې بشپړه ده؟

**ځواب:** هوایي حریم نقض دی، اشغال دی اوس هم.

**پوښتنه**: د چا له خوا؟

**ځواب:** د امریکایانو له خوا.

**پوښتنه:** د کوم ځای څخه راځي؟

**ځواب:** تېر ځل ما په دې اړه وضاحت کړی و، نه غواړم بیا نانډرۍ راپیدا شي، د هغوی هیوادونو سره تعلقات خراب شي په دې اړه، ماتېر وار وضاحت کړی و هماغه کفایت کوي، غوښتنه مو دا ده بار بار د دوی سره په مجالسو کې موږ دا غوښتنه کړې ده د مطبوعاتو د لارې مو هم کړې ده یعنې د هرې لارې چې دوی باید د دې کاره څخه لاس واخلي، چې دا ښکاره د دوحې د توافق څخه نقض دی. هلته دا په واضحو ټکو لیکل شوي دي چې دافغانستان پر حریم به هم څوک تجاوز نه کوي دا د دوحې د توافق نامې عمده ټکي دي خو دوی هغه په نظرکې ندی نیولی.

**پوښتنه:** مجاهد صیب! تاسو وویل چې که هغه ته اشاره وکړم، اړیکې به مو خرابې شي یعنې اوس مو اړیکې ورسره جوړې دي؟

**ځواب:** نو ډېرې باید اړیکې خرابې نه شي.

**پوښتنه:** په همدې وضعیت یې پرېږدو؟

**ځواب:** زما په فکر زما نظر دا دی چې موږ باید د افغانستان ملي منافع په نظر کې ونیسو، چېرې چې نرم دریځ ګټه کوي هلته باید د نرم دریځ خپل کړو، چېرې چې سخت دریځ ګټه کوله، هلته باید سخت دریځ خپل کړو، چېرې چې مذاکرات، اصول، جرګې ګټه کوله، هلته باید د هغه څخه کار واخلو که چېرې د دغو ټولو څخه خبره اوړي، بیا باید د زور او ټوپک څخه کار واخلو.

**پوښتنه** : اوس به راشو د اسلامي امارت په بیا واکمنېدو سره، عفوه هغه مسئله ده چې د اسلامي امارت د رهبر له خوا څخه اعلان شوه دغه عفوه د چا لپاره وه؟

**ځواب:** دا عفوه د هر هغه چا لپاره وه، چې شل کاله موږ او هغوی په جنګ کې واقع و، یو دبل سره په مقابله کې واقع و، او هر نوعه مقابله مو یو بل سره کوله نو عفوه د دې لپاره وشوه تر څو نور د افغانستان څخه د جنګ، د مشکلاتو، د ستونزو، او د دغه دربدریو ور بند شي او په افغانستان کې یو امن، امنیت، سوکالي، خوشحالي راشي او هرڅوک په خپل کور کې د خپلو بچیو سره خوشحاله زندګي وکړي او هیڅوک دې ته اړ نه کړای شي تر څو یا په مقابله، یا د ځان د دفاع په وخت کې مثلا یو مقاومت وکړي او یا مثلا دې ته مجبور نه کړای شي چې یوځل بیا په افغانستان کې په یوه بله طریقه باندې مشکلات او ستونزې ایجاد کړي او د جنګ لمن پراخه شي او افغانستان ته دغه راغلی، امنیت او سوله له منځه څخه یوسي.

**پوښتنه:** مجاهد صیب! څومره په دې عفوې په فرمان باندې عمل شوی دی؟

**ځواب:** زما په فکر څومره چې زه معلومات لرم او څومره چې زه په دې اړه مې کوشش کړی دی چې ځان ته معلومات وکړم په سلو کې سل فیصده شوی دی.

**پوښتنه:** دا نقد د دوه راپوررونو مو نه دی اورېدلی؟

**ځواب:** بلکل په دې اړه باید یو وضاحت وکړو چې عفوه چې شوې ده د نظام په سطحه شوې ده او نظام په رسمي شکل د اعلی څه تر ادنا هیڅ یو فرد دغه عفوه نه ده ماته کړې او د دې د مشرتابه د دغه حکم څخه یې سرغړونه نه ده کړې. کېدای شي په بعضو ساحو کې شخصي، انفرادي عقده یې چلند شوی وي.

**پوښتنه:** دا منئ؟

**ځواب:** دا منو دا کېداشي شوي وي.

**پوښتنه**: بل خواته به راشو د اسلامي امارت په اړه باندې یو خبره چې کیږي د ننه مخالفتونه، ډلې، درځونه، ځواب مو څه دی؟

**ځواب**: زه دا په کلکه باندې ردوم زموږ په خلاف، یا د اسلامي امارت په خلاف د وخته څخه دا هڅې او کوششونه کیږي دا به بیا هم کیږي اینده به هم په دې اړه همداسې خبرونه نشریږي ماته پخپله چې په دې نظام کې ډېر معلومات لرو او د ډېره وخته څخه مو کار او خدمت کړی دی، هیڅ کوم دریځ، هیڅ کوم مخالفت، یا مقابله، یا بل داسې څه چې هغه د نظام په تاوان وي، وجود نه لري دا یوازې او یوازې د نظام په خلاف د تبلیغاتو یو لړۍ ده.

**پوښتنه**: بله برخه چې لومړی راڅرګند شوې، د یو جنرال سره ناست وئ، راز یې څه و؟

**ځواب**: حقیقت به وایو.

**پوښتنه**: نو طبعاً ملت خو حقیقت درڅخه اوري؟

**ځواب**: دا ډاکټر ولي احمدزی نومیږي، چارصدو بستر، یا سردار محمد داودخان روغتون کې اوس برحاله ډاکټر دی، او هم په هماغه یونیفورم کې.

**پوښتنه**: هماغسې ږیره هم کله وي؟

**ځواب**: بلکل په هماغسې شکل اوس هم دی. کله چې زه هلته ولاړم نو په هغه وخت کې یعنې ماته دا معلومات نه و چې دلته دا غونډه مطبوعاتي غونډه ده په دې اړه ما معلومات نه درلودل کله چې زه هلته ولاړم نو تر دغه وخته پورې زموږ تصویرونه بهر راوتلي نه و، نو تصادفاً مخ شولم د مطبوعاتو سره او کله چې کومه چوکۍ زما لپاره انتخاب شوې وه هلته کښېناستم ډاکټر صیب هم تصادفاً زما څنګ ته کښېناست یعنې داسې یو جوړ شوی پلان شوی شی نه وه.

**پوښتنه**: حتی مطبوعاتي کنفرانس هم په دغې ورځ باندې و، ویډیو وې، رسنۍ وې؟

**ځواب**: بلکل ماته داسې معلومات راکول شوي وه چې د ډاکټرانو سره غونډه ده نو تصادفاً داسې یو څه پېښ شو.

**پوښتنه**: ور ودې کتل، څنګ ته؟

**ځواب**: ولې نه اوس هم رابطه ورسره لرو هم دلې برحاله ډاکټری سره سره مسؤلیت هم لري.

**پوښتنه**: یو بل شی چې تر دې مخکې مې باید پوښتلي وای، هغه دا دی چې نړۍ بشري حقونه د ځان لپاره سرې کرښې بولي او تاسو ورڅخه په نقض تورنه وي. د بېلګې په توګه په پنجشېر کې ستاسو ځواکونه په وژنو باندې تورنه وي، د بشري حقونو په نقض مو تورنه وي، شاید تاسو په هغه وخت کې سپیناوی کړی وي، اما اوس بیا هم ملت غواړي وایې وري؟

**ځواب**: زما په فکر که چېرې دوی بېلګې وښيي، مثالونه پیش کړي، شواهد راوړي، چې چېرې دانقض شوی دی، چېرې یو داسې څه شوي دي په پنجشېر کې، چېرې شوي دي، څه وخت شوي دي، څنګه شوي دي، په څنګه شکل شوي دي، چاسره شوي دي، دا یوازې او یوازې دوی د هغه غلطو راپورونو او افواهاتو، یا مثلا تبلیغاتو پر بنیاد باندې دوی داسې یو څه جوړوي او بیا یې نشر کوي. زموږ هیله، غوښتنه همدا ده چې کوم څه نشر کیږي هغه باید د دوی د یو معتبر نهاد په حیث باید دوی بې طرفي حفظ کړي او بل د یو مؤثقو معلوماتو پر بنیاد باندې راپور جوړ کړي او نشر یې کړي. زما په فکر باندې په دې کې هیڅ واقعیت وجود نه لري او نه موږ دا څه غواړو او نه یې کوو.

**پوښتنه**: مخکې تاسو ټولګیونه ته اشاره وکړه وای، د دې لپاره هڅې رواني دي. رابه شو ستاسو وزارت ته، په دفاع وزارت کې څومره پخواني کار کوونکي اوس درسره دي، اردو مو څومره ده او څومره غواړئ جوړه کړئ؟

**ځواب**: د فعلاً لپاره خو اردو یولک پنځوس زره شاوخوا ده. موږ یې په تنظیم او ترتیب باندې اخته یو، تر ډېره حده پورې یعنې وجود خو لري، اردو موجوده ده، خو صرف هغه تخنیکې برخه کې موږ د ښه منظم کولو په هڅه لګیایو او کار کوونکي موږ سره شته. زما په خپل دفتر کې شته، د لوی درستیز صیب په دفتر کې شته، په ټول دفاع وزارت کې که چېرې داسې وي چې تاسې د وزارت دفاع له قصر څخه دننه لیدنه وکړئ هلته بیخي ډېر کسان وجود لري، مسلکي کسان دي او خپلو کارو باندې بوخت دي، هیڅ کومه ستونزه نده جوړه شوې.

**پوښتنه**: یعنې له وزارت دفاع د تېر حکومت د کارکوونکي په نوم باندې څوک نه دي استل شوي؟

**ځواب**: هیڅ یو کس نه دی استل شوی.

**پوښتنه**: یولک پنځوس زره اردو مصارف غواړي، لګښت غواړي، پیسې غواړي، په تېر کې بهرنیانو ورکول، اوس دا لګښت له کومه کیږي؟

**ځواب**: په تېر کې خو جنګونه وه، طبعاً جنګ ډېر زیات مصارف کوي اوس الحمدلله امنیت راغلی دی، سوله ده، کومه جدي امنیتي ستونزه موږ نه لرو، یوازې او یوازې د پوځ په روزنه، نظم، او ترتیب باندې په دې باندې دومره ډېر مصارف نه راځي چې هغه نورو مرستو ته موږ اړتیا په کې ولرو په همدې بودجه کې د امارت یا حکومت د خوا څخه چې اعلانیږي، وزارت دفاع ته هم بودجه ورکول کیږي په هماغه بودجه باندې موږ کار کوو.

**پوښتنه**: رابه شو دې ته چې د ګڼو پوځي، نظامي موټرو او زغروالو د جوړښت خبرونه راځي. په دې برخه کې مو وروستي ارقام څه دي؟

**ځواب**: دقیق ارقام به کېدلی سي اوس زما په ذهن کې نه وي خو موږ ټول د ولس سره شریک کړي مو دي، نشر کړي مو دي، په هره برخه کې مو چې پر مختګ کړی دی د زرګونو په تعداد کې موږ وسایط، اسلحې، هرڅه چې دي ترمیم کړي مو دي، هغه که دا اوس د امریکایانو د وخت څخه پاته دي او که ډېر داسې هم څه شته چې د روسانو د وخت پاته اسلحې دي، یا غټې ثقیله اسلحې هغه هم د ترمیم په حالت کې دي، جوړې شوې دي. موږ کوښښ کوو چې هیڅ کوم وسایط، وسایل، اسلحه یا بل څه همداسې خراب پاته نشي.

**پوښتنه**: د افغانستان ځینې تجهیزات د ګاونډیو په هیوادنو کې دي، ستاسو څخه مو اورېدلي دي. چورلکې، طیارې تاسو د درسپارلو په اړه یې غوښتنه کړې وه، څنګه به یې ترې اخلو؟

**ځواب**: دا د ټول ولس یوه غوښتنه ده او د ولس حق دی تر دې حق په هیڅ صورت، هیڅ یو افغان نه شي تېرېدی او نه باید تېر شي. خو دا چې شرایط څنګه اجابه وي او په کومو شرایطو کې به څنګه شکل غوښتنه باید وشي، هلته هم مخکې ما وویل چې ملي منافعوته په کتو باید موږ مخته تګ وکو. نو غوښتنه مو ورڅخه کړې ده په شخصي ملاقاتو کې هم، مکتوبونه مو هم وراستولي دي خو دوی ظاهراً چې هغه ستونزه هغه هم معقوله نده. دا وایي چې دا دامریکایانو له خوا څخه موږ باندې بندیز دی یعنې موږ نشو کولی چې دا تاسو ته وسپارو او امریکا موږ ته اجازه نه را کوي.

**پوښتنه**: په دې وروستیو کې له ګاونډیانو سره نښتې رامنځ ته شوې پاکستان سره زما د معلوماتو پر اساس باندې تر شلو ځلو زیاتې نښتې وشوې، ایران سره ولې؟

**ځواب**: واقعا هم دا ستونزې او مشکلات راغلي دي او موږ نه غواړو چې داسې ستونزې او مشکلات راشي نه مو د کوم ګاونډي سره جنګ، جګړه او جنجال هدف دی، نه مو مقصد دی او نه یې غواړو او نه د کوم بل هیواد سره، افغانستان تازه دلسیزو جګړو څخه راوتلی دی او یو جنګ ځپلی ولس دی او جنګ ځپلی هیواد دی زموږ ملي ګټې دا اجابه وي چې په هیڅ صورت باید د چا سره په جنګ، جنجال او جګړو کې ښکېل نشو، په هرصورت دا کوم مشکلات چې راغلي دي ډېر وختونه داسې دي هغه دقیق معلومات یې هم وجود لري او تر یوحده شواهد هم شته چې موږ په بعضو مواریدو کې مجبور کړای شوي یو و دې ته.

**پوښتنه:** د بېلګې په توګه؟

**ځواب:** د بېلګې په توګه بعضې وختونه داسې پېښې شوي دي چې په بعضو سرحداتو باندې افغانان ولسي خلک ویشتل شوي دي، شهیدان شوي دي.

**پوښتنه:** د پاکستان سره پېښې شوي دي،

**ځواب:** د ایران سره هم پېښې شوي دي او دا نورو هیوادنو سره هم دا پېښې شوي دي نو هلته زموږ د امنیتي ځواکونو او د دوی پر دې باندې شخړه راغلې یې چې ولې داسې کیږي، او یا مثلاً په بعضو ساحو کې موږ ته پوښتنه موجود وي چې یا کوم څوک سیم خاردار تېروي، یا سړک تېره وي، یا پوسته جوړه وي، چې دا دافغانستان په خاوره کې ده باید دلته دا جوړه نه سي بلآخره یو تشنج، ستونزه او مشکل رامنځ ته کیږي، زموږ و ټولو ته پیغام دادی چې افغانستان او دافغانستان اوسنی نظام بلکې د افغانستان ټول ولس د هیڅا سره جنګ، جنجال، ستونزې، مشکلات، د اړیکو خرابوالی نه غواړو.

**پوښتنه:** همدغه ستونزې چې تاسو یادې کړې آیا د ټولو حل لاره نظامي ده که ډیپلوماتیکه ده؟

**ځواب:** زما په نظر د ټولو حل لاره په مجموع کې ډیپلوماتیکه ده باید د هغو لارو کوښښ وشي خو البته په بعضو مواریدو کې چې سړی مجبور کړای شي کله نو بیا په بعضو مواریدو کې نظامي برخورد هم کولی شي چې په هم هغه ځای کې ستونزه حل کړي، دا اوس چې د ایران سره کومه ستونزه کوم جنګ، کوم مشکل پېښ شو څلور ورځې ماته راپوروونه راتلل چې د دوی خوا څخه هوان ، یا توپونو د دې شیانو انداخ کیږي خو موږ بیا هم د دوی سره دلته داخبره شریک کول چې ګوری دغه سرغړونه ستاسو د ځواکونو د خوا څخه کیږي تاسو دا متوجه کئ داسې کار مه کوئ دا نه ستاسو په ګټه ده او نه زموږ په ګټه ده بلآخره موږ و دې ته مجبور کړای شو چې موږ عکس العمل وښویو او د خپلې خاورې څخه دفاع وکړو او دا زموږ حق دی او په هیڅ صورت موږ تر خپل حق نشو تېرېدلی نه په دې باندې هیڅ نوعه معامله کولی شو که یوه لوېشت خاوره څوک لاندې کوي هم د هغه په حق کې به موږ داسې برخورد کوو لکه زموږ ټول هیواد چې لاندې کوي.

**پوښتنه:** نړۍ له تاسو څخه له ترهګرۍ سره مبارزه غواړي دا مبارزه په کوم ځای کې ده؟

**ځواب:** اوله خبره خو دا ده چې ترهګري تعریف نه لري، روسان یو رقم ترهګري تعریفوي، امریکایان یې بل رقم تعریفوي، یعنې هر هغه هیواد چې کوم دښمن ولري هم هغه ته ترهګر وایي، اول باید ترهګرۍ ته په نړیواله کچه یو تعریف پیداشي چې ټول ورباندې متفق وې چې ترهګر دی په هماغه وخت کې به بیا په دې اړه سړی خبره وکړي اما هغه کسان، یا داسې څوک چې هغوی د کوم هیواد مخالف وي او دافغانستان د خاورې څخه استفاده کوي او د افغانستان خاوره د هغوی د امنیت خلاف استعمالوي موږ ژمن یو و دې ته او هیڅ کله اجازه نه ورکوو.

**پوښتنه** : د هر چا د خپل تعریف پر اساس باندې چې پر موږ باندې ادعا لري ولې دلته زمینه ورته مساعده شي یا د دوی د ادعا پر اساس باندې ولې هغه کسانو ته دلته ځای ورکړل شي تجربه هم لرو موږ تاسو د لومړي امارت تجربه هم لرو په دې مسئله کې؟

**ځواب:** نه موږ خو دا منو نه چې موږ دلته ځای وکړی دی چاته که چېرې موږ یو څوک راوستلي وي دلته مېلمانه کړي مو وي دلته مو روزلي وي، تمویل کړي مو وي نو بیا څوک کولی شي چې ووایي چې دا زموږ مخالفین ته دلته راته روزي او راته ساتي یې افغانستان یو پراخ هیواد دی غرونه، دښتونه، کلي، او باندې لري کېداشي یو څوک یو ځای پټ شي چې هغه په پاکستان کې هم، په ایران هم، په ټولو ګاونډیو هیوادونو کې او په نورو هیوادونو کې هم دا پېښېږي.

**پوښتنه**: همدغه چې تاسو یې نوم واخسته پاکستان په افغانستان کې د ټي ټي پي د حضور خبره کوي او بار بار وایي چې له افغانستان څخه چې کله اسلامي مارت واک ته رسېدلی پاکستان کې بریدونه زیات شوي دي؟

**ځواب**: زه دا وایم چې په پاکستان کې برید کوي که چېرې دوی  دا دلیل ګرځوي نو خو دلته په افغانستان کې باید و اوسیږي د دوی پر سرحدي پوستو، یا پر سرحدي ځواکونو باندې هم ډزې وکړي دا څنګه په افغانستان کې اوسیږي، بیا دافغانستان څخه پاکستان ته اوړي، بیا ځي د پاکستان تر منځه، تر اسلام اباد، او تر لویو لویو ښارونو پورې ځان رسوي دوی هلته په دا خپل ۶۳کلن جوړ حکومت کې بیا هم نشي کنټرولولی او هلته پر دوی باندې بریدونه کیږي، حملې کیږي، بیا څنګه دوی دا الزام پر موږ باندې واریدوي.

**پوښتنه**: اما همدا پاکستان چې کله ورته نړیوال تریبیون برابر شوی دی دوی دا خبره کوي او ستاسو څخه یې حتی د دریمګړیتوب غوښتنه هم کړې وه؟

**ځواب**: یو د دوی د خوا څخه غوښتنه ده چې کیږي هغه بېله خبره ده، او یو په مجموع کې موږ چې کوم دریځ دی هغه دریځ واقعي دی او هغه دریځ ته ژمن یو هیڅ کله هم نه غواړو چې د چا مخالفین دلته وروزو، تمویل یې کړو بل کېداشي په بعضو مواریدو کې بعضې داسې اشخاص چې موږ ته هم معلوم نه وي.

**پوښتنه** : نو دوی څه غواړي مجاهد صیب! په دې څرګندونو سره دوی څه غواړي د څه په لټه کې دي د اسلامې امارت بدنامي او که نور څه؟

**ځواب**: دا باید د دوی څخه وپوښتل شي چې دوی په دې کې څه هدف لري چې یو داسې بې بنیاده تورونه لږوي.

**پوښتنه**: دا به دوی ځواب کړي؟

**ځواب**: دا به دوی ځواب کړي.

**پوښتنه**: بل طرف ته  یو مهمه مسئله چې همېشه یادېږي د اسلامي امارت او د نړۍ اړیکې ترینګلې دي؟

**ځواب**: په یو معنی که یې را واخلو چې تعامل موجود دی د ډېرو هیوادونو سره سفارتونه شته، تعامل روان دی ډېرې ترینګلې ندي خو تر ډېرحده پورې د غربي هیودونو سره اړیکې ترینګلې دي او حال دا چې موږ هم کوښښ د دې کړی دی چې د هغوی سره اړیکې جوړې کړو ځکه د افغانستان دا په ګټه نده چې موږ د چاسره ترینګلې اړیکې ولرو په مجموع کې خو په هر صورت که څوک غواړي چې شه اړیکې ولري زموږ سره زموږ دروازې ورته خلاصې دي او پخپله هم ددې هڅه کوو چې د نورو هیوادونو که غلط فکر ورکول شوی وي د هغوی سر ورخلاص کړو هغوی ته هغه واقعیت وښیو.

**پوښتنه**: مجاهد صیب! همدغو هیوادونو چې اسلامي امارت یې سفارتونه ورکړي دي دوی وایي چې داصرف د کډوالو، مهاجرینو د ستونزو د حل لپاره دي دې ته ښه تعامل ویلی سو؟

**ځواب**: نو په ټولو هیوادونو کې که داسې وي چې کډوال موجود وي او هلته ستونزې لري چې سفارتونه ورته خلاص شي ډیپلوماټان ورسي دا خو بیا بېله خبره ده، په هر صورت کېدلی شي دوی د خپلو بعضو ملحوظاتو په خاطر داسي یو توجیه کوي.

**پوښتنه**: اصل مسئله بل څه ده تعامل دي؟

**ځواب**: زما په فکر باندې تر ډېره حده تعامل دی.

**پوښتنه**: ولې یې پټه وي بیا دغه هیوادونه یې ولې پټه وي؟

**ځواب**: کېداشي د ځینو هغه هیوادونو د فشار له امله یې پټه وي چې هغوی نه غواړي چې موږ سره تعامل وشي.

**پوښتنه:** د نړۍ همدغو څرګندونو ته که راشو خصوصاً د ګاونډیانو تاثر لري پر موږ او زموږ او د نړیوالو پر اړیکو باندې؟

**ځواب:** طبعا چې منفي خبرې تاثیرات لري هم پر دوی باندي هم پر موږ باندې او هم پر ولس باندې نو څه ناڅه منفي تاثیرات غالباً ولري او کېداشې تاسو ته هم معلومات په دې اړه باندې وي چې ډېر وختونه داسې وي چې داسې څرګندونې کله کله ډېرې تېزې شي او سخت سخت غبرګونونه ولري نو هغه د هیچا په ګټه نه دي.

**پوښتنه:** کله کله پاکستانیان د افغانستان پر استازولۍ په نړیوالو سټېجونو کې ویناوې کوي ولې یې کوي؟

**ځواب:** زما په فکرخو هیڅوک دا حق نه لري چې د کوم هیواد نمایندګي په داسې شکل باندې چې هغوی په دې باندې رضایت هم ونه لري او هیڅ نمایندګي هم نه وي ورکړای شوې، دا یې کوي دا یو خود سرانه کړنه ده او باید مخنیوی یې وشي او موږ پخپله کولی شو چې خپله نمایندګي پخپله وکو هیڅ کوم جهت ته اړتیا نلرو چې هغوی زموږ نمایندګي وکړي.

**پوښتنه:** بله مسئله پاکستان د افغانستان لپاره څه ډول ګاونډی دی؟

**ځواب:** پاکستان که څېرې دا فکر ولري چې جوړ افغانستان، اباد افغانستان، آزاد افغانستان، او مستقل افغانستان زما په ګټه دی او خپلې ګټې په جوړ افغانستان کې ووینې او وپلټي بیا دافغانستان لپاره یو ښه ګاونډي دی.

**پوښتنه:** ډیورنډ فرضي کرښه ستاسو پر اند څه؟

**ځواب:** زما په اند ډیورنډ فرضي کرښه.

**پوښتنه:** همدا کفایت کوي؟

**ځواب:** همدا کفایت کوي.

**پوښتنه:** پوښتنه یې کوئ؟

**ځواب:** پوښتنه به یې هغه وخت بیا چې ولس وغواړي کوو اوس لپاره ولس مو، او هیواد مو په یو داسې حالت کې ندي چې موږ داسې مسائلو ته چې هغه موږ تاسې ته نورې ستونزې جوړه وي په اړه یې بحث ولرو.

**پوښتنه:** یوه بله پوښتنه د نړیوالو سره د اسلامي امارت ناستې دي دوی وایي ژمنې راسره کوي خو عمل نه پرې کوي ولې؟

**ځواب:** زه فکر نه کوم چې د دوی سره دې داسې ژمنه شوې وي چې په هغه باندې عمل نه کیږي او که دا دوی وښیي چې زموږ سره دغسې ژمنه په دغه شکل باندې دلته شوې ده او هغه بیا نه ده عملي شوې کېداشي بعضې خبرې او بعضې بحثونه څو بعدونه لري بعضې خبرې دوی یو مفهوم ورڅخه اخلي موږ بل مفهوم اخلو په دې کې کېداشي ځینې وختونه سؤتفاهم راځي، په مجموع کې زما په فکر باندې کله چې اسلامي امارت تعاهد کوي، وعده کوي بیا په هغه باندې وفا کوي.

**پوښتنه:** یوه مسئله اقتصاد ده لکه څنګه چې مخکې هم تاسو ورته اشاره وکړه په تېرو دوویشت میاشتو کې اقتصادي لویې لاسته راوړنې څه دي د اسلامي امارت خصوصاً هغه برخه چې ځوانان ځي، وطن پرېږدي خبره کوي چې دلته اقتصاد خراب دی، د لویو پروژو ځوانانو ته د کار په برخه کې مو څه کړي؟

**ځواب:** د لویو پروژو په هکله تر ډېر څه شوي دي یعنې هڅه او کوښښ کیږي، روان دی، د قوشتېپې کانال دا ډېر ښکاره مثال دی همداسې دا اوس د کندهار او کابل ترمینځ سړک باندې ډېر په تېزۍ باندې کار روان دی، همدا نن د سالنګ د جوړېدو په باره کې بحث وشو او فیصله وشوه په دې کې چې دا باید هر څومره عاجل جوړ شي امکاناتو ته په کتو موږ په خپل ټول توان باندې کوښښ کوو تر څو اقتصادي ستونزې حل کو، خو دا ښکاره خبره ده چې اقتصادي ستونزې او مشکلات څه ناڅه وجود لري، شته موږ یې تاید وو خو

د دې ستونزو په حل کې باید ټول افغانستان لاس په کار شي.

**پوښتنه:** د همدې افغانانو چې بهر کې مېشت تجاران دي د دوی د ډاډ لپاره چې دلته راشي پانگونه وکړي په کور دننه ملیاردران شاید ووایي چې افغان پانگوال شته په بهر کې د هغوی د ډاډ لپاره مو څه کړي دي چې راشي دلته پانگونه وکړي؟

**ځواب:** د هغوی د ډاډ لپاره موږ پوره کوښښ کړی دی یعنې که شخصاً د هغه شخصي امنیت وي هم موږ یې په اړه مکمله هڅه کړې ده او کېداشي څوک شکایت هم ونه لري، که یې د کاروبار او تجارت په هکله وي تگ راتگ د لارو په اړدو کې الحمدلله سل فیصده امنیت تامین دی.

**پوښتنه:** یعنې فرصت ورته اماده دی چې راشي دلته پانگونه وکړي؟

**ځواب:** زما په فکر په پنځه پنځوس کلونو کې، یا په اصطلاح په پنځه څلویښت کلونو کې داسې فرصت نه دی اماده شوی لکه همدا اوس اماده دی.

**پوښتنه:** بله برخه ستاسو سفر دی  متحده عربي اماراتو ته مو سفر درلوده له گڼو افغانانوسره مو ولیدل د دې ترڅنگ له تام وسیت سره مو ولیدل د سفر په لړ کې پټې لیدنې وې؟

**ځواب:** هیڅ کومې پټې لیدنې نورو وجود نه درلود فقط د دوی په بلنه باندې موږ هلته ولاړو او د دوی سره مو د دواړو هیوادونو د اړیکو په ښه کولو باندې او د دوه اړخیزو همکاریو باندې خبرې وکړې، او پاته شو د تام وسیت سره لیدنه وشوه په ضمن کې نور همدا د متحده عربي اماراتو چارواکې وه چې له دوی سره مو لیدنې وشوې.

**پوښتنه:** له تام وسیت سره په لید نه کې په کومو موضوعاتو خبرې وکړې؟

**ځواب:** تام وسیت سره مو همدا د فضا په اړه مو خبره ورسره وکړله په نورو هغه برخو کې چې دوی یې پوښتنه درلوده په هغه اړه مو خبرې ورسره وکړې مثلا تاسو چې مخکې یادونه وکړه د دوی چې کوم شعار گرځېدلی دې بعضې موضوعات په هغه اړه مو بحثونه ورسره وکړه.

**پوښتنه:** امریکا په اوسني وخت کې دوست دی، که دښمن، واضح ځواب راکړئ، دوست دی که دښمن؟

**ځواب:** في الحال خو یې د دوستۍ کومه نښه موږ نه دی لیدلې.

**پوښتنه:** یعنې دښمن دی؟

**ځواب:** دوی تر اوسه پورې هم د دښمنۍ په مسیر باندې روان دي او په هم هغه موقف کې دي.

پوښتنه: امریکا له افغانستانه څه غواړي او افغانستان له امریکا څه غواړي؟

**ځواب:** په مجموع کې افغانستان یو مستقل او یو آزاد هیواد دی باید په فرهنگي برخه هم خپله آزادي ولري، په سیاسي برخه هم آزادي ولري، په اقتصادي برخه کې هم آزادي ولري دوی باید دا هڅه ونه کړي چې تر کنټرول لاندې یې وساتي، یا خپلې موخې ورباندې تطبیق کړي.

**پوښتنه:** راپورونه وایي چې کندهار ته د قطر سفیر د لومړي سفر په ترځ کې هغه له شیخ هیبت الله سره لیدلي دي ستاسو معلومات څه دي؟

**ځواب:** په دې اړه چې مجاهد صیب کوم وضاحت ورکړی و زما په نظر هغه کفایت کوي.

**پوښتنه:** یو شی یو انځور درښیم څه نوم ورکوئ! د افغانستان ملي درې رنگه بیرغ دا څه شی دی؟

**ځواب:** زه به یوه اندازه تشریح ورکړم: بعضې موضوعات داسې دي چې په مجموع کې زما ټولو افغانانو ته ټول ولس ته که لوستي دي که نالوستي دي دا مشوره ده چې ځیني هغه موضوعات چې موږ او ستاسې دا مسیر چې اوس روان یو چې نړدېوالی راځي هغه موضوعات باید د اوس لپاره په اوسنیو شرایطو کې څنګ ته واچو تر څو دغه حالت مو زیانمن نه کړي او په داسې یو مشکلاتو مو وا نه ړوي چې بیا په داسې جزي موضوعات کې موږ کښېوزو حتی تر لویو جنجالونو پورې خبره ورسیږي زما په فکر د بیرغ په اړه یا مثلاً په نورو داسې بعضو مسائلو کې چې په اصطلاح ملي مسائل بلل کیږي یا لوی مسایل بلل کیږي هغه وخت ورکړو کېدلی شي داسې وخت راشي چې دا مشکل موږ په ډېرې اسانۍ سره حل کړی شو.

**پوښتنه:** د عمر په اړه مو راته ووایاست عمر مو څو کاله دی؟

**ځواب:** عمر مې تقریبا دېرش کاله پوره دی اوس یو دېرشم شروع دی.

**پوښتنه:** لوړې زدکړې مو کړې دي؟

**ځواب:** هو دیني زدکړې مې کړې دي داسې په مکتب یا په پوهنتون، یا په بل څه کې مې ندې کړې.

**پوښتنه:** د تېرو شلوکلونو په پرتله مو په ژوند کې څه تغیر راغلی؟

**ځواب:** یعنې په کومه برخه کې؟

**پوښتنه:** په ټولو برخو کې مثلاً شاید اوس ورزش ته وخت پیدا کوئ دلته د ورزش کسان هم ناست دي، ورزش کوئ کومه لوبه کوئ ؟

**ځواب:** هو ورزش کوو سهار تر لمانځه وروسته بیا تقریباً نیم ساعت درې پاوه داسې ورزش کوو.

**پوښتنه:** د ژوند امکاناتو ته که راشو طبعاً تغیر راغلی دی؟

**ځواب:** طبعاً څه ناڅه تغیرات به خامخا وي ځکه چې پر یوه ځای بانديځ ډېر وخت اوسېدل او ژوند کول، تېرو وختو کې خو موږ داسې وو چې مثلاً یو ځای کې به ډېر وخت نشو پاته کېدای، یوځای څخه بل ځای ته د بل ځای څخه بل ځای ته داسې ګرځېدو راګرځېدو کې به ډېر وخت وو.

**پوښتنه:** طلوع نیوز ته چې راتلې لارې مو بندې کړې وې که نه، ځکه تېرو شلو کلو کې داسې عرف و، چې وزیران، یا لوړپوړي چارواکي چې چېرې تلل لارې به یې بندولې ستاسو لاره بنده وه که نه؟

**ځواب:** یواځې طلوع نیوز ته نه په ټول دا دوه کلنه یا دوویشت میاشتنۍ موده کې په ما تر اوسه پورې هم داسې یو پېښه نه ده راغلې چې زماپه وجه دې کوم موټر درول شوی وي او یا لاره بنده شوې وي همداسې چې هر ځای ته سفر کوو په همدې موټرانو کې چې روان دي موږ هم ځو.

**پوښتنه:** په ژوند کې د سړې حتمی ورسره مخ کیږي، یوه هغه شېبه چې ډېر یې خوشحاله کړې کومه شېبه وه، یوه هغه شېبه راته ووایه چې تر ټولو ترخه وه؟

**ځواب:** تر ټولو ترخه شېبه خو د والد صیب مرحوم د مرګ څخه خبرېدل و، چې موږ د هغه په وفات باندې کله خبر شوو نو ډېر سخت حالت رابانديې راغی.

**پوښتنه:** څنګه خبر شولې چېرې وئ؟

**ځواب:** درې څلور ملګري او هغه کس چې په هغه کور کې دی و، نو د هغه کور څخه راغلی و بیا یې د رابطې، تماس، کوښښ کړی و، هغه کس یې پیداکړی و چې هغه تګ راتګ کاوه، پیغامونه یې وړل راوړل نو هغه بیا زموږ تره ملا عبدالمنان اخند عمري هغه ته ویلي وه

نو یو دوه نور ملګري زموږ د والد صیب ملګري و، چې هغه خبر و او بیا یې زه پیداکړم او هغه ځای ته چې دوی وو هلته راوغښتلم او بیا یې په ابتدا کې دا راته وویل چې هغه مریض دی نو موږ غواړو چې د علاج یو طریقه ورته برابره کو نو زه ډېر سخت پرېشانه شوم چې اوس به په داسې شرایطو کې د ده د علاج طریقه، زمینه دا به څنګه کیږي، نو د هغه سره وروسته متصل یې دا راته وویل چې خدای دې وبخښي نو په دغه باندې زه پوه شوم.

**پوښتنه:** خوږه شېبه؟

**ځواب:** خوږې شېبې به کېداشي په ژوند کې راغلې وي خو دا چې تر ټولو خوږه شېبه ذهن ته مې نه راځي داسې نه وي چې بیا ډېرې خوږې شېبې راباندې راغلې وي، یا یو ځای یوې ته پر بلې باندې ترجیح ورکړم.

**پوښتنه:** رابه شو د افغانستان لید لوري ته پنځه کاله وروسته افغانستان چېرې وینئ؟

**ځواب:** هیله مو دا ده چې پنځه کاله وروسته موږ په هره برخه کې ډېر پر مختګ ولرو، مثلاً دا ستونزه چې اوس یې هیوادوال یادوي یا ملګري پوښتنې کوي د تعلیم، هیله لرو چې دا حل شوې وي او په داسې شکل باندې حل شوې وي چې ټول افغانان ورباندې قانع وي، همداسې دا ویجاړ سړکونه چې اوس د یوه ولایت څخه بل ولایت ته سفرونه ورباندې کوو ډېر ستونزمن وي دا به جوړ شوي وي، مکاتب، مدرسې، پوهنتونونه جوړ شوي وي او قوي هوایي ځواک، قوي ځمکنی ځواک ولرو، او د خپل هیواد د فضا څخه په پوره معنا ساتنه وکړو.

**پوښتنه:** هوډ، امکانات، او پلان د دې له پاره شته؟

**ځواب:** هوډ، هم شته او پلان هم شته او د امکاناتو لپاره کار کوو.

**پوښتنه:** مطمئن یاست چې تر لاسته یې کړی؟

**ځواب:** په سل کې پنځه اویا تر اتیا فیصده اطمینان لرو.

**پوښتنه:** بله یوه مسئله مهمه د تحصیل کرده ځوانانو په هکله ده په زده کړو سمبال ځوانانو ده، د کار فرصت ورته نشته له هیواده تښتي، ځان مرګ ته ورکوي، هغوی ته څه ویل لرې؟

**ځواب:** زما ټولو ځوانانو ته هغه که تحصیل کرده وي که نه، که لوستي وي که نالوستي ټول افغانان دي او د دې افغانستان وګړي دي، پیغام مو ورته دا دی چې دوی باید د دغسې ناخوالو او مشکلاتو په وړاندې ودرېږي.

**پوښتنه:** کورنۍ ورپسې ده ډوډۍ ترې غواړي کار نشته څه وکړي؟

**ځواب:** هڅه وکړي، کوښښ وکړي یو مشکله حالت دی، واقعاً هم ډېر یو ستونزمن حالت دی داسې یو حالت کې سړی په خپل ذهن کې متصور کړي واقعاً هم ډېر یو مشکل حالت دی نو زما خو هیله دا  ده چې حکومت هم په دې اړه ډېر کار وکړي دوی ته دکار کولو او دوی ته د روزګار پیدا کولو خصوصاً هغه اړوند وزارتونه چې دغه یې وظیفه ده په دې اړه کوښښ وکړي په مجموع کې دغه ستونزې خو واقعاً هم ډېرې دي خو تر دغې ستونزې ماته هغه ستونزه غټه معلومیږي چې سړی هیواد پرېږدي او بیا په داسې یو مشکلاتو کې ځان مرګ ته ورکوي، خو کورنۍ یې او  د بچیانو حالت یې تر هغه هم د سختۍ حالت ته ځي.

**پوښتنه:** ځان پکې مسؤل بولئ؟

**ځواب:** بلکل مسؤلیت موږ ته راجع کیږي تر هغه حده چې موږ هڅه ونه کړو کوښښ ونه کړو زما په فکر موږ په ټول توان باید د دې لپاره هڅه وکړو، کوښښ وکړو، که چېرې موږ خپله ټوله هڅه وکړو او خپله ټوله هڅه د ولس سره شریکه هم کړو بیا امید شته چې نه ولس ته ملامت شو او نه الله تعالی ته.

**پوښتنه**: مجاهد صیب! داسې به یو پوښتنه وکړو غیر له طالبه یو ځوان دا هیله دا امید ولري چې یوه ورځ به په اسلامي امارت کې، یا رئیس کیږي، یا به ستاسو په شان باندې وزیر کیږي، یا به هم تر دې لوړو، حتی د رئیس الوزراء څوکۍ ته رسیږي؟

**ځواب**: بلکل کېدلی شي، دا اوس کېداشي هغه جنرال صیب معلومات ولري، دفاع پوهنتون کې چې کوم زده کوونکي وه چې درې کاله یې مخکې زده کړې کړې وې دوه کاله یې دلته زده کړې وکړلې فارغ شوي دي سندونه ورکړي دي او حکم مې ورته کړی دی چې دا کسان باید دلته مقرر شي. ځکه اوس در گرده مثلا هغه کسان چې تقاعد کیږي د هغوی پرځای موږ نورو مسلکي خلکو ته ضرورت لرو او هغه کسان چې په خارج کې فارغه شوي دي راغلي دي هیواد ته، موږ په دندو باندې گومارلي دي او همدا اوس کار کوي یعنې په سلگونو کسان دي.

# اسلامي ملي اردو د روزنې په حال کې



د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت له لويو فعالیتونو او لاسته راوړنو څخه یوه دا ده چې کوم اتلان شل کاله د افغانستان په غرونو کې د زمریو په څېر په زړورتیا د هیواد د دښمنو یرغلګرو سره جنګېدل او د هغوی د بمبارونو په وړاندې یې د ایماني قوت ځلانده بېلګې وړاندې کولې په ډېره لنډه موده کې راټول کړل او د ملي دفاع وزارت په چوکاټ کې یې د هیواد د یو پیاوړي دفاعي ځواک په توګه منسجم کړل. هغوی چې له زده کړو څخه محروم وو، د پوهنتون دروازې یې نه وې لیدلې، په مدرسو کې د یرغلګرو له بمبار څخه خوندي نه وو، په مسجدونو کې نه شو اوسېدلی او د لیک لوست لپاره یې هم وخت نه درلود له اداري اصولو او حکومتولی سره یې اشنایي نه درلوده، خو دا چې ټول عمر یې د یوې سالمې او صالحې رهبرۍ په رڼا کې تېر کړی و نو په ډېرې اسانۍ یې د هغوی په اطاعت کې د نظام له اداري اصولو سره اشنا کړل او د یو پیاوړي نظامي اردو په توګه یې په لومړي ځل خپل پوځي پرېډ وړاندې کړل او ټوله نړۍ یې ګوته په غاښ حیرانه کړه. د افغانستان اسلامي ملي اردو د روزنې په حال کې ده، هره ورځ د دوی عقیدوي، فکري، مسلکي او نظامي زده کړو کې پوهه زیاتیږي او ورځ تر بلې د پرمختګ په درشل کې دي. زموږ اردو د هیواد د دیني او ملي ارزښتونو سره وفادارۍ، ژمنتیا او له هغو څخه د دفاع لپاره په لوړ مورال روزل کیږي، دوی شپه او ورځ د الله په عبادت کې ژوند تېروي، د دوی روزنه په دیني افکارو کیږي، د نظامي روزنو پر مهال یې له خولې څخه د تکبیر ږغونه پورته کیږي، د الله اکبر هغه درنه نعره یې تل په ژبه وي چې په سنګر کې یې د دې نعرې پر مهال د یرغلګرو زارې چاودلې وې او د دې نعرې قوت یې ازمویلی و.



د افغانستان اسلامي ملي اردو توپير دسيمې د اردوګانو څخه دا دی، چې لوړ مورال لري داسې مورال چې په نړۍ کې د هيڅ يو انساني قوت څخه ويره نه لري، دوی د نړۍ ستر ابرقدرت ته ماتې ورکړې، د الله په نصرت يقين لري، په خپل فکري او مسلکي توان باوري دي او د خپل هيواد د دفاع او ساتنې قوت لري. د اسلامي ملي اردو په ټولو جزوتامونو کې روزنيز مرکزونه فعال دي او د اسلامي ملي اردو زړور بچيان له دې مراکزو څخه د خپل مسلکي زده کړې دي ترلاسه کولو نه بعد، د اسلامي ملي اردو ليکو ته يو ځای کيږي. د اسلامي ملي اردو روزنيز مرکزونه د معاصرې ټيکنالوژۍ او پرمختللو وسلو سره اشنا استاذان لري، دا مسلکي استاذان د اسلامي ملي اردو زړور مجاهدين له پرمختللو اسلحو سره اشنا کوي او هڅه روانه ده چې د سيمې او نړۍ په کچه يو پياوړی دفاعي ځواک وروزي. د اسلامي ملي اردو د هلو ځلو په ترڅ کې تر شپېته زياتې نظامي الوتکې ترميم شوي او استفادې ته سپارل شوي دي، د دې الوتکو په ترميم کې د نړۍ هيڅ يو هيواد څخه پردی مرسته نه ده کړې او نه يې کومه پرزه له بهر څخه راوړل شوې ده، بلکې ټول امکانات او وسائل يې په هيواد دننه د خپلو تخنيکي انجينرانو د هلو ځلو په ترڅ کې جوړې شوي دي، له دې معلوميږي چې زموږ د اسلامي ملي اردو ځواکونه دومره ظرفيت لري چې د امکاناتو او وسائلو له پرمختګ او زياتېدو سره به لازيات پرمختګ وکړي او په هره برخه کې د سيمې او نړۍ ځواکونو سره سيال جوړ شي. د ستردرستيز په تشکيل کې عقيدتي او فرهنګي رياست په هلو ځلو سره د دې وزارت په ټولو جزوتامونو کې مدرسې فعالې کړې او د اسلامي ملي اردو ديني او عقيدوي روزنې ته ځانګړې پاملرنه کړې، چې د دې هلو ځلو په ترڅ کې له لومړۍ درجې بيا تر لوېې دورې پورې زده کړې دوام لري، په دې برخه کې د اسلامي ملي اردو منظم درسي پلان ترتيب او



تدريس کيږي، د کتاب، کتابتون او مجربو استاذانو څخه بيا د دوی تر نورو اړتياوو پورې ټول امکانات برابر دي او په ډېر علمي چاپېريال کې د دوی زده کړې جريان لري. د اسلامي ملي اردو ښوونې او روزنې ته ځانګړې پاملرنه شوې ده او د ملي دفاع وزارت وزير مولوي محمد يعقوب مجاهد حفظه الله په ډېرې پاملرنې او اخلاص بوخت دی چې له هر پلوه يو پياوړی او منظم دفاعي ځواک جوړ کړي تر څو د دې مظلوم اولس د ديني او ملي ارزښتونو او د ځمکنۍ بشپړتيا څخه د دفاع او ساتنې ظرفيت او توان ولري.

مفتي محمد بشار



# حاکم اسلامي نظام او ولس څه مسوولیتونه لري؟

نظام او ولس دوه مشترک عناصر دي چې دواړه لازم او ملزوم دي، د رعیت حضور او شتون د نظام موجودیت حتمي کوي او مشروعیت ورکوي. کله چې ملت نه وي حاکمیت هم نشته لومړی مهمه ده چې ملت جوړونه په تمامه معنی خپل تکاملي پروسیجر طی کړی وي یو موتی ملت د مقتدر نظام دراودونکی وي خو پاشلی ملت بیا اصلا نظام نه لري، په دې لیکنه کې د اسلامي نظام او ولس د مسوولیتونو په اړه په لنډ او مختصر توګه کتنه شوې ده هیله ده ستاسې لوستوکو د پام وړ وګرځي. کله چې د بشریت ستر لارښود فخر موجودات جناب حضرت محمد صلي الله علیه وسلم په کال ۶۲۱ میلادي کې په مدینه منوره کې د اسلامي دولت بنسټ کیښود له هماغه مودې څخه مسلمانانو د اسلامي نظام اصول زده کړي او د اسلامي نظام له ګټو او عادلانه اقتدار او امتیازاتو څخه یې په لوړه کچه برخمن شوي وو چې سوونه کاله یې دوام وموند.

اسلامي نظامونه د تاریخ په اږدو کې د مسلمه امت د عزت او عظمت سبب ګرځېدلی او تاریخ په دې اړه متعدد روایتونه لري مسلمانانو کله د خلافت په نوم او کله د امارت په نوم داسې مقتدر نظامونه جوړ او حاکم ګرځولي وو چې په سوونو کلونو د دوام ترڅنګ د بشریت په ژوندانه کې د مثبتو بدلونونو د راوستلو لامل ګرځېدلی وو. اسلام یوازې خپلو پیروانو ته نه بلکه بشریت لپاره سوکاله ژوند غواړي مونږ دتیرو اسلامي مقتدرو نظامونو تاریخي کارنامې لرو چې په دې لیکنه کې په بشپړتوګه نه شو یادولی.

په دې لیکنه کې په ټول افغانستان کې د اسلامي نظام بیا حاکمیت ځیږو او په دې به هم نظر واچول شي چې حاکم اسلامي نظام ته به څنګه وده ورکړو. له خدای څخه شاکر او راضي یو چې افغان ولس الحمد لله له شاخوا ځلوېښت کلنې جګړې څخه دلوي خدای په نصرت او د اسلامي امارت په نه ستړي کېدونکي اوږدې مبارزې او قربانیو پرمټ د تل پاتې سولې او امن په فضا کې باعزته او با وقار ژوند پیل کړی.

او د الله رب العزت په مرسته افغان ولس اوس د يو مستحکم اسلامي نظام خاوندان دی او په ټول افغانستان کې د اسلامي نظام سپين محمدي بيرغ رپاند دی، امنيت په ټول هيواد کې قايم او د اسلامي امارت مشرتابه د بيا رغونې مختلفې پروژې په ملي کچه پيل او چارې يې په منظم ډول مخ ته روانې دي او همدا راز د اسلامي امارت په سياسي، پوځي، سوداګريزو چارو، اقتصاد او داسې نور ملي موضوعاتو په برخو کې ګڼ لاس ته راوړنې لري او د هرې ورځې په تيريدو سره دا نظام پياوړی کېږي او د خلکو پراخ ملاتړ تري زياتيږي.

سره له دې چې داسلامي نظام حاکميت او په اسلامي نظام پورې تړلي مهم مبداوې مشخص او واضح دي خو بيا هم د سولې او امن د اسلامي نظام مخالفين او د غربي نړی مزدوران د دوي د بدنام او مختور د اشغالګرو په لاس جوړ شوي نظام له تباهی څخه وروسته سره له دې چې فراري دي خو ولس په قرار نه پريږدي او خپل شرارتونه جاري او تخريبي فعاليتونو ته دوام ورکوي چې الحمدلله ولس په خورا ميړانې او زړورتياسره دفاعي حالت موقف غوره کړی او حتی اسلامي امارت اجازه نه ورکوي چې د بدنامه او مختور ګواډاګي پخوانيو رژيمونو فراريانوته ځواب ووايي، دا له اسلام او اسلامي نظام څخه د ولس پوره ملاتړ دی. بنا د اسلامي نظام مکلفيت دی چې ولس ته خدمت وکړي او د ولس پر څلويښت کلن زخمونو باندي مرهم کېږدي ولس بېچاره او مظلوم پاته شوي پر ولس مو داسې ظلمونه شوي چې بشريت يې ساری نه دی ليدلی په ځانګړي توګه تيرشل کلن اشغال او عوامل يې د بيلګې په توګه يادوم.

اوس الحمدلله ولس پر خپله خاوره او هيواد کې حاکميت لري چې دا عمومي مشخصه ده خو په خصوصي توګه داسلامي نظام حاکمان لومړی الله ج ته مسوول دي او بيا هيواد او ولس ته د خادم او مجري په توګه داسې ستر مسووليتونه په غاړه لري چې حتي د يو عادي مسووليت په ترسره کولو کې غفلت له الهي مجازاتو سره به مخامخ کېږي، زمونږ ولس له اقتصادي اړخه د فقر په حالت کې ژوند کوي او فقر کې ژوند کونکي افغانان لويه فيصدي ده او همدا فقير او مظلوم ولس وو چې مجاهدين اوغربي نړی ماتونکي يې په خپل غيږ کې رالوی کړي وو او اوس يې وخت دی او د ولس حق جوړيږي چې د اسلامي نظام هر اړخيز ملاتړ له ځان سره ولري نو بنا په اسلامي نظام کې حاکم د خلکو خدمتګار وي حتی تردې چې د حاکم ژوند له ټولو خلکو څخه په ټيټه درجه کې وي، موږ د داسې نظام ډيري بليګې لرو چې يو يې د عمر ابن عبدالعزيز حاکميت دی، د عمر ابن عبدالعزيز داسې حکومت و چې انسانان خو لاپريږده چې ليوه هم په رمې حمله نه کوله، د ده په حاکميت کې په ټولو محکومو ځايونو کې ترده ډير ناداره کس نه موندل کېده حتی تردې اندازې غربت او فقر لمنځه تللی و چی له کاشغره تر اندولس پوري يو کس هم د زکات مستحق نه و، د امير المومنين د ځوي به د اختر په ورځوکې زاړه او شليدلې جامې يې پرتن وي او داسې نورې د حيرانتيا وړ صفات موجود وو چې اسلامي نظام حقيقت او حاکميت دنورو نظامونو په تناسب غوره او بې بديله ثابتيږي.

افغانان ۴۰ کاله کيږي مختلف نظامونه چې د بشر په لاس جوړ شوي وو تجربه کړي خو دا تجارب له مظلوم ولس څخه داسې قرباني واخستې چې د اسلامي نظام د اقامې او اعادې وس او توان په چاکې پاته نکړ، خو د اسلامي نظام پر مشروعيت او خوندونو يې پوه ولس په کراره نه وو ناست مبارزې او قربانې او شهادتونو ته تازه دم با ايمانه وګړو د جګړې ډګرونه په خپلو وينو ګرم ستالي وو چې بالاخره الله ج اسلامي نظام کاميابه کړ او دادې هيواد مو داسلام په قانون اولاربود اسلامي نظام لري او خلک نور نو دبشر په لاس د جوړ شويو فاسدو نظامو راتګ او حاکميت هيڅکله نه غواړي چون امن، عدالت، عزت او ژوند په اسلامي نظام کې دی او د اسلامی نظام بل ښه والی په دې کې دی نه يواځې داچې عام وګړی ته په کې خدمت کېږي او د هغوي په وړاندې مسول دي مګر وګړوته هم پکې مسوليتونه سپارل شوي که د ځان په اړه وي او که د نورو په اړه.

خو د سیاست په نړۍ کې د یو دولت ارزونه د هغې نظام د چارواکو د خبرو او وعدو پراساس نه کیږي بلکې د هغه حکومت د پالیسو او عملي کړو وړو ته د کتلو او تللو پرمبنا کیږي. ارزونه داسې وي چې حکومت د خپلو خلکو سره څنګه سلوک کوي، د هیواد لپاره کوم اقتصادي، ښوونیز او روزنیز، روغتیایي او نور د پرمختیا او سوکالۍ غوره پلانونه لري او دغه راز له نړیوالو سره څنګه اړیکې ساتي.خو دم ګړۍ اسلامي نظام د خپل هیواد او ولس اساسي ستونزې او هغه کرغېړنو پدیدو پر ختمولو او په همدې ترتیب د نظام پر جوړولو او ولس ته د خدمت کولو پر عمومي مواردو بوخت دی.

داسلامي نظام د اوسني حاکمانو توله توجه دهیواد د پرمختګ په برخو کې دي او ترټول مهمه داده چې زمونږ د نظام مشران د خپلو خلکو په خوی، عادت، افکارو، غوښتنو او ضرورتونو باندې پوره پوهیږي او په دې برخه کې د مشرتابه ذهني وده او پراخوالی، کاري تجربه، صداقت او امانت داري بیا له هغو مهمو مواردو څخه دي چې پر اسلامي نظام د ولس باور ډیر کړی دی. بنا د یو مهم عنصر په توګه د مطرح شویو مواردو په ترڅ کې اسلامي نظام مشرانو ته مهم مکلفیت جوړیږي چې د هیواد او خلکو لپاره مناسب پلانونه ترتیب او پلي یې کړي په دې کې شک نشته چې زمونږ دین او زمونږ کلتور زمونږ د انفرادي، کورني او تولنیز ژوند، حکومت او دولت لپاره عمومي لارښوونې لري، اما څرنګه چې ژوند او حالات بدلون مومي او پرمختګ لور ته درومي، له دې امله اسلامي نظام مسوولیت لري چې د وخت او حالاتو له تقاضا سره سم د اسلامي احکامو په رڼا کې د ولس، تولنې او هیواد په اړه داسې فکر او پریکړه وکړي چې اساسي مبناوې او ارزښتونه یې د اتحاد، سوکالۍ، پرمختیا او عدالت پر بنسټ او اصولو ولاړ وي چې په دې ترتیب اسلامي نظام دبقا لورې ته یو کلک ګام پورته کړی وي. لکه څرنګه چې نظام پورته یاد شوي مسوولیتونه لري تر څنګ یې د دولتي سیستم په جوړولو او د وړ مسلکي ، پوه او ژمن کسانو په ګمارنه کې هم مکلفیت لري د دولتي ادارو د خدمت کولو چارې باید حتمي له هرډول فساد څخه لرې او پاک کړي ، اداري فساد دې نه وي، په واسطه، پیژندګلوئ او رشوت څوک په دندو ونه ګمارل شي او د چا حق ونه خوړل شي، دا هغه څه دي چې تیر فاسدو رژیمونو دود ګرځولي وو او په دې ترتیب د ولس له ملاتړ څخه یاد نظامونه عاري وو. په همدې ډول د نظام د پیاوړتیا په برخه کې د هغو کمزورتیاوو پیژندل او له مینځه وړل یې حتمي او ضروري موضوعات دي چې نړیوال او ګاونډي هیوادونه له هغو څخه ناوړه ګټه پورته کوي، دغه راز اسلامي نظام ته لازمي دي چې د نړیوالو او ګاونډیو هیوادونو د کمزورتیاوو موارد پیدا کول دي او له هغې څخه بیا دخپل دولت او دهیواد په ګټه کار اخستل دیو تدبیر اومهارت په توګه داسلامي نظام بل مکلفیت جوړیږي.

افغانستان شل کال د اشغال په لمبو لاهو هیواد پاتې شوی ولس ته دایمي کارونه په مختلفو برخو کې نه دي شوي او افغانستان له زیرمو او کانو څخه محدود وګړو د غربیانو په مرسته په شخصي دول ګټه پورته کوله افغانستان مستقل هیواد نه وو او نظام یې د اشغالګرو پله خوا جوړ شوی وو اما دادی دوه کاله کیږي چې زمونږ هیواد یو ناپیلی هیواد دی او له دې وروسته هم د کوم پوځي تړون اړتیا نشته او هېڅ هیواد ته پوځي هډو د نه ورکولو په اړه غوڅه پریکړه کړې او اسلامي امارت مشرتابه د بل اشغال او استعمار لپاره سبب نه جوړوي ان شاءالله .

نظام مو الحمدلله د شریعت پرلار روان دی او د دولت مشران د اسلامي سپارښتنو، اصولو او لارښوونو پراساس خپلې چارې مخ ته وړي او د یو ملي وجیبې په توګه د خلکو اړتیاوې پوره کوي او تولنه له فساد او بې عدالتۍ له اوږد مهال رنځ څخه راوباسي او په دې اړه ګرندي هڅې روانې دي په دې ترتیب اسلامي نظام او ولس دواړه مکلف دي چې په خپله تولنه کې د بدو مخه ونیسي.

عبدالغفار کامیاب

# د افغانستان فعلي وضعيت گاو نب ذه بلگي فرصت دی

په افغانستان کې د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته په لومړي ځل یو پیاوړی مرکزي حکومت رامنځ ته شوی، د قدرت جزیرې له منځه تللي، ځمکنۍ بشپړتیا خوندي شوې، د زورواکانو د جبر مخه نیول شوې، ټول افغانان د خپلو مشترکاتو او لویو ارزښتونو په بنسټ د یو ملت په توګه یوموټی شوي او په ګډه د هیواد د ابادۍ لپاره کار کوي چې په عملي ډګر کې یې د پرمختګ ډېرې بېلګې مشاهده کېږي.

دا چې د افغانستان ډېرو ګټو ته د ځینو هیوادونو نیتونه بد دي نو د دې ټولو پرمختګونو څخه سترګې پټوي او هڅه کوي چې په نړیواله کچه دا هیواد نا امنه وښیي او یا یې د سیمې او نړۍ لپاره تهدید وښیي.

د افغانستان فعلي شرائطو ته په کتو واقعیت دا دی چې افغانستان د اوس لپاره او تر څو چې اسلامي امارت وي د چا لپاره تهدید نه دی بلکې د سیمې د امنیت، سیمیز اتصال او د اقتصاد د پیاوړتیا لپاره تر هر وخت ښه فرصت دی. د سیمې هیوادونو ته مسؤلیت ورګرځي چې له دې فرصت څخه د سیمې لپاره مؤثره ګټه واخلي خو متاسفانه چې تر اوسه پورې له دې موضوع سره دوی سطحي برخورد کوي، د ځینو لنډ مهالو ګټو لپاره او د ځینو عادي فشارونو له امله خپلې اوږد مهالې ګټې له پامه غورځوي چې دا هیڅکله سالمه تګلاره نه ده. د سیمې هیوادونه په دې قناعت لري چې د ټولو امنیت د افغانستان تر امنیت پورې اړه لري، تر څو چې دلته امن نه وي تر هغو سیمه نه شي په امن کېدلی او په دې هم قناعت لري چې په افغانستان کې د اسلامي امارت بدیل نشته او دا هم مني چې یوائې اسلامي امارت د مرکزي او پیاوړي حکومت په جوړولو توانېدلی له دوی پرته په افغانستان کې هیڅوک امن هم نه شي راوستلی. د سیمې ځینو هیوادونو تر دا اوسه پورې په خپل مسؤلیت کې ناغېړي کړې ده او ګټه یې هم نه ده کړې، ځکه چې د سیمې ډېرې اقتصادي، سیاسي او امنیتي ګټې تر افغانستان پورې تړاو لري چې له دې پرته یې ترلاسه کول ناشونې دي.

د افغانستان اسلامي امارت په تکراري ډول د سیمې هیوادونو خپله مثبته تګلار روښانه کړې ده، هغه دا چې د متقابل احترام په اساس بې پرې متوازن او مثبت بهرنۍ سیاست یې پالیسي ده، د هیچا په کورنیو چارو کې مداخله نه کوو او نه نورو ته په خپلو چارو کې د لاسوهنې اجازه ورکوو، دا د ټولو ملتونو منلی حق دی چې باید د سیمې او نړۍ ټول هیوادونه درناوی ورته ولري او د خپل جبر، سیاسي تسلط او زور په اساس دا حق له هیڅ یو ملت څخه وا نه خلي.

د افغانستان اقتصادي ستونزې د ټولو مشترکې دي، ګټه د هیچا پکې نشته خو زیان یې شاید ډېرو ګاونډیو ته ورسیږي، خو په دې برخه کې چې څنګه ښایي ګاونډیو هیوادونو د ګاونډیتوب اصل نه دی پاللی او مرسته یې نه ده کړې بلکې بې اساسه تورونه یې هم پورې کړي دي. همدا راز سیاسي انزوا د هیچا په ګټه نه ده چې ډېرۍ ګډ منافع به له لاسه ووځي، خو د سیمې هیوادونو خپل دریځ نه دی روښانه کړی او افغانستان یې په رسمیت نه دی منلی. باور لرم چې د افغانستان اقتصادي او سیاسي ستونزې به په ښه توګه حل شي او شاید ډېر وخت هم ونه نیسي البته د ګاونډیو اوسنۍ جفا به د افغان غیور ملت په زړونو کې تر ډېره وخته پاتې وي.

مفتي محمد بشار

# تيمها وا تروضرۍ اوکيا د!





که چيرې موږ د ليکوالۍ مخينې ته وګورو نو خبره قبل الميلاد ته ځي چې لومړی ليک وليکل شو نو هغه ميخي ليک وو.

که موږ د ليکوالۍ اړخونو ته فکر وکړو نو د ښوونيز نصاب د جوړولو او ليکلو لپاره ورته ضرورت دی او همدارنګه د خلکو د زده کړې د لوړولو لپاره ليکوالۍ ته ډېر ضرورت ليدل کيږي.

د ادبي ارزښتونو د لوړولو او پوهولو لپاره بايد له ليکوالۍ څخه استفاده وشي

په ليکوالۍ باندې د ټولنې نيمګړتياوې، مثبت او منفي نقاط څرګنديږي.

د پخوانيو اثارو د يادښتونو او همدارنګه د تاريخ د ليکلو لپاره ليکوالي ډېر ارزښت لري. همدارنګه په يو علم کې د تحقيق لپاره د ليکوالۍ ضرورت وي.

د علومو د پراختيا لپاره له ليکوالۍ څخه استفاده کيږي او همدا راز ځينو ابهامي کليماتو د وضاحت لپاره ورته ضرورت ليدل کيږي.

هره ژبه په ليکوالۍ غني کيږي او په علم کې يې د لا ارزښت لپاره ليکنې کيږي.

په اوسني عصر کې ځينې نوي کليمات دي چې خلک ورسره نا اشنا دي د هغو کليماتو د حلولو او خلکو ته په ساده الفاظو برابرلو کې ليکوالۍ ته موږ اړتيا لرو لکه څنګه چې په اوس وخت کې ټولنيزې رسنۍ او سوشل ميډيا ډېره کارول کيږي او ټول کسان ورته رسيده ګي لري په دې کې اکثره اشخاص لوستي دي او خپل نظرونه څرګندوي نو د نظرونو د څرګندوالي لپاره ليکنې ته ضرورت شته  که چيرې ليکوالي نه وای او ليکنې نه کيدلای نو ډېر علوم د ابهام په حالت کې پاتې شوي وای او اکثره خلک به د ځينو علومو په پوهېدلو کې زياتې ستونزې درلودلې ددې لپاره په اوس وخت کې ليکوالي ته ډېر ضرورت ليدل کيږي.

**محمد آغا حيدري**

# دکتورین نظامی

شیوه های جنگی نسبت به سده های قبل بصورت غیر قابل باور تغییر نموده است. تحقیقات نشان داده است که بیشترین منازعات مسلحانهٔ معاصر، در داخل کشور ها رخ میدهد تا میان دولت ها.

در عصر معاصر ستراتیژی ها، تجهیزات، وسایل و شیوه های جنگی به اندازهٔ پیچیده شده است که ندرتاً در سده های قبل پیش بینی شده بودند، سلاح های اتوماتیک، طیارات بدون سرنشین، انواع راکت های میان بورد و دوربورد مثال خوب از این نوع اند. از این حقیقت نیز چشم پوشی شده نمیتواند که منازعات مسلحانه همچنان به بهای تکاندهندهٔ حیات بشر تمام میشود. روی این اصل ضرور پنداشته میشود تا در خصوص تدوین و پیشبرد امورات نظامی از تجارب، مفکوره ها، اندیشه ها ونظریات متخصص حرب استفاده اعظمی شود.

در افغانستان مانند هر جامعهٔ دیگر بعد از ایجاد نیروهای مسلح بمنظور دفاع از استقلال و آزادی، حاکمیت ملی، تمامیت ارضی و منافع ملی دکتورین نظامی شکل گرفته است. تاریخ نظامی نیروهای مسلح افغانستان مانند تاریخ نظامی جهان از دوقسمت (تاریخ اردو و تاریخ حرب) تشکیل گردیده و مشعل راه آزادی و آزادگی نسل های آینده است که تاریخ اردو از نوعیت اردوها و تاریخ حرب از نوعیت استعمال و به کارگیری نیروهای مسلح در دوره های گذشته بیان میکند. بناءً به تمام قدمه های نیروهای دفاعی و امنیتی کشور، مطالعه و دانستن مبارزات آزادی خواهی و حماسه آفرینی های ملت با شهامت افغان در برابر متجاوزین یک امر ضروری است. موقعیت جغرافیایی افغانستان ایجاب می نماید که دکتورین نظامی بخصوص دکتورین نظامی دفاعی در جهت ساختار تشکیلات و تعلیمات نیروهای دفاعی به هدف دفاع و حراست از جغرافیایی کشور را در مطابقت با خصوصیات و شرایط اراضی و اقلیمی نظریات، مفکوره ها، روش ها ومیتود های مناسب و کارآمد را جهت تدوین اسناد رهبری کننده و رهنمایی کننده پیشکش نمایند. وزارت دفاع ملی سعی می دارد تا در مطابقت به پالیسی امارت اسلامی افغانستان (حفظ ارزش های اسلامی و ملی، حفظ استقلال، منافع ملی، تمامیت ارضی، احترام متقابل، تساوی حقوق و عدم مداخله، حُسن همجواری و همچنان احترام به منشور سازمان ملل متحد، معاهدات بین الدول و میثاق های بین المللی) ضمن انجام رسالت عظیم دفاع از کشور، مسئولیت رهبری، انسجام، پلانگذاری و ارزیابی انکشاف دوکتورین دفاعی را بصورت دوامدار که به شالوده و شیزارهٔ همکاری های همه جانبه و روابط دوستانه و متقابل با کشور های همجوار، منطقه و جهان و سهمگیری فعال در سیستم های امنیتی منطقوی و در صورت نیاز، جهانی بنیان گذاری شده باشد، عمل نماید. کوشش برای دریافت روش های حل منطقوی، انکشاف همزمان روابط اقتصادی در میان کشور های منطقه بصورت روز افزون قابلیت ما را در تأمین امنیت، ثبات دایمی منطقه و جهان تعیین و تثبیت نموده و کرکتر دکتورین دفاعی ما را تعین و توجیه خواهد کرد. تا آن جایی که به عرصهٔ نظامی مربوط میگردد بادرنظرداشت حفظ حاکمیت ملی و تمامیت ارضی در جغرافیایی که افغانستان قرار دارد، دکتورین ما در اصل دفاعی بوده و بر اساس دفاع مثبت سیال و بازدارنده پیریزی می گردد، در صورت تغییرات سیاسی و اجتماعی در منطقه و انکشاف ظرفیت ها و توانمندی های دفاعی، در تطابق با آن دکتورین حربی عیار و متوازن خواهد شد. دکتورین نظامی دفاعی مجموعه ی از اصول اساسی، قواعد، نظریه ها، اندیشه ها، زیربنای فکری و اصول بنیادی مورد قبول و حمایت ملی است که توسط رهبران نظامی سیاسی کشور و با توجه به دکتورین امنیت ملی و اندیشه نظامی حاکم بیان می شود. دکتورین های نظامی بالاترین و کلان ترین قواعدی هستند که در ساختار نظامی یک کشور تعریف می شوند. در معنای عام، دکتورین را نظریه و تعالیم علمی، فلسفی، سیاسی، مذهبی و مجموعه‌ای از نظام‌های فکری می‌دانند که مبتنی بر اصول معینی باشد.

درمفهوم نظامی آن، دکتورین در سه سطح ستراتیژیکی، اوپراتـیفی و تکـتیکی تعریف می‌شود. دکتورین نظامی خود می‌تواند بخشی از یک فلسفه یا ایدئولوژی نظامی و یا حاصل یک یا چند نظریه نظامی باشد و یا در چارچوب چند نظریه نظامی مطرح و ارائه گردد. این که از چه مسیری از وضع موجود به وضع مطلوب برسیم را ستراتیژی تعیین می‌کند و درواقع پاسخی است برای سؤال "چه باید کرد؟".

اما دکتورین پاسخی است برای "چگونه باید عمل نمود؟" دکتورین، خطوط و علایم راهنمایی است که برای حرکت در مسیر(ستراتیژی) باید مورد توجه قرار گرفته و رعایت شود.

از دیدگاهٔ متفکرین ملکی و نظامی؛ دکتورین بمثابهٔ ارائه دهندگان نظریات، پیشکش کنندگان طرز تفکرها، تدوین کنندگان روش ها و میتود ها و همچنان پایه و اساسِ شکل گیری تحقق ستراتیژی امنیت ملی قبول گردیده است. دکتورین به ما می آموزاند که چگونه میتوانیم فعالیت های تعلیمی، محاربوی، اداری، لوژستیکی، تامینأتی، حمائیوی و در مجموع هرنوع فعالیت نظامی را با مؤثریت بیشتر در راستای تحقق اهداف ملی نظامی مورد اجرأ قرار دهیم. ضمناً دکتورین به ما کمک می نمائید که با استفاده از تکنالوژی معاصر، اسلحه و تخنیک مُدرن نظامی و استعمال قابلیت ها و ظرفیت های موجود و تعیین کرکتر مبارزه نظامی، مطالعه و تشخیص اراضی و پیشبرد مـــــؤفقانهٔ امورات، با اطمینان تصمیم گیـــــــری نمائیم. دکتورین نظامی اصطلاحی رسمی برای اشاره به مـــــــجموعه ای از نظرات و دانش نظامی است که اردو (ارتش) در زمان مناسب آن را می‌پذیرد.

در این دکتورین ماهیت جنگ، شیوهٔ آماده‌سازی اردو برای جنگ و شیوهٔ درگیری در جنگ به منظور دستیابی به پیروزی مشخص می‌شود.

این دکتورین بیش از آن که دستوری باشد، توصیفی است و در زمان اجرا نیاز به تفسیر دارد. بادرنظرداشت نکات ارائه شده میتوانیم یک تعریف مشخص برای دکتورین نظامی دفاعی داشته باشیم؛ دکتورین عبارت از پرنسیب های اصلی و اساسی می باشد که با استفاده از آن قوت های نظامی وظایف و فعالیت های شان را به منظور حمایه از اهداف ملی تنظیم و به پیش می برند. این پرنسیب ها مفکورهٔ نظریات مجموعی اردو را نسبت به اوپراسیون های گذشته، حال و آینده انعکاس می دهد (یعنی مجموعهٔ از نظریات، عقاید و مفاهیمِ است مطابق به حقایق علمی و مسلکی برای انجام تمام فعالیت ها). باید خاطر نشان کرد که پرنسیب به معنی اساس و بنیاد است و یا عمل، رفتار و سلوک انسان در تربیه است و در اصطلاح به معنی بنیاد اصول اساسی و یا تهداب می باشد که قاعدهٔ اساسی را افاده می کند و یا به عبارهٔ دیگر، قواعدی است که طبق اساسات و فعالیت های مختلف کاری عیار می گردد. با توجه به اینکه دکتورین نظامی بستر و وسیلهٔ برای تحقق اهداف نظامی می باشد، دورس و تجارب آموخته شده نیز یگانه منبع برای انکشاف و اصلاح دکتورین نظامی بالاثر حصول نتایج ارزیابی ها از جریان فعالیت های تعلیمی، پلانگذاری و پیشبرد عملیات های محاربوی می باشد. دورس و تجارب آموخته شده به واحد های اردوی اسلامی ملی کمک می کنند که با استفاده از آن، دکتورین نظامی ارتقای قابلیت ها و توانایی های قوت ها را انکشاف دهد تا بتواند در هر نوع شرایط تعلیمات و عملیات خویش را بادرنظرداشت نوع تهدید و تحرک دشمن، پلانگذاری، رهبری و سوق و اداره نمایند. دورس و تجارب آموخته شده، بعد از تحلیل و تجزیهٔ معلومات ها، نظریات، تجارب و مشاهدات فعالیت های قطعات، جزوتام ها و تمام پرسونل، آموزش، استفاده و استعمال اسلحه، تخینک و تکنالوژی بدست می آید. تجارب آموخته شده یعنی؛ بررسی، ارزیابی و نتیجه گیری وظایف انجام شده توسط افراد، گروپ ها، جزوتام ها، قطعات و قرارگاه ها به منظور برملاساختن نکات مثبت و منفی فعالیت های محاربوی و بهترین تمرینات و تعلیمات نظامی اجرأ شده و استفاده از آن در اجرای بهتر وظایف آینده می باشد که یک پروسیجر ستندر عملیاتی است و در اکثر اردوهای کشور ها عام بوده و یک تجربهٔ موفق برای انکشاف دکتورین نظامی تلقی میگردد.

**عبدالاحد"مُدبر"**

# د زورواکو په نړۍ د زورواکي اوربدل کیږي

د نړۍ په تاریخ کې زورواکانو خپل تسلط ساتلی او د تل لپاره یې د حق مخه ډب کړې ده، حق په پیل کې کمزوری وي او زورواکانو یې ژبه ور بنده کړې ده، که څه هم زورور په ناحقه وي خو خلک یې منلو ته مجبور وي او حقپال ته څوک غوږ نه نیسي.

دا دود په کورنۍ او کلي کې هم وي، خلک تل د زورواکي او شریر خبرو ته چکچکې وهي او ستاینه یې کوي، بې وزله یا کمزوری چې هر څومره په خپل موقف کې رښتونی او په حق وي خو خلک هیڅ پاملرنه نه ورته کوي.

دا خبره زموږ په روان پېر کې په نړیواله کچه ډېره ښه ښېلګه لري، امریکا او روسیه په ځانګړې ډول او د ملګرو ملتونو د سازمان پنځه دائمي غړي په عمومي ډول د نړۍ د سیاسي تسلط واکداران دي، په دوی پنځو کې یو هم مسلمان نه دی او نه هم اسلامي ارزښتونو ته په درناوي قائل دي. که څه هم دوی په نړیواله کچه د ملګرو ملتونو سازمان د نړیوالې بشري ټولنې لپاره د ټولو ستونزو د مذاکراتي حل یواځینی مرجع بولي او په هر څه چې دلته پرېکړه کیږي هماغه حق ورته ښکاري که څه هم حق نه وي، بلکې تر دې ور ها خوا دوی له همدې سازمان څخه یواځې د یوې توطیې په توګه ګټه اخلي او بیا هم د خبرو او نړیوال تفاهم پر ځای پر جنګ ټینګار کوي، داسې اسلحې او بمونه جوړوي چې د نړۍ امنیت خراپولی شي، د یوې هیواد بشپړه ابادي له منځه وړلی شي، ایټمي اسلحې او داسې پرمختللې الوتکې جوړوي چې په یوه ساعت کې لسګونه میله ساحه پرې سوځولی شي. که څه هم دوی ځانونه د بشري حقوقو ساتونکي او نړیوال داعیان بولي، د سازمان دائمي غړي د انساني خواخوږۍ او بشري درناوي علمبرداران او د جنګ مخالفین ګڼي خو همدوی بیا د نړۍ په ډېرو بې وزلو هیوادونو کې خپل قوت ښودلی دی، بې ګناه خلک یې وژلي، اسیران کړي، بې عزته کړي، په سپیو یې داړلي، هیوادونه یې اشغال کړي او د ډېرو هیوادونو حریمونه یې نقض کړي دي. په داسې بد حالت کې چې د نړۍ له هر اسلامي هیواد څخه یو څوک د اسلامي نظام غږ پورته کوي او د اسلام د ثقافت، نظام، ارزښتونو، اصولو، تګلارو او شرائعو یادونه کوي نو دوی یې بشر ضد عمل بولي، سره له دې چې اسلام د امن او جنګ دواړو حالتونو لپاره داسې اصول ټاکلي دي چې د بشري درناوي په تر ټولو غوره معیار برابر دي. اسلام په جنګ کې د سپین ږري، ماشوم، مېرمنې او غیرمحارب وژنه ناروا بولي، خو دوی په ډېرو هیوادونو کې د جنګونو پر مهال ماشومان، مېرمنې، ناروغان او په ودونو کې ناوې او زوم دواړه شهیدان کړي او په زرګونو بې ګناه خلک یې وژلي دي.

د امن په حالت کې یې د عهودو (تړونو) د ژمنتیا امر کړی دی، که یو مسلمان کافر ته امن ورکړي نو هغه به داسې وي لکه ټولو مسلمانانو چې امن ورکړی وي او هیڅوک یې بیا وژلی نه شي، بلکې اسلامي نظام به یې د ځان، مال او عزت ساتنه کوي.

کوم ذمي چې د اسلامي نظام تر چتر لاندې ژوند غوره کړي او جزیه پر ځان ومني نو مسلمانان له هغه څخه زکات نه اخلي، عشر او خراج نه ترې اخلي، کله چې یې عمر ډېر شي او د کار کولو توان نه لري نو د مسلمانانو امیر له بیت المال څخه د ده لګښت ورکوي.

دا او دې ته ورته د اسلام نور زرین قوانین د امن او جنګ پر مهال داسې روښانه دي چې هیڅ یو مسلمان یې په دواړو حالتونو کې سرغړونه نه شي کولی، له همدې امله د اسلام په څوارلس سوه کلن اوږد تاریخ کې داسې پېښه نه موندل کیږي چې په هغه کې دې د مسلمانانو یوې ډلې د دې قوانینو څخه سرغړونه کړې وي. په دې ټولو ښېګڼو سربېره په نړیواله کچه د مسلمانانو غږ څوک نه اوري او که څوک د داسې اسلامي نظام غږ پورته کړي نو په ډېر جبر یې د مستکبرین له لوري مخه نیول کیږي، ځکه چې په نړۍ کې د زورور اوربدل کیږي که څه هم په ناحقه وي او د کمزوري مخه نیول کیږي که څه هم په حقه وي.

په داسې حالت کې الله تعالی جل جلاله مسلمانانو ته د اعداد امر کوي، فرمايي: وَ أَعِدُّوا۟ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللهِ وَ عَدُوَّكُمْ.

ژباړه: تاسې د دوی په مقابل کې چمتووالی ونيسئ څومره چې مو قوت او اس څغلونه په توان کې وي تر څو تاسې د الله او خپل دښمن پرې ووېروئ.

که مسلمانان د الله تعالی دا حکم ومني او په قوت کې ځانونه سيال کړي نو بيا به نړۍ مجبوره وي چې خبرې ته يې غوږ ونيسي او حق ته مات شي.

خو له دې حالته د راوتلو لپاره د نړۍ د بېلابېلو هيوادونو اسلامي ډلو په بېلابېلو لارو غور وکړ، ځينو يې محض سياسي ډګر خپل کړ او حتی د ډيموکراسۍ په بازار کې د دين سودا خرڅوله چې ګوندې د ټاکنو له لارې به ځواک ترلاسه کړي او بيا به په پايله کې اسلام تطبيق کړي.

ځينو يې محض د زور لار خپله کړه خو تر شا يې پلان او ستراتيژي نه درلوده چې تر يو وخته پورې يې ادامه وکړه او بيا ختم شول، ځکه چې خلک په يو مسير هغه مهال ځي کله چې يې اهداف او ستراتيژي روښانه وي.

البته کومه لار چې د اسلامي امارت زعيم اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله خپله کړه هغه په يقيني ډول د دې بد حالت څخه د امت د خلاصون يواځينۍ الهامي تګلاره وه چې له ستونزو ډکه اوږده اغزنه لار باندې له اوږد مزل وروسته بريا ته ورسېده.

اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله علماوو ته په وينا کې ووېل: د قرآن کريم دا آيت ماته هم معلوم دی: لَايُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا. الله تعالی انسانان تر خپله وسه مکلف کړي دي. خو د دې اسلام د برم او پرتم اعاده ځينو داسې خلکو ته هم اړتيا لري چې هغوی توکل محض وکړي، توکل محض په دې معنی چې په اسبابو به تکيه نه کوي، د ځانګړو سپېڅلو اهدافو لپاره به قرباني ورکوي او بيا به دا فکر هم نه کوي چې دا اهداف به کله او څه ډول ترلاسه کېږي، خو په عين حال کې يې د سياست په ډګر کې هم خپله تګلاره روښانه کړه او له نړۍ سره يې د تعامل لپاره له وضعي قوانينو پرته محض د اسلام تګلار اعلان کړه.

د افغانستان اسلامي امارت د نړۍ د ټولو زورواکانو او مستکـــبرينو يوې ټولګې (ناټوګۍ) سره شل کاله په بې وسۍ او تنهايي کې داسې جهاد وکړ چې مجاهدينو له الله تعالی پرته پر بل هيڅچا تکيه نه کوله، د جهاد د سنګر له تودې جګړې سره په څنګ يې د سياسي مذاکراتو دروازه هم پرانستې پرېښوده او د مذاکراتو لپاره يې هم نړيوالې ټولنې ته يو پياوړي ټيم وټاکی چې هغوی خورا زيات سياسي بصيرت درلود، د استدلال قوت پکې و او د افغانستان او اسلام قضيې ورته واضحې وې چې له دې اوږدې مبارزې وروسته يې په دواړو ډګرونو کې بريا ترلاسه کړه.

خو نن چې په افغانستان کې اسلامي نظام حاکم شوی دی بيا هم د غرب له لوري همدا ډنډورې غږول کېږي چې ګواکې دوی د بشر ضد دي، د مېرمنو ضد دي او بشري قوانين تر پښو لاندې کوي.

که څوک د امريکا شل کلن نظامي حضور سره د اسلامي امارت د حاکميت درې کاله پرتله کړي نو هيڅکله به دا پرتله مناسبه ونه بولي، ځکه چې هغه مهال بې ګناه ماشومان، مېرمنې او سپين ږيري اسيران کېدل، بمبارېدل، بې پته کېدل او وژل کېدل او هره ورځ له دوه نيم تر درې نيم سوه افغانان وژل کېدل خو اوس مهال په ټولو درې کلونو کې دومره انسانان نه دي وژل شوي او نه په هغه پيمانه بنديان شته څومره چې هغوی بې ګناه او بې محکمې په وحشي زندانونو کې ساتلي وو.

خو په دې ټولو سربېره د يو مسلمان په توګه په هغو ځوانانو زوربړم چې په نامه مسلمانان دي، باور لري چې له افغانستان سره خواخوږي لرو او له غربي تمدن څخه متاثر شوي چې نن په اسلام او اسلامي نظام د غرب په ژبه نيوکې کوي.

البته په دې باور لرم چې که موږ د دې نظام په استحکام او پايښت کې بريالي شو نو د وخت په تېرېدو به افغانستان دومره پرمختګ وکړي چې دوی به په خپلو ديني اقدارو بيا باور ترلاسه کړي او له زړه نه به قناعت پرې وکړي.

په همدې هيله چې يو موټی، پرمختللی په اسلامي نظام محکم او سيال افغانستان ولرو

مفتي محمد "بشار"

فصلنامه اردو

















# تعهد نیروهای اردوی اسلامی ملی دفاع از وطن و ارزشهای ملی کشور

وزارت دفاع ملی امارت اسلامی افغانستان بطور خاص اردوی اسلامی ملی به اساس تعهد و مکلیفت های مسلکی که در راستای دفاع از وطن و حاکمیت ملی کشور دارند، نقش و وظایف اساسی را در تامین امنیت، رفاه، آسایش، رشد اقتصادی و بهبود زندگی مردم مطابق به پالیسی امارت اسلامی افغانستان و اسنادهای رهنمودی و رهبری کننده وزارت دفاع ملی وظایف خویش را ایفای مینمایند، آنها با نهایت جانبازی و فداکاری به منظور ایجاد حکومت داری خوب و فضای امن برای مردم در ساحات مسئولیتشان با تشریک مساعی و هماهنگی لازم با سایر نیروها وظایف خویش را انجام داده و میدهند زیرا نیروهای دفاعی و امنیت امارت اسلامی مخصوصاً اردوی اسلامی ملی با گذشت هر روز مورد تائید، احترام و حمایت مردم در گوشه گوشه ای از افغانستان قرار گرفته، و آنها هم وظایف ملی و مسلکی شانرا به وجه احسن انجام داداه همچنان نیروهای امنیتی و دفاعی امارت اسلامی با وصف تامین امنیت شهروندان که شب وروز در خدمت مردم بوده کمک و همکاری را با مردم وظیفه اصلی شان میدانند و در سایر بخش نیز با مردم کمک مینمانند بطور مثل در حوادث طبیعی (زلزله) که اخیراً در ولسوالی زنده جان ولایت هرات رخ داده است نیروهای اردوی اسلامی ملی با تمام وسایل دست داشته خویش فوراً برای انتقال، تداوی زخمیها و بیرون آوردن گیرماندگان، شهیدان از زیر خاک و توزیع اعاشه گرم برای نجاد دادهگان و به کمک مردم اهالی ولسوالیهای ولایت هرات، هچنان قوماندانی لوای انتقالات وزارت دفاع ملی با صدها عراده وسایط انترنشنل و پرسونل اردو اسلامی ملی به منظور کمک و همدردی با مهاجرین که از مرزهای افغانستان که به دستور غلط مقامات کشور پاکستان انجام یافته پرداخته و وظایف دینی، اسلامی و انسانی خود را انجام داده و از هیج نوع کمک و همکاری دریغ نورزیده که این اصل باعث محبوبیت اردوی اسلامی ملی در بین مردم شریف و نجیب افغانستان به طورخاص مردم ولایت هرات گردیده است.

وزارت دفاع ملی مطابق به اسنادهای رهنمودی و پلانگذرای پروسه پیشبرد تعلیم و تربیه داشتن حاکمیت بالای تحنیک و اسلحه دست داشته، حفظ و مراقبت از آن یکی دیگری از وظایف نیروهای دفاعی و امنیتی میباشد و یگانه وسیله ارتقای قابلیتهای محاربوی منسوبان قطعات و جزوتامهای اردوی اسلامی ملی را تشکیل داده و موجب پیروزی آنها در حضر و سفر گردیده است زیرا. دفاع از وطن حاکمیت ملی و تمامیت ارضی وظایف هر منسوب سکتور دفاعی و امنیتی امارت اسلامی مخصوصاً اردوی اسلامی ملی بوده که در برابر انجام این رسالت ملی آنها در تامین امنیت، استقرار صلح و ثبات دایمی در ساحات مسئولیت خویش آنها را متوجه میسازد و از اهمیت خاص نیز برخودار می باشد. همچنان این اهداف عالی فوق روز تا روز تحقق پیدا میکند چون نیروهای اردوی اسلامی ملی بازیور علوم فنون مسلکی و نظامی مجهز بوده و با گذشت هر روز عملکردها و فعالیت های تکتیکی، اوپراتفی و ستراتیژیکی شان به اساس درک سالم از اوضاع امنیتی کشور و در تامین امنیت، که هماناً خواست مبرم مردم میباشد تحکیم میبخـ شند.

زیرا منسوبان اردوی اسلامی ملی با وصف آن که تامین امنیت مردم شریف افغانستان در اولویت کاری ساحات مسئولیت شان میباشند، پروسه تعلیم و تربیه محاربوی و عقیدتی را در محراق توجه خویش قرار داده و سایکلهای تعلیمی را نوبت وار در وضع الجیش های اصلی شان به طور متداوم جهت ارتقای ظرفیتهای مسلکی خویش توجه اعظمی مبذول داشته و بالای پرسونل تطبیق مینمایند چناچه سپاهیان دلیرامارت اسلامی افغانستان با مدیریت سالم عملیاتهای محاربوی تعلیمی خود تحکیم بخشیده.

**بقیه در صفحه ۴۵**...........

# جایگاه، اهمیت و ارزش سال هجری در اسلام



بشر از ابتدای آفرینش، به شب و روز، سال و ماه و گردش خورشید، زمین و ماه توجه داشته و پذیرفته است که بر اثر گردش خورشید و ماه و زمین، شب و روز پدید می‌آید و شمارش روزها هم مورد توجه بوده است. این که کدام یک از خورشید و ماه و زمین گرد یکدیگر می‌گردند، دیر زمانی مورد بحث بوده که از بحث ما خارج است.

آنچه مورد بحث ما است، تقویم یا گاه‌شماری است و آنچه بیشتر مورد توجه است، گاه شماری اسلامی است که به هجری با مبدا هجرت رسول الله صلوات الله علیه از مکه به مدینه، معروف است. برای رسیدن به تقویم، با مبدا هجرت رسول‌الله(ص) لازم است برای مشخص شدن بحث، کمی به عقب برگردیم که با سابقه گاه‌شماری در عربستان که مهبط وحی است.

آنچه مسلم است، در عربستان از زمان حضرت ابراهیم خلیل‌الرحمن"ع"که کعبه را براساس آنچه حضرت آدم‌ابوالبشر بنا نهاده بود، احداث کرد، ماه ذیحجه، به عنوان ماه حج، تعیین شد. تعیین این ماه برای حج دو پیام داشت، یکی اینکه جامعه آن روز، با اسامی ماه‌ها آشنایی داشتند و فاصله زمانی یک ماه را می‌شناختند، دوم اینکه یک ماه را براساس حرکت ماه و تغییر شکل هرشبه ماه و یک بار گردش ماه دور زمین، محاسبه می‌کردند.

تا اینجا مشخص شد که: آنها گردش ماه در آسمان را از هلال ماه شب اول، تا افول ماه در شب‌های آخر را به عنوان یک ماه قبول داشتند و برای هر ماهٔ هم یک نامی گذاشته بودند. اینکه وجه تسمیه هرماه چه بوده است، بدان نمی‌پردازیم.

مردم عربستان هردوازده ماه را به عنوان یکسال محاسبه می‌کردند و حرکت ماه و تغییرات آن در آسمان را روزشمار، بحساب می‌آوردند. از آنجا که گردش هرشب ماه در آسمان به یک شکل جلوه می‌کند همه مردم با مشاهده جایگاه ماه در آسمان و از روی شکل ماه، می‌دانستند که امشب چندم ماه است.

نکته دیگر، یک سال قمری بود که از ۱۲ ماه تشکیل می‌شد، هر ماه قمری براساس گردش ماه دور زمین، براساس مشاهده هلال ماه جدید، ۲۹ روز یا ۳۰ روز، ۳۵۴ یا ۳۵۵ روز است. مشکل سال قمری برخلاف سال شمسی این بوده و هست، که با فصل همراه نیست و نمی‌توان مطابق طبیعت این تقویم را تنظیم کرد. برای رفع این نقیصه، تقویم کشاورزی را مطابق سال شمسی تنظیم می‌کردند چرا که سال شمسی ۳۶۵ یا ۳۶۶ روز بود و ۱۰ روز بیشتر از سال قمری است.

در عربستان قبل از اسلام، بدلیل روزهای کم سال، برای اینکه سال آنان با فصل مطابقت

داشته باشند، تصمیم گرفتند هرسه سال یک یکبار، یک ماه را به سال سوم بیافزایند این یک ماه اضافه را "نسی" به معنای فراموشی، نامگذاری کردند، درست مانند تقویم امروزی که سه سال یکبار، حوت را ۳۰ روز محاسبه کرده و به آن سال "کبیسه" می‌گویند، آنها هر سه سال، سال سوم را سیزده ماه می‌گرفتند، با این فراموشی یک ماه در سه سال، با "نسی" سال قمری را با فصل وسال کشاورزی مطابقت می‌داد.

در دوره قبل از اسلام، در تقویم سالانه یک اتفاق دیگری هم رخ داد و آن، تعیین ماه‌های حرام بود. در این تعریف ۴ ماه از سال را حرام اعلام می‌کردند. در این ۴ ماه حرام، کشتن و غارت و دزدی و حمله ناجوانمردانه و جنگ بین قبایل و... ممنوع بود.

این ۴ ماه عبارت بودند از ماه‌های "رجب، ذیقعده، ذیحجه، محرم". برای حرمت هر یک از این ماه‌ها که حرام اعلام کرده بودند، دلیل داشتند. حنفای پیرو حضرت ابراهیم"ع"، ماه رجب را ماه عبادت و بندگی می‌دانستند و در این ماه به اعتکاف و عبادت می‌پرداختند. برای اینکه بتوانند بدون دغدغه و نگرانی، عبادت کنند، ماه رجب را ماه حرام اعلام کرده بودند که موحدان پیرو دین حنیف ابراهیم، در آرامش و آسایش عبادت کنند. ۳ ماه دیگر حرام هم به اعمال حج ابراهیمی اختصاص داشت.

دست اندرکاران حج به خاطر عبور کاروان‌ها با هدف مکه، برای انجام مناسک حج، ماه ذیقعده، ذیحجه و محرم را حرام اعلام کردند چرا که حاجیان از ابتدای ذیقعده با کاروان‌های حج به سمت مکه حرکت می‌کردند و ذیحجه را در مکه برای انجام مناسک حج می‌ماندند و محرم را برای بازگشت انتخاب می‌کردند و با تعیین ماه‌های حرام کاروان‌هایی که در مسیر حج رفت و آمد داشتند، حداقل در سرزمین عربستان از دستبرد راهزنان و غارتگران در امان بودند.

تا اینجای بحث مشخص شد: قبل از اسلام ۱۲ ماه را قبول داشتند و برای هرماه، یک نام گذاشته بودند. روزهای ماه را براساس گردش ماه و تغییرات ماه وپیدایش وافول ماه می‌شناختند و برای هر شب ماه هم نامی گذاشته بودند، مثل؛ هلال برای شب اول یا بدر کامل برای شب پانزدهم و. ...

قبل از اسلام، ۴ ماه را حرام می‌دانستند و هر سه سال، یک سال را سیزده ماه می‌گرفتند. این جماعت سال‌شماری به معنای شمارش مسلسل امروزی نداشتند، این نقیصه در تقویم عربستان قبل از اسلام بود، درحالی که در آن زمان، سال شماری مسلسل هم در سایر نقاط رایج بود و هم در روم، اما عرب براساس "یوم‌العرب" سال شمار خود را تغییر می‌داد، بدین صورت که اگر اتفاق بزرگی به وقوع می‌پیوست، آن اتفاق، مبنای تاریخ آنان می‌شد. برای مثال؛ واقعه‌ای که برای ما هم آشناست، واقعه حمله لشکر ابرهه با فیل به مکه بود. سالی که این واقعه اتفاق افتاد را سال فیل (عام الفیل) نامگذاری کردند. پیامبر اعظم صلوات الله علیه دراین سال بدنیا آمده است، برای همین می‌گویند؛ تولد پیامبر(ص) در سال فیل یا عام‌الفیل بوده است. این سال‌شماری با مبدا فیل ۴۰ سال بیشتر طول نکشید، پیامبر خاتم حضرت محمد صلی‌الله علیه و آله و سلم در سال ۴۰ فیل، مبعوث شده است.

بعد از سال ۴۰ فیل،کسی به سال فیل، توجه ندارد چرا که بعثت پیامبر صلی‌الله علیه و آله و سلم بالاتر و اولاتر از واقعه فیل بوده است. مسلمانان سال اول را سال اول بعثت و سال دوم بعثت را سال شماری می‌کردند تا اینکه هجرت پیامبر(ص) تحقق پیدا کرد، سال‌شماری با مبدا هجرت آغاز شد و سال‌شماری با ایام بعثت تمام شد و سال اول هجرت مطرح شد. سال دوم که اجازه جنگ داده شد، سنه القتال نام نهادند و سال سوم چون غزوه احد اتفاق افتاد، گفتند "سنه الاحد" و همین‌طور سال دهم حجه الوداع والی آخر... . اینکه تقویم سال‌شماری ما مسلمانان هجری است در زمان دیگری اتفاق افتاده است که در ادامه به آن پرداخته خواهد شد.

**برخورد اسلام باتقویم قبل از اسلام**

از ویژگی‌های اسلام، این است که در برخورد با فرهنگ‌های متعدد با رعایت خط قرمزها، با فرهنگ‌ها مطابقت داده و محدودیتی جز خط قرمزها برای خود قائل نیست و این نقطه مهم و مثبت دین اسلام است.

اسلام با نزول آیه ۳۶ سوره توبه "إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ الله اثْنا عَشَرَ شَهْراً فِی کتاب الله " ۱۲ ماه قمری را پذیرفت و در ادامه این آیه "یوْمَ خَلَقَ السَّماواتِ وَالارضَ مِنْها أَرْبَعَة حُرُم ذلِک الدِّینُ الْقَیمُ فَلا تَظْلِمُوا فِیهِنَّ أَنفُسَکمْ" (التوبة ۳۶) بر ۴ ماه حرام که در فرهنگ عربستان قبل از اسلام بود،صحه گذاشت.

در آیه دیگر، در خصوص هلال ماه و گردش ماه، در پاسخ به سوال مسلمانان می‌فرماید: "یسْأَلُونَک عَنِ الْأَهِلَّةِ قُلْ هِی مَوَاقِیتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ " درباره هلال ماه از شما سوال می‌کنند بگو برای وقت‌شناسی مردم و تعیین ایام حج است.

با توجه به نکات اشاره شده، اسلام تقویم ماه‌های قمری، ۱۲ ماه قمری و ۴ ماه حرام را پذیرفته است و تا امروز این تقویم اعتبار دارد.

**تقویم مسلمانان با مبدا هجری قمری**

در منابع تاریخی آمده است ( قبل از اسلام در بین مردم تاریخ عیسوی مروج بود و در اوایل ظهور اسلام، در بین مردم تاریخ کدام ارزش و اهمیت خاصی نداشته و کسی به آن توجهٔ هم نداشت. در این موقع اهل الحل و العقد نزد خلیفه وقت حضرت عمر فاروق "رض" رفتند تا در این مورد اقدام و فیصله بعمل آید. در سال ۱۷ هجرت، روزی نامه‌ای از جانب ابی موسی اشعری "رض" مواصلت ورزید (از اینکه به کشورها و پادشاهان نامه فرستاده میشود، هیچ گونه تاریخی در آن درج نیست، بهتر آن خواهد بود که در نامه ها تاریخ درج گردد که خالی از فایده نیست، بگونهٔ مثال؛ مشخص میگردد که حکم به کدام تاریخ صادر شده، در چی زمان به پادشاه کشوری رسیده و به کدام تاریخ حکم عملی شده و همچو موارد....) این سوال مقدمه‌ای شد برای یک تغییر و نشانی از تمدن.

این مشوره و متن نامه مورد قبول خلیفه دوم حضرت عمر فاروق "رض" قرار گرفت و مجلس بزرگ از علما و اهل الحل العقد را فراخواند و در رابطه به تعین تاریخ، اهمیت آن و آغاز آن به گفتگو و رایزنی پرداختند. موضوع تقویم سالشماری در جمعی مطرح شد و بحث به مبدا تاریخ رسید. هریک از اعضای حاضر پیشنهادات و نظریات ارائه دادند. بعضی از صحابی کرام "رض" گفتند میلاد پیامبر و تعداد دیگری بعثت پیامبر صلوات الله علیه، و عدهٔ گفتند که سال رحلت و وفات پیغمبر "ص" اساس سال اسلامی قرار داده شود، اما کثیر از علما و صحابی آغاز هجرت را ترجیح می دادند به دلیل اینکه هجرت پیامبر"ص" باعث فرق بین حق و باطل گردید، مسلمانان به راحتی نفس کشیدند و بطور اشکار عبادت الله عزوجل آغاز گردید، سنگ تهداب مسجد نبوی در همین سال گذاشته شد، هجرت نبی کریم"ص" موجب رشد و گسترش و عظمت اسلام شده است و سایر خصوصیات دیگر.)

"پوهنمل ضبغت الله".

حضرت عمر فاروق"رض" بعد از فکر و اندیشه زیاد و براین اساس پیشنهادات و نظریات فیصله نمود تا هجرت پیامبر(ص)، به عنوان مبدا تاریخ اسلامی شناخته شود. با توجه به اینکه هجرت پیامبر"ص" درشب اول ربیع الاول اتفاق افتاده بود، اول محرم همان سال را ۱/۱/۱ اعلام کردند.

از آن سال به بعد سلسله سال‌های هجری مورد استفاده قرار گرفت و همه اتفاقات بر اساس تقویم اسلامی بامبدا هجرت براساس سال قمری، بدون نسی، ثبت شده است. اصولاً روح هجرت، همان فرار از ظلمت به نور، از کفر به ایمان، از گناه و نافرمانی به اطاعت فرمان خدا است.

در حال حاضر در افغانستان، تقویم رسمی کشور هجری قمری است. براساس محاسبه گردش زمین به دور خورشید، در دوازده ماه، نام گذاری شده که در افغنستان هر دو تقویم هجری شمسی و هجری قمری مطرح است و در کشورهای عربی به جای هجری‌شمسی از تاریخ میلادی استفاده می‌کنند چرا که تقویم میلادی هم بر اساس تقویم شمسی محاسبه می‌شود.

**منابع**:


محمد (ص) خاتم پیامبران، جلد اول،

یادداشتی درباره مبدا تاریخ هجری، علی متقیان،

یاداشتی از پوهمنل ضبغت الله.


**ابوبکر سنگرخیل**

# د اسرائیلو له لوري په فلسطین وروستي ظالمانه بریدونه



په دې وروستیو کې د اسرائیلو له لوري په مظلومو او بې ګناه فلسطینیانو ړانده بمبارونه ډېر شوي دي، امریکا، برطانیه، فرانسه او په ټوله کې غربي ټولنه د اسرائیلو پوځي، سیاسي او مالي ملاتړ کوي، د اسرائیلو ناروا یرغل او بشر ضد جنایتونه توجیه کوي.

په دې لیکنه کې لاندېني سرلیکونه په لنډ ډول روښانه کوم:

۱ـ د مسلمانانو په زړونو کې د بیت المقدس ځانګړی مقام

۲ـ ایا بیت المقدس یواځې د عربو قضیه ده؟

۳ـ د قرآني نصوصو له مخې د اسرائیلو د راتلونکي وړاندوینه

۱ـ د مسلمانانو په زړونو کې د بیت المقدس ځانګړی مقام

په دې کې شک نشته چې د نړۍ ټول مسلمانان د أقصی مسجد ته ډېر درناوی لري، د هغوی په زړونو کې ځانګړی مقام لري او د الله له شعائرو څخه د یو عظیم ارزښت په توګه ورته ګوري، عقیدت او قدر ورته لري او د دیني نصوصو له مخې ژوره عقیده ورباندې لري، د نړۍ ټول مسلمانان د ټولو مذهبي او سیاسي اختلافاتو سربېره د بیت المقدس په عظمت باندې اجماع لري، د دې د لاښه وضاحت لپاره لاندې څو سرټکي روښانه کوم:

أ: **أقصی لومړنۍ قبله ده:**

د بیت المقدس په تړاو د مسلمانانو لومړنی احساس او شعور دا وي چې دا د اسلام لومړنۍ قبله ده، کله چې د عباداتو په برخه کې د ترټولو ستر عبادت(لمانځه) مشروعیت نازل شو، په پیل کې مسلمانانو د أقصی مسجد په لوري لمونځونه کول.

براء بن عازب رضي الله عنه وایي: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په لومړي ځل مدینې منورې ته راستون شو نو د خپلو انصارو خپلوانو او ماماخېلو ښنګ ته ولاړ، په مدینه منوره کې یې شپاړس او یا اوولس میاشتې د بیت المقدس په لوري لمونځ کولو.(صحیح البخاري، باب الصلاة من الایمان[۳۸] )

امام بخاري رحمه الله دا حدیث په کتاب الایمان کې راوړی دی، کله چې یو مسلمان د ایمان او عقیدې په باب کې د بیت المقدس په اړه دا حدیث لولي هرومرو یې په زړه کې د أقصی مسجد په تړاو د درناوي احساس پیدا کیږي.

باء: **بیت المقدس د اسراء او معراج ځمکه ده**

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې د مشرکانو له مسلمانېدو ناهیلی شو، د هغوی د ربړونو په وړاندې ډېر ستړی شو، مسلمانان د هغوی له کړاونو څخه نا ارام شول نو طائف ته یې سفر وکړ، د طائف خلکو یې د دې پر ځای چې ملاتړ وکړي په ډبرو یې وویشت او له خپل وطنه یې مایوسه را وشړی، په همدې موده کې یې هغه کاکا مړ شو چې د مشرکانو د زورونو په مخ کې به د ډال په څېر ورته ولاړ و، هغه هوښیاره، وفاداره او لومړنۍ مؤمنه مېرمن یې هم وفات شوه چې په کور کې به یې د ده هر ډول غمونو ته ټکور

ورکولو، له همدې امله یې دې کال د عام الحزن(د غم کال) نوم ورکړ چې تر ننه د اسلام په تاریخ کې د یواځیني غم کال په نامه یادیږي، له دې ټولو کړاونو او غمونو وروسته الله جل جلاله له مکې مکرمې څخه په نیمه شپه کې د بوراق په واسطه بیت المقدس ته راوست او بیا یې له هغه ځایه اسمانونو، جنتونو او د الله ج د قدرت نورو نعمتونو او لویو بېلګو د لیدلو لپاره خپل لوري ته ور وغوښت.
د الله جل جلاله د لیدنې وروسته چې بېرته راستنېدی نو له هغه لوري یې د لمانځه عظیمه ډالۍ هم له ځانه سره راوړه، بېرته بیت المقدس ته راستون شو او په أقصی مسجد کې یې د الله جل جلاله په لارښوونه ټولو پیغمبرانو ته د جمعې لمانځه امامت وکړ.
الله جل جلاله یې په قرآن کې داسې یادونه کړې:
سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِيْ بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا اِنَّهُ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ.
ژباړه: پاکي هغه ذات لره ده چې بېولی یې و خپل بنده(محمد ص) په (یوه برخه) د شپې کې له (منځه یا څنګه د) مسجد حرام څخه تر مسجد أقصی پورې هغه چې ما برکت اچولی دی د هغه چاپېره د هغه، (بېول د دې لپاره و) چې (هلته) ده ته د خپل توحید له دلائلو څخه ځینې ور وښیم، بې شکه الله جل جلاله ښه اورېدونکی او ښه لیدونکی دی.
د اسراء او معراج کیسه که یو لور ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم ستره معجزه ده، تر څنګ یې په دې پېښه کې د امت لپاره ډېر پندونه او درسونه هم شته، او بلکې ځینې پندونه د نړۍ ټولو انسانانو لپاره دي چې په لنډ ډول یې څو پندونه بیانول ګټور بولم:
لومړی: رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو پیغمبرانو غوره دی او دا معجزه یې تر ټولو ځانګړې ده.
دویم: په أقصی مسجد کې یې ټولو پیغمبرانو ته د لمانځه امامت ټولو انسانانو ته دا ورښیي چې ټول پیغمبران یې په اقتداء قائل دي نو ښایي د نړۍ ټولو ادیانو پیروان یې د دین پیروي وکړي، له خپلو منسوخ ادیانو تېر شي او اسلام ومني، له خپلو موخو تېر شي او ورته تسلیم شي.
دریم: الله جل جلاله کولی شول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له مکې حرم څخه مستقیم اسمانونو ته بوځي، خو دا چې بیت المقدس ته یې بیایي او له هغه ځایه دا عظیم سفر کوي نو دا په دې معنی چې د دې خاورې مستحق مسلمانان دي، په دې ځای به اسلامي نظام تطبیقیږي، مسلمانان به تسلط او ولکه پرې لري او په همدې سپېڅلې خاورې به ابادیږي.
**ج: بیت المقدس دریم عظیم وطن دی چې مسلمانان یې سفر کولی شي**
په اسلام کې درې ښارونه ډېر د قدر وړ دي او د دې درې واړو فضیلت الله تعالی په قرآن کې او رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیثونو کې بیان کړی دی، لومړنی د مکې مکرمې ښار او په ځانګړې ډول مکې حرم او بیت الله شریف.
دویم د مدینې منورې ښار چې په خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په مادي او معنوي ابادي کې رغنده رول لوبولی دی، له هجرت وروسته یې په لومړي ځل مسجد پکې جوړ کړی دی او نبوي مسجد بیا له مکې حرم وروسته تر ټولو غوره مسجد دی.
دریم د أقصی مسجد دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په پیل کې هغه لور ته لمونځونه کول او د اسلام لومړني قبله ده.
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: لَاتَشُدُّوا الرِّحَالُ اِلَّا اِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ: المسجد الحرام والمسجد الأقصی، ومسجدي هذا.
ژباړه: سفر به یواځې درې مساجدو ته کیږي، مسجد حرام، مسجد أقصی او دا زما مسجد. په دې حدیث کې د دې درې واړو مساجدو فضیلت بیان شوی دی او مسلمان ته ترغیب ورکړل شوی چې باید هر یو د دې درې مقدسو اماکنو د زیارت لپاره د سفر اراده ولري ځکه چې د دې درې واړو مقدسو ځایونو زیارت او بیا هلته لمونځ کول ځانګړی ثواب او فضیلت لري.

په يو بل حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې درې واړو مساجدو د لمانځه فضيلت بيان کړی دی، فرمايي: الصلاة في المسجد الأقصى تعدل خمسمائة صلاة في غيره من المساجد، ما عدا المسجد الحرام والمسجد النبوي.

ژباړه: په أقصی جومات کې د نورو مسجدونو په پرتله يو لمونځ د پنځه سوه لمونځونو سره برابر دی، پرته له مسجد حرام او نبوي مسجد څخه. همداراز په روايتونو کې واضحه شوې چې د ځمکې پر مخ د عبادت په موخه تر ټولو دمخه مکي حرم اباد شوی او بيا مسجد أقصی ودان شوی دی.

د دې فضيلت له امله هم مسلمانان أقصی مسجد او بيت المقدس ته ځانګړی احترام لري، هر يو يې د زيارت هيله لري او هر مسلمان غواړي چې په دې مقدس مسجد کې د لمانځه فضيلت ترلاسه کړي.

**د: بيت المقدس د پيغمبرانو او برکاتو ځمکه ده**

ټول پيغمبران په اصولو کې متفق دي، په الله ايمان لرل، د الله وحدانيت، جنت، دوزخ، قيامت، حساب، ميزان، رسالت، اسماني کتابونه او نور ټول اصول د ټولو پيغمبرانو ترمنځ يو ډول او متفق دي، له همدې امله که څوک يو پيغمبر ونه مني داسې ده لکه ټول پيغمبران چې نه مني، ځکه چې دا د يو اصل په توګه د ټولو پيغمبرانو لپاره اتفاقي و.

بيا په تورات او انجيل کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د رښتونولۍ په اړه وړاندوينې يهودو او عيسايانو ته شوې وې، اوس چې دوی رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې ايمان نه راوړي په حقيقت کې له خپل دين څخه هم سرغړونه کوي، په تورات، انجيل، موسی ع او عيسی ع هم ايمان نه لري.

بل لور ته ټول مسلمانان په ټولو پيغمبرانو او ټولو اسماني کتابونو ايمان لري، هغه حق بولي او درناوی ورته لري خو دا چې دوی د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دين مکلف دي او پخواني اديان منسوخ شوي دي نو يواځې د خپل دين پيروي کوي.

په همدې بنسټ مسلمانان بيت المقدس ته ځانګړی درناوی لري، ځکه چې دا د پيغمبرانو خاوره ده، دلته ډېرو پيغمبرانو ژوند کړی دی، د ډېر قبرونه هلته دي او په دې سيمه کې د خپل دين دعوت کړی دی.

الله تعالی د قرآن کريم په بېلابېلو آيتونو کې د بيت المقدس د خاورې سپېڅلتيا او برکتي کېدل بيان کړي دي، ځينې يې په لاندې ډول دي:

سورة الاسراء لومړني آيت کې فرمايي: الَّذِيْ بَارَكْنَا حَوْلَهُ. ژباړه: مسجد أقصی هغه دی چې چاپېره سيمه مو ور برکتي کړې ده.

د ابراهيم عليه السلام په کيسه کې فرمايي: وَنَجَّيْنَاهُ وَلُوطًا اِلَى الْأَرْضِ الَّتِيْ بَارَكْنَا فِيهَا لِلْعَالَمِيْنَ.[الأنبياء: ٧١]

ژباړه: او ما دی(ابراهيم ع) او لوط عليه السلام وژغورل په هغه ځمکه چې د ټولو لپاره مې د هغه چاپېره سيمه برکتي کړې ده.

همداراز د سباء سورة په اتلسم آيت کې د دې سيمې د برکتي کېدلو يادونه شوې ده، علامه آلوسي رحمه الله يې په اړه ليکي: د مبارکې ځمکې څخه د شام ځمکه ده، ځکه چې دا سيمه ډېرې ونې او مېوې لري، ابن عباس رضي الله عنه څخه بيا په دې اړه روايت نقل شوی چې فرمايي بيت المقدس ترې مراد دی او علامه ابن عطية رحمه الله وايي په دې باندې د مفسرينو اجماع ده.

**ه: فلسطين د جهادونو ځمکه ده او مسلمانانو ډېرې وينې پرې توی کړې دي**

په قرآن کې د مسجد أقصی او بيت المقدس فضيلت او بيا نبوي احاديثو کې د أقصی مسجد کې د لمانځه فضيلت مسلمانانو ته يو ډول زړې و چې يو وخت به يې فتحه کوي او د مسلمانانو له مجاهدو لښکرو سره همدا هيله وه چې د يهودو او عيسايانو له ولکې څخه يې ازاد کړي او د مسلمانانو تر ولکې لاندې يې راولي.

په همدې هیله لومړی ځل باندې د امیرالمؤمنین عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په مهال فتحه شوی دی، کله چې د مسلمانانو لښکر د شام نورې سیمې ونیولې او بیا بیت المقدس ته ننوتل نو د هغه ځای مشر بطریر صفرونیوس وویل په دې شرط به د بیت المقدس واک ورکوي چې د مسلمانانو امیر په خپله راشي او کلیانې په خپل لاس ترلاسه کړي، له همدې امله امیرالمؤمنین عمر بن الخطاب رضي الله عنه له مدینې منورې څخه په همدې تکل را روان شو چې د بیت المقدس کلیانې ترلاسه کړي او دا د اسلام لومړنی قبله د اسلام تر ولکې لاندې راولي. له هغه وروسته په دې سیمه باندې څو ځله د یهودو له لوري یرغل شوی دی او هڅه یې کړې ده چې دا سیمه تر خپلې ولکې لاندې راولي او د دې سیمې له برکاتو برخمن شي، خو د تاریخ په اوږدو کې مسلمانانو د خپلو وینو په بدل د دې مقدسې خاورې ساتنه کړې ده، د أصحابو د پاک لښکر څخه نیولې بیا تر صلاح الدین أیوبي او ننه پورې مخلص او رښتوني اتلان د خپل سر په بدل د دې مقدس ځای ساتنې ته ولاړ دي.

**۲ـ ایا بیت المقدس یواځې د عربو قضیه ده؟**

دا چې د فلسطین قضیه یوه دیني صبغه لري او د أقصی مسجد د مسلمانانو په زړونو کې ځانګړی لوی مقام لري له همدې امله د مسلمانانو په زړونو کې بیت المقدس ځانګړی ځای لري، د تاریخ په اوږدو کې یې د دې سیمې د خپلواکۍ لپاره قربانۍ ورکړې دي او بیا هم د یو ستر دیني فرض په توګه ترې دفاع کول خپل لومړنی مسؤلیت ګڼي. البته اسرائیلو په نړیواله کچه ډېر پراخ تبلیغات وکړل ترڅو دا قضیه په لومړي ځل عربي کړي او د دې پر ځای چې د نړۍ د مسلمانانو افکار او پاملرنې ترې واړوي دا یې یواځې د عربي قضیې په توګه وړاندې کړه او په دې وروستیو کې یې هلې ځلې پیل کړې دي چې دا قضیه له عربو څخه یواځې تر فلسطینیانو پورې محدوده کړي، تر څو د مسلمانانو پاملرنه ترې واوړي او د دې قضیې د حل لپاره یواځې فلسطینیان مسؤل وګڼي، په همدې پار یې دا یوه محض سیاسي قضیه معرفي کړې ده. حقیقت دا دی چې دا نه یواځې عربي قضیه ده او نه هم یواځې فلسطیني بلکې دا د یوې ستر دیني فرض په توګه د نړۍ د ټولو مسلمانانو قضیه ده خو دا بیا جلا خبره ده چې هر یو هیواد د خپل توان په کچه مسؤلیت لري او دا چې څوک ورته نږدې دي هغوی د الأقرب فالأقرب په اساس لومړنی مسؤلیت لري چې د دې سیمې د خپلواکۍ او د اسرائیلو د مخنیوي لپاره خپل معلوم او مشخص مسؤلیتونه پر ځای کړي.

**۳ـ د قرآني نصوصو له مخې د اسرائیلو د راتلونکي وړاندوینه**

قرآن د الله جل جلاله کلام دی او ټولې خبرې یې رښتونې دي، الله تعالی فرمایي: وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللهِ قِيْلاً. او څوک به له الله تعالی څخه په وینا کې ډېر رښتونی وي(یعنې له الله تعالی پرته بل رښتونی نشته)، بل ځای فرمایي: وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللهِ حَدِيْثًا. او له الله تعالی پرته په خبرو کې بل لوی رښتونی نشته.

د قرآن کیسې، خبرې، احکام او د راتلونکي په اړه وړاندوینې ټولې رښتونې دي او کټ مټ به په خپل محل کې رښتونې څرګندیږي، الله جل جلاله د قیامت، جنت، دوزخ، حساب او د بېلابېلو قومونو د ګناهونو له امله د راتلونکو عذابونو وړاندوینې کړې دي چې ځینې یې رښتونې ثابتې شوي دي او ځینې به یې وروسته ثابتیږي.

همداراز رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو حدیثونو کې د قرآن کریم د تفسیر په توګه د هغو وړاندوینو وضاحت کړی دی، د یهودو د راتلونکو حالتونو په اړه یې هم وړاندوینې کړې دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی د ذلت په اړه ویلي چې یو وخت به الله تعالی مسلمانان په دوی دومره برلاسي کړي چې بیا به د یوې ونې شاته پټ وي او هغه ونه به مسلمان ته غږ کوي چې اې مسلمانه راشه زما تر شا یهودي پټ دی.

الله تعالی په قرآن کریم کې د دوی په اړه فرمایي: ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ أَيْنَمَا ثُقِفُوْا اِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللهِ وَ حَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ...
الله تعالی په دوی(یهودو) باندې ذلت اچولی چې هر ځای وي(همدا یهود) مگر دا چې الله تعالی یې ملاتړ وکړي او یا نور خلک یې تر شا ودریږي.

دا چې په اوسنیو حالاتو کې د دوی تر شا برطانیه، فرانسه او امریکا ولاړه ده نو دوی د بې گناه فلسطینیانو په ضد جنگیږي، هو دومره ده چې دوی له پخوا څخه ډېر بزدله دي او د مخامخ جگړې توان نه لري، کله چې دوی له مصر څخه ووېستل شول او عمالقه و، د مصر فراعنه و او قبطیانو په دوی ډېر ظلمونه وکړل، د دوی شتمنی یې لوټ کړي او د پلرونو او نیکونو جایدادونه یې ترې واخستل نو موسی علیه السلام د الله ج له لوري وعده ورته راوړه او لارښوونه یې ورته وکړه چې له ماسره جهاد کې گډون وکړئ ترڅو خپلې شتمنی ترلاسه کړئ او د هغوی له ظلمونو څخه مخنیوی وشي، دوی له جهاد څخه وډارېدل، د پیغمبر خبره یې ونه منله او ورته وېلې: اِذْهَبْ اَنتَ وَرَبُّکَ فَقَاتِلَا اِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُوْنَ. ته ورشه او ستا رب دواړه جنگ وکړئ بې شکه موږ به دلته په ځای ناست یو.

په همدې ورځو کې چې دوی د فلسطینیانو په وړاندې له کوم ظلم څخه کار اخست او ړانده بمبارونه یې پیل کړي دي، د شپې له لوري په داسې وخت کې بمبارونه کوي چې بې گناه خلک ویده وي، د ورځې او مخامخ جگړې جرأت نه لري.

همداراز الله تعالی په قرآن کریم کې د دې څرگندونه کړې ده چې په یهودو باندې نه یواځې مسلمانان بلکې پخوانیو پیغمبرانو هم پر دوی لعنت ویلی دی، فرمایي: لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُودَ وَ عِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذٰلِکَ بِمَا عَصَوْا وَّ كَانُوْا يَعْتَدُوْنَ.
ژباړه: د بني اسرائیلو په کافرانو باندې د داود او عیسی علیهما السلام په ژبه لعنت ویل شوی دی او دا ځکه چې دوی سرغړونه کوله او له حده اوښتل. لعنت د الله تعالی له رحمت څخه لرې کېدلو ته وایي، په قرآن کې په بني اسرائیلو د پخوانیو پیغمبرانو د لعنت خبره په دې معنی چې دا د پیغمبرانو له لوري د دوی په حق کې یوه ښېره ده او الله تعالی د هغوی ښېرا قبوله کړې ده ځکه یې په قرآن کې یادونه کوي، له همدې امله موږ ویلی شو چې دوی به د تل لپاره ذلیل او مغلوب وي، ځکه چې الله تعالی د ټولو کائناتو حقیقي او یواځینی مالک دی او ژمنه یې کړې ده چې یواځې خپلو نېکو بندگانو ته به د ځمکې ولکه ورکوي، الله تعالی فرمایي: وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُوْرِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُوْنَ. ژباړه: او یقیناً موږ په زبور کې لیکلي و چې بې شکه دا ځمکه به زما نېکانو بندگانو ته پاتیږي. دا چې بني اسرائیل له اسلام او مسلمانانو سره کرکه لري، اسلام د الله لپاره د منلو وړ یواځینی دین دی، له دې پرته بل دین نه قبلوي، پیغمبرانو دوی ته ډېرې ښېراوې کړې، پر دوی یې لعنت ویلی او دوی د الله رښتوني پیغمبران شهیدان کړي دي، د هغوی دعوت یې نه دی منلی بلکې دښمني یې ورسره کړې ده، او دوی د الله تعالی سرکښه بندگان دي نو هیڅکله به الله تعالی دوی ته په ځمکه کې ولکه او سلطه نه ورکوي، بلکې د مسلمانانو په لاس به یې ذلیل کوي او د جهاد په ډگر کې به د ډېرو لږو خلکو څخه ماتې خوري او دا مورال او جرأت به نه ترلاسه کوي چې مخامخ جگړه ورسره وکړي.

څو ورځې د مخه د اسرائیلو مشر وویل داسې ښکاري چې موږ له یو ډېر پیاوړي ځواک سره په جگړه کې یو او دا اټکل نه شو کولی چې روانه جگړه به څوک گټي. د قرآني آیتونو او د حدیثونو په رڼا کې دا وړاندوینه یقیني لیدل کیږي چې که اسرائیل هر څومره توان ولري او هڅه وکړي چې فلسطین ونیسي خو بیا به هم دوی ماتې خوري او دا سیمه تر خپلې بشپړې ولکې لاندې نه شي راوستلی، همداراز به دوی د مسلمانانو په وړاندې د جنگېدو توان او جرأت له لاسه ورکوي او بالآخره به مسلمانان د دوی پر ضد بشپړه بریا او تسلط پیدا کوي. و ما ذلک علی الله بعزیز.

**مفتي محمد بشار**

# روزنیزه هنداره

## د حضرت خالد بن ولید رض (سیف الله) جنګي تکتیکونه




حضرت خالد (سیف الله)رضي الله تعالی عنه په یوه معزز قبیله بنو مخزوم او په یوه هوښیاره کورنۍ کې زیږېدلی او تربیه شوی وو، په ټولو ورونو کې ممتازو او په دلاورۍ، اس ځغلولو کې یې له ټولو ښه زیات مهارت درلودلو، د خطراتو په مقابل کې بې پروا او په حساسو وختونو او سختیو کې به یې له شجاعت زړورتیا او غیرت ښه کار اخیست.

هغه د وقت او ځای سره سم مناسب قدمونه اخیستل جنګي مهارتونه فطرتاً ورکړل شوي وو، چې ددغه موهوبي نعمت قدرداني په اسلام کې ورکړل شوې وه.

د حضرت خالد رضي الله عنه ځینې جنګي تکتیکونه په لنډ ډول ذکر کوو.

۱_ **قومي اعتماد:** د ټول قوم اعتماد او باور په حضرت خالد رضی الله تعالی عنه باندې وو او همدارنګه د بنو مخزوم قبیلې رهبري دده په لاس کې وه مېړانه، شجاعت او جنګي مهارت یې عادت ګرځولې وو.

۲ – د حضرت خالد رضی الله تعالی عنه دا عادت وو چې د جنګ د شروع کېدو ښه مخکې به یې مجاهدین صف کړل د نیت، اخلاص، صداقت، استقامت او ثبات په هکله به یې مجاهدینو ته توصیه او زیات ټینګار کولو او کله کله به یې صورت انفال هم پرې تلاوت کاوه.

۳ - **د جنګي صف تنظیم:**

کله چې حضرت خالد رضي تعالی الله عنه به د یوه کافر لښکر سره د جنګ اراده وکړه، د کفارو د لښکرو موقعیت، د افرادو شمیر او جنګي اسبابو له معلوملو ښه وروسته به یې د خپلو مجاهدینو صف په داسې ډول ترتیبول.

الف: **مقدمة الجيش**

دا هغه جرار او چالاکه گروپ وو، چې د لښکر څخه به وړاندې روان وو او گزمه به يې کوله.

ب: **ميمنه**

دا دلښکر د ښۍ خوا يوه قطعه وه، چې بيرغ به يې د يوه مشر په لاس کې و او مخ په وړاندې به روان وو.

ج: **ميسره**

دا دلښکر د کيڼې خوا يوه قطعه وه، چې بيرغ به يې د يوه بل مشر په لاس کې و، دښی خوا د قطعې سره به برابره روانه وه.

د: **قلب**

دا د لښکر هغه مرکزي گروپ و، چې د همدغه ځايه به حضرت خالد بن وليد رضي الله تعالى عنه د جنگ رهبري کوله.

ه: **حمايه**

دا د لښکر وروستنی گروپ وو، چې د لښکر د شا او خوا حمايه او اکمالات به يې کول.

او همدارنگه ځينو نورو متفرقه گروپونو په شا او خوا کې د وضيعت مطالعه کولو او د ضرورت د غوښتنې سره سم به يې د اړتيا ځای ته ځان رساوه.

حضرت خالد رضي الله تعالى عنه د جنگ په وخت کې زياته هغه حربه کاروله، چې د کفارو په ماته خوړلو او د مسلمانانو په برياليتوب پای ته رسېدله.

کله به يې يو په يو جنگ کولو، کله به يې کمين نيولو، کله به يې تهاجمي حملې د کفارو په لښکرو باندې تر سره کولې او کله به يې د جنگي عادت خلاف په کمو سرتېرو باندې د کفارو د لويو قرارگاوو په مرکزونو باندې استشهادي عمليات ترسره کول، چې زياتره وخت به يې د عيسويانو لوی پټنځايونه په کمو افرادو فتحه کول او کله به يې داسې پلان جوړاوه چې د کفارو لوی لښکر به يې د خپلې محاصرې لاندې راوستو او بيا به يې د دوی په وژلو شروع وکړه لنډه دا چې حضرت خالد (سيف الله) رضی الله تعالى عنه د جنگي تکتيکونو هغه کيلي وه چې هر مجاهد به يې لاس ته راوست او د برياليتوب قلفونه به يې پرې خلاصول.

۴- د حضرت خالد بن وليد رضی الله تعالى عنه مجاهدينو به پلي تگ زيات کولو او د زيات مهارت له وجې به ډير مجاهدين په شاتورو آسونو سپاره وو او په دوښمن باندې به يې حملې کولې، خوراک به يې په اکثريت حالاتو کې خرما، اوبه او وچه ډوډی وه، جنگي اسباب يې ( غيشی ، ليندی، منجنيق ، توره، نېزه، زغره، خولی، ډال او د وخت دبابه (ټانگ) وو، او د سپرلی اسباب يې ( اس، اوښ ، کچره، مرکبونه او د بحري سفرونو لپاره به يې له کيښتی څخه کار اخيسته چې هدفي ځايونو ته به يې ځانونه پرې رسول.

حضرت خالد بن وليد رضي الله تعالى عنه د نړۍ خطرناک جنرال جنگيالی و، نوموړي په ۱۳۰ جنگونو کې برخه اخستې چې ټول يې په مېړانه گټلي دي.

حضرت خالد بن وليد رضي الله تعالى عنه هغه څوک و، چې په ۴۲ کلنۍ کې يې عراق او سوريه فتحه کړل، هغه رضي الله تعالى عنه ته هېڅا په جنگ کې ماته نه شوای ورکولای ځکه تخلص يې د الله ﷻ توره وه او دوښمنانو هم ورته د دوهم مرگ لقب ورکړی وو، نوموړی به په يوازې سر له سلو کسانو سره جنگېده.

حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه په تاريخ کې هغه تل پاتې څېره ده چې د توري په پورته کېدو سره يې د اسلام دين په نړۍ کې وځلاوه او په بدن کې يې داسې روغ ځای نه و پاتې شوی چې د توري گذار به يې نه و خوړلی.

**محمد آغا حيدري**

# ویژگی های یک مجاهد ایدیولوژیک

جهاد و مجاهد چون تنها الفاظ نه بلکه مفاهیم هم هستند و لفظ مجاهد از نگاه شریعت مفهوم و مصداق خاصی دارد، در اینجا به بیان صفات یک مجاهد ایدیولوژیک میپردازیم. هر مجاهد باید خود را در آئینه این صفات ببینند.

اگر این ویژگی ها در وی موجود بود، وی به معنای واقعی مجاهد و مبارز راه خدا است. اما اگر این خصوصیات در مجاهدی موجود نباشد و یا هم ناقص بود، باید به عمل و روش خود متوجه شده و صفات مجاهد واقعی را در خود پیدا کند

اخلاص: واژه اخلاص، مصدر باب افعال از ریشه خلوص و خلاص به معنای پاک شدن و سالم گشتن از آمیختگی است خالص، کالایی را گویند که باچیزی ممزوج و مخلوط نباشد و معنایی نزدیک به صافی دارد با این تفاوت که صافی به جنسی که از همان ابتدا با چیزی آمیخته نبوده اطلاق می‌شود؛ ولی خالص، جنسی است که پس از امتزاج با چیز دیگر، خواه پست‌تر باشد یا نه، پاک، و ناخالصی آن زدوده شود. لغویان برای خلوص، معانی دیگری نیز بر شمرده‌اند؛ مانند رسیدن، نجات یافتن، کناره‌گیری کردن از دیگران و ویژه خود گردانیدن که در هر یک از این معانی، به نوعی معنای اصلی این ریشه یا لوازم آن وجود دارد. اخلاص به معنای خالص کردن، پاک گردانیدن و برگزیدن است. و مقصود از آن در فرهنگ اسلامی، پاک کردن نیّت از غیر خدا و انجام دادن عمل برای خدا است. اخلاص در دانش‌های گوناگون اسلامی‌مانند فقه، اخلاق و عرفان بررسی، و در فقه آن است که مکلّف در عمل عبادی خودجز قصدقربت و عبودیّت برای پروردگار، هیچ انگیزهٔ دیگری نداشته باشد؛ خواه به نحو استقلال یا انضمام.

مجاهد واقعی کسی است که در عمل خود اخلاص داشته باشد. هدف وی از جهاد تنها و تنها رضای پروردگار و اعلای کلمة الله باشد. وی باید اهداف ظاهری و دنیوی، مثلا شهرت، منصب، رهبری، نام و نشان، غنیمت، منافع مالی، شوق نگه کردن اسلحه، سلطه بر مردم، پیشبرد دشمنی شخصی، عصبیت های قومی و سمتی و... نداشته باشد.

اخلاص بسیار مهم است. زیرا خداوند متعال ما انسان ها را پیش از همه به ایمان مکلف ساخته، و پس از ایمان به عبادت امر نموده است. اما عبادت را به اخلاص مقید گردانیده، یعنی نزد خداوند متعال تنها آن عبادتی قبول است که متصف به اخلاص باشد.

خداوند متعال می فرمای: (وَما أمروا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكاةَ وَذٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ)

ترجمه: و مامور نشدند مگر به اینکه عبادت کنند خداوند را، در حالی که خالص کننده باشند برای او دین را، حامی حق باشند، و برپا دارند نماز را و بدهند زکات را، و این است دین محکم.

حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه می فرماید، یک اعرابی به رسول الله – صلی الله علیه و سلم – گفت: یک کسی برای غنیمت جهاد می کند، کسی دیگری برای اینکه مردم شجاعت و دلاوری او را بیان کنند، و کسی دیگری برای ریاء، کدام یکی ایشان مجاهد راه خدا است؟ رسول الله – صلی الله علیه وسلم – فرمود : تنها کسی مجاهد فی سبیل الله است که برای سربلندی کلمه پروردگار جهاد می کند. از این حدیث شریف به صراحت معلوم شد که تعریف مجاهد واقعی، از اخلاص سرچشمه می گیرد، یعنی تنها و تنها کسی مجاهد واقعی است که در جهاد اخلاص دارد، نیت اش صفا و هر گام او برای رضای پروردگار است.

**اعداد و استعداد:** اعداد در لغت آمادگی و در اصطلاح : تربیه بدنی، آموزش های مسلکی و پرورش ذهنی برای ادای فریضه جهاد را گفته می شود. جهاد که حکم بزرگ اسلام و از لحاظ تکلیف کار مشکلی است، نیاز دیده می شود که پیش آغاز عملی آن، مجاهدین باید خود را برای ادا نمودن درست آن، آماده و از اصول جنگی آگاه بسازند. مجاهد واقعی تنها برای وقت گذرانی به میدان جهاد نمی رود، بلکه هدف او این می باشد که با دشمن بجنگد، به دشمن تلفات برساند، پیروز شود و گلیم کفر و فساد را از خاک اسلام برچینند. مجاهد برای فعالیت مؤثر جهادی باید تمام آن اسلحه و وسایل را، که در جهاد به کار می آید، به شکل مسلکی بیاموزد. فنون جنگی، عیار ساختن مواد منفجره، آموزش مخابره و وسایل ارتباطی، تعلیم فنی اسلحه و ترمیم آن، دانستن مؤثریت و خواص مرمی ها، هدف زنی، ترصد، استعمال مسلکی دوربین های شب و لیزر، کمین گرفتن، عملیات هدفمند و انغماسی، مهارت نفوذ در صف دشمن، رعایت کردن اصول رازداری، استعدادهای کمکی مثلا تربیه بدنی یا ورزش، رانندگی و آب بازی، این همه در اعداد می آید و آموزش آن برای هر مجاهد ضروری است.

در پهلوی اعداد فنی، اعداد ذهنی یا فکری هم لازم است.

اعداد ذهنی یعنی مجاهد باید احکام، فضایل، مسایل، ممنوعات و مشروعات جهاد را بداند، تا خود را از اشتباهات، انحرافات و گناه ها نگه دارد و در مسیر جهادی استوار بماند.

خداوند متعال در مورد اعداد می فرماید: وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ. ترجمه: و آماده بسازید برای ایشان آنچه می توانید از توانایی و آماده کنید از اسپان بسته، که می ترسانید به آن دشمن خدا و دشمن خود را. بناء مجاهد واقعی کسی است که برای جهاد اعداد (آمادگی) و استعداد (مهارت) داشته باشد.

**اطاعت:** اطاعت در لغت عبارتست از انقیاد یا گردن نهادن و در اصطلاح عبارتست از: بجا آوردن اوامر و خودداری از منهیات الله متعال، رسول الله صلی الله علیه و سلم و امیر شرعی، بدون جبر و اکراه. باید بدانیم که اطاعت از امیر واجب است. خداوند متعال در قرآن کریم فرموده است: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ. ترجمه : ای مؤمنان اطاعت کنید از خدا، و از رسول او و از اولوالامر تان.

رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید: على المرء المسلم السمع والطاعة فيما أحب وكره إلا أن يؤمر بمعصية فإذا أمر بمعصية فلا سمع ولا طاعة. ترجمه: لازم است بر مسلمان، شنیدن و اطاعت کردن امر امیر، اعم از اینکه موافق طبع باشد یا خیر، تا اینکه به کار ناروا امر نشده است، هرگاه به کار ناروا امر کرد، پس شنیدن و طاعت نیست.

از نگاه شریعت، تا آنکه امیر به کار ناروا امر نکرده، پذیرفتن هر امر او واجب است. فقها می گویند که امر امیر، کار مباح را واجب می گردد. کتاب معتبر فقه ما «رد المحتار» می نویسد : طاعة الامام في غير معصية واجبة فلو أمر بصوم يوم وجب. ترجمه: کاری که گناه نباشد، اطاعت امیر دران واجب است. پس اگر امیر امر به روزه گرفتن یکروز بکند، روزه گرفتن آنروز واجب است.

مجاهد واقعی کسی است که مفهوم و اهمیت اطاعت را درک می کند و می داند که اطاعت در جهاد چقدر اهمیت والای دارد و بی اطاعتی سبب زیان بزرگ دنیوی و اخروی می گردد. گاهی مجاهدین ازان اوامری اطاعت می کنند که موافق مزاج شان باشد، اما اگر کدام امری مخالف مزاج شان باشد اطاعت نمی کنند. علمای کرام می فرمایند که اطاعت خوب و کامل (که اجر زیادی بر آن مرتب می شود) آنست که امیر کسی را بر کاری امر بکند، که موافق مزاج او نباشد و انجام دادن آن بر او سنگین تمام شود، اما برای ایفای وجیبه شرعی، مزاج خود را زیرپا می کند و آن کار را انجام می دهد.

امانت: امانت که نقیض خیانت است، در لغت سلامتی و اطمینان و در اصطلاح عبارتست از : پس سپردن حق به صاحب حق به گونه کامل. امانت فریضه شرعی است. زیرا خداوند متعال می فرماید: إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا. ترجمه : هر آئینه خدا امر می کند به شما که ادا کنید امانت ها را به اهل آن. همچنان خداوند متعال امانتداری را یکی از صفات مؤمنان موفق خوانده است: وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ. ترجمه : و آنانی که امانت های خود و عهدهای خود را رعایت کننده گان اند. رسول الله – صلی الله علیه وسلم – خیانت در امانت را نشانه منافق خوانده است: آية المنافق ثلاث : إذا حدَّث كذب، وإذا وعد أخلف، وإذا اؤتمن خان. ترجمه: نشانه های منافق سه است. هرگاه سخن بگوید دروغ می گوید، هرگاه وعده بکند مخالفت می کند و هرگاه برای او امانت سپرده شود خیانت می کند.

**امانت بر دو قسم است:**

۱: امانت در حقوق الله، مثلا ادای نماز، روزه، زکات و سائر عبادات با امانتداری.

۲: امانت در حقوق العباد، مثلا امانتداری در بیت المال، حقوق بندگان و یا دیگر اموال. اگرچه امانتداری در همه امور ضروری است، اما در بیت المال بیشتر مهم است. زیرا بیت المال، مال مشترک تمام مسلمانان است و هر فرد مسلمان دران سهم دارد، پس اگر خدانخواسته دران خیانت صورت بگیرد، جبران نمی شود، زیرا تقریبا ناممکن است که به هر مسلمان حق تلف شده اش پس داده شود و یا از هر فرد مسلمان عذرخواهی شود.

در عرصه جهادی؛ آن اسلحه، مهمات، وسایل مختلف، موتر، اسباب و ابزار و پول که در ملکیت شخصی کدام مجاهد نباشد، بلکه مربوط تمام دلگی یا امارت باشد، این همه اشیا شامل بیت المال است و نگه داری آن بر هر مجاهد لازم است. هر مجاهد بیش تر از مال شخصی خود، با مال بیت المال محتاط می باشد، تا خدا نخواسته بدون ضرورت استعمال نشود و یا اسراف صورت نگیرد.

**اخلاق نیکو**: اخلاق در لغت خو را گفته می شود و در اصطلاح آن مزاج یا طبیعت انسان را گفته می شود که افعال و اقوال انسانی بدون کدام فکر و تکلف، به آسانی ازان صادر می گردد. در اخلاق، به نیّت اهمیّت ویژه‌ای داده شده و از آن به صورت رکن و پایه رفتار و روح عمل یاد شده است؛ به‌گونه‌ای که نبودن نیّت درست باعث بی‌ارزش شدن عمل می‌شود.

مجاهد واقعی کسی است که خوش اخلاق باشد، با مسلمانان برخورد نرم، با محبت و با اخلاص داشته باشد. سلام دادن، رو برو شدن با مردم با محبت و پیشانی باز، احترام داشتن، رعایت کردن آداب سخن و مجلس، دقت به سخنان کسی، خودداری از قهر بی جا، تندی، تمسخر، تحقیر و دشنام گویی، مشوره گرفتن از مردم و یا مشوره دادن خوب به مردم، با مردم در کارها همکاری کردن، دستگیری مردم ناتوان، برخورد مخلصانه، صادقانه و امانتدارانه با مردم، اجتناب از دروغ، خیانت، فریب و نیرنگ، هر بزرگ امارت اسلامی را به چشم پدر، همچنان هر خورد را به چشم اولاد و هر همسال خود را به چشم برادر دیدن، و در اثنای رو برو شدن چنان فکر کردن که با عزیزان نزدیکی خود رو برو هستم، این همه صفات شایسته ایست که اخلاق نیکو شمرده می شود و انجام دادن آن برای هر مسلمان خصوصا هر مجاهد لازم است.

در حدیث شریف می آید: عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن الرجل ليدرك بحسن خلقه درجات قائم الليل صائم النهار. ترجمه : ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها روایت می کند که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود : بدون شک، یک کسی با اخلاق نیکو، رتبه کسی را دریافته می تواند که روز روزه می باشد و شب عبادت می کند. همچنان رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است: ما من شيءٍ أثقلَ في الميزان مِن حُسن الخُلق. ترجمه: در ترازوی اعمال، هیچ چیزی سنگین تر از اخلاق نیکو نیست.

**نتیجه بحث**

هر مجاهد باید تمام نیت های مادی و دنیوی را از قلبش بیرون کند، عزم و نیت خود را تجدید کند، در قول و عمل خود رضای پروردگار را در نظر بگیر، تا از حلاوت دنیوی و پاداش اخروی این عبادت بزرگ مستفید شود.

مجاهد به هر اندازه یی که مهارت های بیشتر جهادی را در اختیار داشته باشد، مؤثریت و فعالیت او همان اندازه بیشتر می گردد، اجر زیادی را کمایی می کند و قابلیت بیشتری برای خدمت به دین پروردگار میداشته باشد.

باید مجاهدین در همه کارهای مشروع و روا از امرای خود اطاعت بکنند. و در مقابل امر مشروع آنها استادگی نکنند.

مجاهد واقعی باید در برابر مال مردم همچون بیت المال، محتاط باشد که مردم برای مجاهدین به شکل امانت می دهند. زیرا اگر شهید شود و خدانخوسته امانت های مردم به دوش او باشد و یا در ان خیانت کرده باشد، عاقبت او زیان سنگینی می بینند.

اخلاق خوب با هر کسی می زیبد، اما بیشتر با کسی می زیبد که قدرت و سلطه داشته باشد. بناءً مجاهدین باید به سبب اسلحه، قوت و منصب، در برابر مردم تکبر نکنند، بلکه اگر در حالت مسلح با مردم رو برو می شوند، باید چنین فرض کنند که اگر ما سلاح، قوت و منصب نمی داشتیم با این مردم چگونه برخورد می کردیم، باید همانگونه برخورد عادی داشته باشیم. همین اخلاق عالی است.

**منابع**


قرآن کریم

اخلاق در قرآن، ج۱، ص۲۶۶-۲۶۹.

بخاری شریف، ابوعبدالله، محمد، بن اسماعیل. صحیح بخاری. انتشارات مکتبه حقانیه پشاور. سال1357.

ترتیب العین، ج۱، ص۲۳۷، خلص.

سنن ابی‌داوود از سلیمان بن اشعث بن اسحق سجستانی، باب الاخلاق متوفای ۲۷۵ هـ.ش.

سنن ابی‌داوود از سلیمان بن اشعث بن اسحق سجستانی، متوفای ۲۷۵ هـ.ش.

صحیح مسلم از ابوالحسین مسلم بن حجاج قشیری نیشابوری متوفای ۲۶۱ ه.

کتاب الدعوی ج۵ ص ۴۲۲

لسان العرب، ج۳، ص۱۷۳-۱۷۴، خلص.

مجمع‌البحرین، ج۴، ص۱۶۸-۱۶۹،خلص.

مقاییس اللغه، ج۲، ص۲۰۸، خلص.



حافظ حجت الله نوری


**بقیه صفحه۳۱** مهارتهای مسلکی را بالای اسلحه و تخنیک دست داشته پلانگذاری وان را تطبیق نموده و قابلیت های لازم محاربوی خویش را با روحیه ، عالی و انگیزحب وطن در مرکز و ولایات بالا برده و ثابت ساخته اند ، که در میادین نبرد با دشمنان وطن و مردم در وقت ضرورت انجام داده و ضربات کوبنده را بالای دهشت افگنان وارد نموده و از هر نوع فعالیتهای تخیریب کارانه دشمنان مردم افغانستان جلوگیری مینمایند و همچنان این نیروها با تبارز روحیه بلند رزمی و کار آزمودگی در نهایت حضور فعال و دایمی شان را در هر نوع شرایط در سنگرهای دفاع از سرزمین خویش ایفا نموده و به ا

عتبار و اتوریته آنها افزوده است ، که وقار وحیثیت ملی آنها را بیشتر از هر زمان دیگر ارتقاء بخشیده و این امر مبین آنست که این نیروه برخاسته از عمق جامعه و برای جامعه بوده وظایف و مکلفتهای شانرا انجام میدهند. نیروهای دفاعی و امنیتی کشور در جریان نبرد در برابر دهشت افگنان مردانه ایستادگی نموده و با کسب تجارب از جنگهای گذشته در برابر اشغالگران ابتکارات و تکتیک های جدیدی را در فعالیتهایشان افزایش داده و اجرا مینمایند ، آنها میدانند که افغانستان کشوریست که غرور کوهایش نمایانگر عظمت و شجاعت مردمش در میادین دفاع از حب وطن را بیان میدارد. حاجی محمد نذیر گلبهاری

# د وطن او اسلام پلورونکي

په ځینې هیوادونو کې د نورو هیوادوالو لا سپوځې او د وطن، اسلام، مذهب پلورونکي موجود وي، چې موږ یې د تاریخ په صفحو کې بېلګې لیدلی شو.

د دې بر عکس په اسلامي هیوادونو کې په دین، وطن داسې مین او سرښیندونکي، وفادار وګړي هم شتون لري چې تاریخ د دوی مینه، وفا له اسلام او وطن سره پخپله سینه کې خوندي ساتلې.

زموږ ګران هیواد افغانستان هم خپل ملت ته د تاریخ جوړولو د ازموینې ورقې په لاسو کې ورکړې چې ځینو په کې د وطن، اسلام د پلورلو کرښې راکښلې او ځینو نورو بیا په کې له اسلام او خپل هیواد سره د مینې د اظهار په بدل کې د ځان خاروني، سرښیندنې او د نورو له لاسو د خپل مذهب او وطن د آزادولو کرښې راکښلې دي.

هغه کسان چې د اسلام او وطن پلورونکي و د تاریخ په ثبتولو کې یې د ازموینې په ورقو کې څو کرښې کښلې ددې لپاره چې په نتیجه کې ورته مجازي باداران خوشحاله او له دوی څخه د لږ څه تر لاسه کولو او د فنا کېدونکې نړۍ څو ورځې د عیش او عشرت پرې تېرې کړې، که څه هم دغو پلورونکو ته د الله تعالی له جانبه راالېږلی اسلامي نظام او د الله تعالی له طرفه ورپه برخه کړل شوی خپل هیواد له منځه ځې او د وطن هر وګړی یې له ستونزو، مشکلاتو سره مخ کېږي او الله تعالی دا قول یې له پامه غورځولی چې د سورة المائدة په ۵۱ آیت کې فرمایلي(

ژباړه: ای مؤمنانو تاسو یهود، نصارای په دوستۍ سره مه نیسئ.

تېر لنډ تاریخ ته که موږ فکر وکړو چې زموږ د ګران هیواد افغانستان ځیني وګړي چې کفار د دوی په رهبرۍ زموږ په ګران هیواد یرغل راوړ او دوی به د کفارو تر مخ د سپر په څېر روان و، تر څو هغوی له خطرې وژغوري او په اسلام، وطن، دین مین او د وطن اصلي بچیان ور په نښه کړي چې په ترڅ کې به کفارو چاپې، بې دریغه بمبارۍ کولې او زموږ سپین ږیري، سپین سرې، تور سرې، ځوانان، ماشومان به یې په شهادت رسول، د دې لپاره چې پلورونکو به دغه ناوړه عمل د دې لپاره تر سره کاو چې دوی ته به یرغلګرو د دې ناوړه عمل په بدل کې یو څو ډالر ورکول.

له دې ورهاخو بیا نورو د تاریخ جوړولو د ازموینې په ورقو کې څو کرښې به دې خاطر کښلې دي، چې په نتیجه کې ورته د حقیقی بادار خوشحالول او راضي کول او له وطن څخه یرغلګر شړل، د یو اسلامي نظام قایمول تر څو چې د دې اسلامي نظام له چتر لاندې د وطن د هر وګړي په مخ مسکا راشي او د هیواد په هره برخه کې د وطن هر فرد په ارامه او سکون سره ژوند تر سره کړي.

بلآخره هم زموږ د وطن غیرتي، تنکیو ځوانانو ځانونه د بارودو په اور د آسمان لوګي کړل، او د وخت نمرود یې په ګونډو له وطنه شرمینده وشاړه.

افغان غیرتي ملت په هیڅ وخت، په هیڅ صورت دانشې زغملی چې د اسلام وطن دښمن دې زموږ په خاوره حاکم وي.

او د افغانستان غیرتي مسلمان ملت ته د امنیت، د اسلامي نظام د قایمولو موقعه په لاس ورغلې چې له دې موقعې څخه یې استفاده تر لاسه کړه او اوس الحمدالله د هیواد په هره برخه کې پوره امنیت تامین او اسلامي نظام قایم دی.

مولوي عبدالله مخلص

# عِکرمه او ابوجَهل

عِکرمه بن ابي جهل يو جليل القدر صحابي مبارک دی. اسلام يې کامل او په پوره معنی صحيح و، تر دې اندازې چې کله به يې قرآن کريم خلاص کړ، وبه يې ويل: "هذا کلام ربّي" دا زما د رب تعالی خبرې دي، نو بې هوښه به شو.

پلار يې د دې أمت فرعون و. کنيه يې ابوالحکم وه، بيا نبي ( عليه السلام ) ابوجَهل (د ناپوهی پلار) کنيه نوم ورباندې کېښود او همدغه کنيه يې بيا مشهوره شوه. فرعون د مصر باچا لپاره يو نوم و. د فرعون مطلب "لوی کور" دی. دا نوم به خلکو ورته د درناوي په ډول کارولو.

عِکرمه (رضی الله تعالی عنه ) به چې کله نبي (عليه السّلام) وليد، نو وبه يې ويل: "يخرج الحی من الميت" د الله تعالی د قدرت له نخښو څخه يوه همدا ده چې له کافر څخه مسلمان پيدا کوي او څرنګه چې يې خوښه شي، هماغه ډول په خپل مخلوق کې تصرف کوي.

د ابوجهل نوم عمرو بن هشام المخزومي القرشي دی. له نبي (عليه السّلام) سره د نوموړي او د پلار يې (ابوجهل) ډېره سخته دښمني وه.

عِکرمه (رضي الله تعالی عنه) ډېر مشهور آس دوان و. د مکې مکرمې د فتحې په ورځ يمن ته وتښتېد، بيا يې ښځه (أم حکيم) ور پسې ورغله او بېرته يې نبي (عليه السلام) ته راووست. چې کله نبي (عليه السلام) وليد، ورته ويې ويل: "مرحبًا بالرّاکب المهاجر".

اسلام يې د فتحې په آتم کال راوړ او خپل اسلام يې کامل او صحيح وګرځاوه.

د يرموک په ورځ د حضرت عمر فاروق (رضي الله تعالی عنه) د خلافت په زمانه کې شهيد شو. أم سَلَمَة (رضي الله تعالی عنها) له رسول الله (صلّی الله عليه و سلّم) څخه روايت کوي: قال رأيت لابي جَهل عِذْقًا في الجنة فلما اسلم عِکرمة قال يا أم سَلَمَة هذا هو.

ژباړه: ويې ويل: ما په جنت کې د ابي جهل لپاره د انګورو وږی وليد.هر کله چې بيا عِکرمه (رضي الله تعالی عنه) اسلام راوړ، نو يې وويل: دا هغه دی.

أم سَلَمَة (رضي الله تعالی عنها) وايي: چې عِکرمه (رضی الله تعالی عنه) نبي (عليه السّلام) ته شکايت وکړ چې زه کله په مدينه منوره کې تېرېږم، نو دوی ما ته وايي:

هذا ابن عدوّ الله ابی جَهل. دغه د الله تعالی د دښمن(ابوجَهل) زوی دی. نو بيا رسول الله (صلّی الله عليه و سلّم) پورته شو او خطبه يې وويله،د الله پاک حمد او ثناء يې بيان کړه او ويې ويل: الناس معادن خيارهم في الجاهلية خيارهم في الإسلام اِذَا فَقُهُوْا.

ژباړه: خلک معدنونه دي. لکه: د سرو او سپينو زرو معدنونه). له اسلام نه مخکې زمانه کې تر ټولو ښه په اسلام کې ښه دی، که دوی پرې پوه شي. څرنګه چې په معدنونو کې توپير شته، ښه او بد لري، همداسې په خلکو کې هم فرق شته؛ هغه کسان چې په جاهليت کې غوره او د ښو اخلاقو څښتنان وو، هغوی چې کله اسلام راوړي، نو هماغه غوره والی يې شته؛ بلکې لا زياتېږي چې دوی د شريعت په فرامينو او لارښوونو عمل وکړي.

**يادونه:** د عِکرمه لفظ زياتره کسان عَکرمه وايي، يعنې د عين په فتحه (زبر) سره چې دا غلط دی؛ صحيح تلفظ يې د عين په کسره (زېر) سره دی. د ليکنې له اوله تر دې دمه عين ته زېر ورکړل شوی چې همدې خبرې ته اشاره ده. مرقاة المفاتيح جلد ٨ ص ٥٠٠

ابورشيد "متقي"

# صدیقین څوک دي؟

دانسان له سترو مرتبو څخه یوه مرتبه رښتونولي ده؛ په کوم انسان کې چې رښتونولي زرغونه شي نو پخپله له خلکو لوړیږي اودقدر وړ گرځي.

رښتونولي څه ته وایي؟ رښتوني څوک دي او څنگه انسان کولی شي په ځان کې رښتونولي راولي؟ ستر مفسرعلامه آلوسي رحمه الله پخپل تفسیر روح المعاني کې دصدیقینو درې تعریفونه کړي:

۱- الذی لایخالف قاله حاله. هغه چې وینا یې له حال سره ټکر نه وي.

څه چې په خوله وایي هغه دعمل په بڼه څرگند کړي، څومره ایمان چې یې په خوله وي له هغه زیات یې په زړه کې وي، په غیبو یې ایمان وي او د هرڅه لپاره دلیل ونه غواړي. حضرت علي رضی الله عنه به ویل : اذا رأیت النار والجنة یوم المحشر ما ازددت یقینا. که په لویه ورځ دوزخ او جنت ووینم نو په یقین کې به مې هیڅ زیاتوالی را نه شي. یعني په دې دنیا کې یې دآخرت په ورځ دومره ټینگ ایمان و چې په ستر گو جنت او دوزخ لیدلو غوښتنه یې نه کوله گواکې لیدلي یې ول.

۲- الذی لایتغیر باطنه من ظاهره. هغه چې باطن یې دومره قوي وي چې حالات هیڅ اغیزه پرې ونه کړي.

دبنده خوشحالولو له امله دالله جل جلاله نافرماني او سرغړونه ونه کړي؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: لاطاعة لمخلوق في معصیة الخالق. دالله جل جلاله په نافرمانۍ دبنده پیروي روانه ده.

۳- الذي یبذل الکونین في رضا محبوبه. هغه چې دالله جل جلاله په خوښۍ دواړه جهانه ځار کړي.

خو له دې داپوښتنه رامنځ ته کیږي چې انسان به دادنیا ځار کړي آخرت به څه ډول ځاروي؟

ځواب یې دادی چې انسان په دنیا کې نیکي دجنت غوښتلو لپاره ونه کړي بلکې دالله جل جلاله خوښۍ حاصلولو لپاره یې وکړي ځکه دهر شي پایله او مقصد دالله جل جلاله خوښي ده البته جنت به په دویمه درجه کې ددې لپاره غواړي چې دالله جل جلاله لیدنه پکې کیږي؛ دا په الله جل جلاله باندې آخرت ځارولو مانا ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم له خپل رب څخه داسې غوښتنه کوله: اللهم اني اسألک رضاک والجنة واعوذ بک من سخطک والنار.

خدایه! له تانه ستا خوښي او جنت غواړم او له تا څخه ستا له ناخوښۍ او اور نه پناه غواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به له هرڅه دمخه دالله جل جلاله خوښي غوښته او دهغه له ناخوښي به یې پناه غوښته. رښتیا هم رښتوني میړنان داسې وي چې دخپل محبوب خوښي په هرڅه مخکې کوي.

همدا رښتونولي ده چې منافق او مسلمان سپین او تور یې سره جلا کړل؛ علامه ابن قیم الجوزیة رحمه الله وایي : هو سیف الله في أرضه الذي ما وضع علی شئ الا قطعه(مدارج السالکین۳/ ۵)

رښتونولي دالله جل جلاله په ځمکه دهغه توره ده چې په هرڅه یې ایښې پرې کړې یې دی.

په جنت کې دربښتونو ځایو ته دبېلابېلو نعمتونو ویالې بهیږي او له پیغمبرانو وروسته ترټولو لوړ خلک صدیقین دي؛ الله جل جلاله وایي: اولئک الذین انعم الله علیهم من النبیین والصدیقین والشهداء والصالحین. ژباړه: دا هغه خلک دي چې الله جل جلالهورباندې لورېینه کړې له نبیانو، رښتونو، شهیدانو او نېکانو څخه.

هر انسان کولی شي چې دامت دلویانو او دربښتونو ژوندمطالعه کړي او دهغو هر صفت خپل کړي گوندي رښتونی به شي اوهغو ته به نژدې شي.

**عبدالله زابلي**

# عقل، علم او ادب د انسان تر ټولو ستره پانگه ده

عقل دانسان لپاره یوداسې ستر ویاړ دی چې په همدې له نورو مخلوقاتو سره تمییز لري، عقل دانسان لوړوالی اوعزت دی، په انسانانو کې دعقلمند او هوښیار سړي درجه لوړه وي، همداعقل دی چې انسان کولی شي خپل رب پرې وپېژني، رسول او قرآن پرې وپېژني، دخدای جل جلاله په مخلوقاتو کې فکروکړي او د هغه له لويي او قدرت څخه خبرشي.

په نړۍ باندې عقل حکومت کوي اونړۍ هرمهال عقل ته په هرکلي ولاړه وي، عقل دمنزل دلارې لارښود دی خو عقل په وارخطايي کار نه کوي بلکې غره ته ختو په څېر په کراره کراره کار کوي اومنزل ته دې رسوي.

په خبرو، پرېکړو او هره ويناکې له عقل څخه کار اخله ځکه عقل ترټولو ښه عادل مفتي اوقاضي دی.

هرسړی عقل لري خو هر سړی له عقل څخه کار نه اخلي.

نوداخبره هم سهي نه ده چې : ماته يې مه ښيه زه هم عقل لرم.

عقل دې له ډېرو خبرو گرځوي، د يوځو ښو او غوره خبرو کولو ورتيا درکوي، ځوک چې ډېرې خبرې کوي هغه ډېرغلطيږي او پرېکړې يې له انصاف څخه خالي وي.

عقل له پوهې، تجربو او ډېرو خوړو وروسته لاسته راځي له هرداسې راتلونکي څخه مه وېرېږه چې هم ترې وېره لرې اوهم پکې خپله گټه وينې بلکې گټه په نظر کې ساته او پرمخ ځه ځکه يابه دې خپلې گټې ته ورسوي اويا به دې پېښه هوښيار(ه)کړي. د خدای جل جلاله نعمتونه پای نه لري اونه يې هم انسان د شکر وېستلو وس لري. خدای جل جلاله وايي: که وغواړې چې نعمتونه مې وشمېرې نو پوره به يې نه کړای شې.

**علم**

علم دخدای جل جلاله صفت دی چاته چې يې خوښه شي ورکوي يې،علم له خدای جل جلاله څخه دوېرې يواځنۍ لاره ده، الله جل جلاله وايي: انمايخشى الله من عباده العلماء . بې شکه دخدای له بندگانوڅخه علماء له الله نه وېره کوي اوله الله جل جلاله څخه وېره انسان کمال ته رسوي.

علم دعزت اولوړۍ لامل دی،خدای جل جلاله وايي:

[redacted]

ژباړه: الله په تاسې کې دهغو کسانو درجې اوچتوي چې ايمان يې راوړی او چاته چې علم ورکړی شوی.

پيغمبرعليه السلام وايي: خيرالدنياوالاخرة مع العلم وشرالدنياوالاخرة مع الجهل() د دنيااو اخرت خير له علم سره دی او شر يې له ناپوهی سره دی. بل ځای يې فرمايلي: دعالم فضيلت په پرهېزگار داسې دی لکه زمافضيلت ستاسې په کمترين باندې.

نه پوهېږم، نيم علم دی:

په کوم شي چې علم نه لرې نو په نه پوهېږم يې ځواب ورکوه داهم دپوهې برخه ده.

ابن مسعودرضى الله عنه وايي: ان من العلم ان يقول لمالايعلم لاأعلم. له امام مالک رحمه الله څخه يوچاځلوېښت مسلې وپوښتلې نوموړي د ځلورو مسلو ځواب ورکړ او پاتې نورو په ځواب کې يې وويل: لاأدرى، زه نه پوهېږم.

له امام شعبي رحمه الله څخه چا ديوې مسلې په هکله وپوښتل ويلې: لاعلم لی بها. نه پرې پوهېږم. چاورته وويل: شرمېږې نه؟ ويلې: چې پرښتې نه شرميږي زه ولې وشرمېږم. پرښتوخدای جل جلاله ته وويل: سبحانک لاعلم لنا.

عالم ددې امت ډاکټر اومعالج دی دنيايي مرض دی که عالم دنيا غوره کړي نو د امت به څه علاج وکړي.

دځوان عالم قدرپه سپين ږيري امي باندې لوړ دی علامه شامي رحمه الله وايي:
وحق العالم علی الجاهل وحق الاستادعلی التلميذواحدعلی السواء لايجلس مکانه، ولايرد کلامه..... دعالم حق پرجاهل داسې دی لکه داستادحق په شاګرد په ځای به يې نه کښيني اوخبرې به يې نه ردوي .
علي رضی الله عنه وايي: کم قيمته خلک کم علمه دي.
عالم داسې دی لکه ډيوه ځيني مهال پخپله په يوشي عمل ونه کړي خوبل ته يې لارښوونه کوي،ډيوه هم ځان سوځوي خوبل ته رڼا ورکوي هيڅاپه ډيوې نيوکه نه ده کړې چې ځان ته يې ولې ګټه نه رسي؟ نوپه عالم نيوکه کول هم سهي نه دي که هغه عمل نه کوي تاته خو ښه لاره ښيي ته يې ولې نه منې؟
که عالم نه يې دعالم قدروکړه، ځکه عالم ددين ستنه ده، درسول الله صلی الله عليه وسلم وارث دی او هغه ص ورته په ميراث کې داسې څه پريښي دي چې ټول امت ته يې خيررسي .ته هم دامت يوه برخه يې !!!!
له علماوو سره کښېنه، له هغو څخه دعلم نور داسې څپې وهي لکه په طوفاني هواکې چې سمندرڅپې وهي، ورانګې يې تر نورو زړونو رسي او دعلم نور زړونو ته داسې ژوند وربښي لکه داسمان اوبه چې ځمکې ته ژوند ورکوي.

علماء ددين ستنې، دنورچينې اوپه تياروکې ځلانده ستوري دي کومه ټولنه چې له علماوو بې برخې شي يايې ترې مخه واوړي ګواکې په تياروکې ولويږي داسې بريښي لکه په نابلدولارو چې يې مخه وي اودنابلدې لارې لارويان منزل ته نه رسي.
څلورځيزونه انسان لوړوي او سردارېې ګرځوي خپل يې کړه:
علم، ادب، رښتونولي، امانة.
**ادب**
ادب يواځې دانسان نه بلکې دټولې انساني ټولنې ښائست وي، څوک چې ادب خپل کړي ګواکې ټولنې ته ادب ورکړي، ادب يوه داسې اينه ده چې هرسړي ته پکې داصلاح لوری ليدل کيږي.
ادب زده کړه چې انسانان ترې ګټه واخلي ادب له تاڅخه دانه غواړي چې ته يې مدرسه پيل کړې اوخلکوته يې درس کړې بلکې ته پخپله دادب مدرسه يې په دې مدرسه کې بې ادبوته داخله مه ورکوه ادب پخپله ماحول جوړوي خلک چې په تاکې ادب ووينې نو ادب داسې جوهر دی چې هرسړی يې خوښوي اوله تاپې اخلي.
رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي: الدين کله ادب . دين ټول ادب دی. دين زده کړه چې ادب دې زده شي.

بايد ستااخلاق لوړ وي، په تاکې دې لوړې نه وي،هرسړی له ځان څخه لوړګڼه، په مجلس کې له ځان څخه مشر سړي ته ځای په دې نيت ورکوه چې هغه ددې ځای حقدار دی په دې نيت نه چې حقدار يې ته يې خو له عاجزۍ نه ورته ځای پرېږدې داهم تکبر دی.
بايدپه خپلو ورونوښه ګمان ولرې، په خپلومشرانواعتماد ولرې، دهغو ومنې اوپيروي يې وکړې، له ځان څخه کشرباندې مهرباني اوشفقت وکړې، ښايي له هرمسلمان سره نيکي وکړې وړه يې ونه بولې اودهرډول اصولوپه پوره توګه خيال وساتې په کاغذليکلې اصول ددېوال دښايست لپاره نه وي بلکې دعمل لپاره وي.
سلام کول له اسلامي ادبونوڅخه دی؛ رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي: که يې پېژنې اوکه يې نه پېژنې سلام ورباندې کوه.
په زړې ښځې هم سلام کولی شې هره مشره دمورپه ځای وي؛خوپه ځواني يې هغه مهال کولی شې چې پوښتنه درڅخه وکړې لاردرڅخه وپوښتي اويانورڅه درڅخه وپوښتي له دې پرته يې نه شې ورباندې کولی. همدا راز ښځه په سپين ږيري سلام کولی شي اوپه ځوان يې نه شي کولی البته که سخت ضرورت وي(لاريې غلطه کړي وي ياهسپتال ته د مريض پوښتنې لپاره ځي او لار ورته

مالومه نه وي) نوله ځوان ځخه يې پوښتنه کولی شي.

دهغه چاخبره به هيڅکله نه غورځوي چې ستادګتې لپاره يې وکړي اودهغه هيڅ ګټه پکې نه وي.

دهرچاقدردهغه ددرجې هومره کوه رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي: انزلوا الناس منازلهم . له عالم نه دهيچاقدرنه دی زيات داسې نه چې ملک يامشرترې لوړوګڼې اوزيات قدريې وکړې که ملک يې مه خفه کيږه داستادرسول خبره ده په همدې کې ستاعزت نغښتی دی ستازړه ته که خفګان وليږي دشيطان له خوادی مه يې منه!

دهرځای اوهرچاسره مناسبې خبرې کوه، دماشومانوپه وړاندې بايد له خپلې بي بي سره هرډول خبرې ونه کړې په دې سره ماشوم بې ادبه لوييږي همدارنګه مشران دې دماشومانوپه وړاندې لانجې نه کوي ځکه هر انسان له وړکتوب نه دسم اوناسم پرېکړه کوي که دی پکې غلط وي اوکه سهي وي په دې سره دماشوم له ځينو سره نفرت اوځينوسره مينه زياتيږي.

نفرت ته ځای مه ورکوئ مينه، محبت، يووالی او برابري راولئ!

**ابو عمر افغاني**

# د مسلمانانو ترمنځ د بېلتون لاملونه د يووالي ساتلو تګلاره

دمسلمانانو يواځې شتون هم د ورور ولی او يووالي نښه ده چې دامت يادونه وشي ديووالي يادونه پخپله ورسره کيږي ځکه دا دواړه له يوبل سره لازم او تړلي دي؛ البته دحالاتو دبدلون له امله دې ته اړيو چې دمسلمانانو په يووالي څو کرښې وکاږو.

قرآن دپخوانيو امتونو ديووالي او بېلتون ځانګړې يادونه کړې او ورسره يې دې ته هم اشاره کړې چې بېلتون داالله جل جلاله دناخوښی او سزا لامل ګرځي؛الله جل جلاله وايي:

فاختلف الاحزاب من بينهم فويل للذين كفروا من مشهد يوم عظيم .(مريم/٣٧)

ژباړه : بيا(اهل کتابو)ډلو پخپلو کې اختلاف وکړ، څوک چې کافران شول هغو ته په لويه ورځ هلاکت دی.

په سورة يونس کې فرمايي:

وماكان الناس الا امة واحدة فاختلفوا ولولا كلمة سبقت من ربک لقضى بينهم فيما فيه يختلفون (يونس/١٩)

ژباړه: او دا خلك په پيل کې صرف يو امت وو خو بيا وروسته سره مختلف شول، او که ستا د رب له خوا لاړومبی يوه خبره نه وی فيصله شوې نو اوس به د هغه څه پرېکړه شوې وه چې دوی پکې اختلاف کوي.

قرآن دتېرو امتونو ترمنځ داختلاف درې بنسټيز لاملونه بيان کړي دي:

١- لکه څنګه چې دانساني ژوند پيل دالهي وحي پر بنسټ شوی او الهي وحي ديووالي درس ورکوي نوله همدې کبله دتولنيز ژوند پيل له يووالي څخه وشوځو کله چې انسانانو له الهي پيغام څخه سرغړونه وکړه نو له اختلاف او بېلتون سره مخ شول .

الله جل جلاله وايي: وأن هذا صراطي مستقيما فاتبعوه ولا تتبعوا السبل فتفرق بكم عن سبيله .(الانعام/١٥٣)

ژباړه : اوبې شکه دغه زما نېغه لار ده نوپيروي يې وکړئ او دنورو لارو پيروي مه کوئ چې له نېغې لارې مو اړوي.

مالومه شوه چې له الهي وحي څخه سرغړونه داختلاف او بېلتون لامل ګرځي.

٢- کومو خلکو چې دبېلتون بنسټ کېښود هغو دناپوهی له امله داسې ونه کړل بلکې دضد او بغاوت له امله يې

وکړل، هغوی په الهي وحي پوه ول البته د ضد او ځان چارۍ له کبله یې له ځان سره نور انسانان هم دبېلتون کندې ته ټېل وهل.

۳- الله جل جلاله چې مسلمانانو ته کومه لارښوونه کړې دهغې له امله دوی له بېلتون څخه ساتل شوي او الله هغه چاته لارښوونه کوي چې خوښ یې شي؛ نودچا په زړه کې چې دبېلتون راوستو هوډونه وي په خپل ایمان دې وورېږي.

الله جل جلاله وايي:

ان الدين عندالله الاسلام وما اختلف الذين اوتوا الکتب الا من بعد ما جاء هم العلم بغيا بينهم ومن يکفر بآيات الله فان الله سريع الحساب.(آل عمران/۱۹)

ژباړه : یقیناً الله ته منلی دین اسلام دی او د اهل کتابو مخالفت خو دخپل منځي ضد له امله یوازې له هغه وروسته ؤ چې علم ورته راغی او څوک چې د الله له اّیتونو منکرشی نو بې شکه الله ډېرژر حساب والا دی.

الله جل جلاله څرګنده کړه چې دالهي علم او دالله کتاب په شتون کې اختلاف کول دناپوهۍ له امله نه دی بلکې دسرکښۍ او بغاوت له امله دی ځکه الله جل جلاله دبغيا بينهم توری کارولی.

زموږ عادت ګرځېدلی چې دهرې نیمګړتیا لامل له موږ نه په وتلي خلکو کې لټوو حالانکه دامرض په موږ کې دننه دی دقرآن اصول دي چې انسان له خپل لاس څخه هم ناکامیږي او هم بریالی کیږي.

الله جل جلاله وايي: وما اصابک من سيئة فمن نفسک.

همداراز چې داحد په میدان کې یوځل مسلمانانو ته شکست په برخه شوالله جل جلاله مسلمانان ملامت کړل او دحنین په غزا کې هم داسې وشول چې مسلمانان تر شا شول نو الله جل جلاله مسلمانان ملامت کړل چې داهرڅه ستاسې له امله وشول تاسې په الله جل جلاله باور ونه کړ بلکې پخپل ډېروالي مو تکیه وکړه نو له شکست سره مخ شوئ.

اوس هم داسې ده چې په الله او شریعت بې باوره یواو په دنیا او مادیاتو مو ډډه ده چې له بېلتون سره مو سر دی، ناکامۍ سره مخ یو او خپل حقوق مو له لاسه ورکړي.

دټولنې دبیا رغونې ترټولو ستر لامل فکري یووالی دی، ددې فکري یووالي درې بنسټونه دي، الهي توحید، رسالت او اسلامي وروروليّ؛ دمسلمانانو دیووالي لپاره همدا درې بنسټونه بس ول خو رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې بسنه ونه کړه بلکې دلازیاتې پاملرنې په پار یې لنډه او بشپړه وینا وکړه:

اياكم والظن فان الظن اكذب الحديث ولاتحسسوا ولا تجسسوا ولاتناجشوا ولاتحاسدوا ولاتباغضوا ولاتدابروا وكونوا عباد الله اخوانا.(بخاري ح شمېره/۸۹۶)

ژباړه: له بدګمانۍ څخه ډډه وکړئ، بې شکه ګمان دروغترینه خبره ده، دچابدي مه ښکاره کوئ، جاسوسي مه کوئ، دبیې لوړولو په موخه بولي مه ورکوئ، یوله بل سره حسد مه کوئ، یوله بل څخه بد مه وړئ، یوله بله سرغړونه مه کوئ او دالله بندګانو ورونه اوسئ.

ځار له داسې رسول او داسې وینا چې په څوټکو کې یې دټولیز ژوند ټېرولو واړه اصول راونغاړل.

همداراز ځینې مهال نا مسلمان اسلام دښمن قوتونه د خپلو لاسپوڅو له لارې هڅه کوي چې د مسلمانانو په منځ کې ځای ورته پیدا کړي او بیا له داخل څخه د لاسپوڅو په توسط خپلې موخې تعقیب کړي.

په داسې وخت کې مسلمانانو ته ښايي بیدار واوسي، له ځرکتیا کار واخلي، په هر چا باور ونه کړي او هر ډول خلکو ته دندې ورنه کړي، بلکې باوري، مخلص، ژمن او مسلکي خلک ولټوي چې د نظام او ټولنې د پرمختګ او پیاوړتیا باعث شي.

له همدې امله د اسلامي امارت مشرتابه د خپل صف تصفیې ته پاملرنه کړې، په هر ډول خلکو باور نه کوي او نه هر چا ته په نظام کې مخه ورکوي، تر څو نظام یې له خطرونو او ګواښونو څخه وژغورل شي.

عبدالله زابلي

# په نړۍ داسلامي انقلاب اغیزې



د نړۍ هر لور ته د ګوندونو او چاروکو تحریکونه دي هڅه کوي چې په نړۍ کې انقلاب راولي، انسانان له سختو حالاتو څخه د سوکالۍ پر لور بوزي، مسلمانان هڅه کوي چې تراسلامي مفکورې لاندې انقلاب راولي او نامسلمانه خلک غواړي چې ترخپلې مفکورې لاندې انقلاب راولي؛

خو هره ګړۍ د مسلمانانو له پرمختګ سره په نړۍ کې خوښي راځي او دغیر اسلامي عناصرو پرمختګ روحي سکون له منځه وړي.

نو دا ضروري ده چې داسې انقلاب راشي چې انسانانو ته خپل حقوق ورکړي او وینه تویه نه شي، په نړۍ کې چې څومره انقلابونه راغلي د انسانانو پر

نو دا ضروري ده چې داسې انقلاب راشي چې انسانانو ته خپل حقوق ورکړي او وینه تویه نه شي، په نړۍ کې چې څومره انقلابونه راغلي د انسانانو پر
سرونو راغلي او ځمکه یې په وینو سره کړې خو په حقیقت کې وینه بهېدل د انقلاب نفي ده، د داسې انقلاب چې وینه پکې تویه نه شي د امن انقلاب ورته ویلی شو.

له تاریخ څخه مالومیږي چې ټول انقلابونه له وینو تویېدو وروسته رامنځ ته شوي، یواځې د رسول الله صلی الله علیه وسلم انقلاب داسې مثال دی چې وینه یې نه ده تویه کړې ځکه چې هغه د انسانانو په سرونو نه بلکې دفکرونو په میدان رامنځ ته شوی و، که رسول الله علیه وسلم له تاریخ څخه لرې شي نو نه یواځې داچې دامن انقلاب به یوه افسانه شي بلکې په نړۍ کې به بل داسې مثال پاتې نه شي چې انسان دهغه په رڼا کې دراتلونکي په اړه دامن انقلاب فکر وکړي.

په فرانس کې جمهوري انقلاب راغی دهغه په ترڅ کې دعواوو او شاهي نظام چاراوکو ترمنځ نښتو کې لس لکه وګړي له ژوند څخه محروم شول.

همداراز داول او دویم نړیوال جنګ پایلې وې، دویم نړیوال جنګ چې دانقلاب راوستلو په پار ترسره شو له شپږ کروړ څخه زیات انسانان پکې مړه شول . ددې پر خلاف رسول الله صلی الله علیه وسلم له دنیا څخه ولاړ او په ۱۲ لکه مربع

ځمکه یې داسې فکري او اخلاقي انقلاب راوستلو چې نړیوال یې دې ته اړ کړل چې له جنګ پرته سر ورته ښکته کړي.

په دې اوږده ځمکه او دومره لوی انقلاب کې یواځې ۱۰۱۸ انسانان ووژل شول، تاریخ پوهان لیکي ۲۵۹ یې مسلمانان ول او۷۵۹ نامسلمانه ول.

د دې لوی انقلاب په نسبت دومره مرګ ربښتیا هم داسې لږ دی چې شمار وړ نه دی، داځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپلو اصحابو ته ویل : لاسلام رجل واحد احب الی من قتل الف کافر.

دیوتن مسلمانېدل ماته دزرو کافرانو له وژلو غوره دي، ځکه چې هغه فکري انقلاب غوښت او وینه تویول یې بد ګڼل.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له راتګ وړاندې د انساني ټولنې حالت په ویر ککړ و، انسانانو د انسانیت کالي وېستلي ول، د اخلاقو جنازه شوې وه، د ښځې حقونه تر پښو لاندې ول، هغوی ویل ښځه خدای د شهوت پوره کولو لپاره پیدا کړې ده، نور حق نه لري چې له نارینه و سره واوسي، یوځای یې ډوډۍ نه ورسره خوړله او د حیوان په څېر چلن یې ورسره کوی.

**دانقلاب راوستلو لار**

هر انقلاب په پیل کې دیو انسان ددماغو مفکوره وي خو کله چې یې دبل انسان دماغو ته نقل کړي نو دانقلاب لپاره لار پرانستل شي.

ښه منشور او منظم ټولی دانقلاب لومړی شرط دی او دحالاتو پیروي کول او راز ساتنه یې په ګړندي کولو کې مرسته کوي، که څوک غواړي چې انقلاب راولي ښايي چې مخالفان ونه لري او که وي نوښايي چې له پلویانو څخه یې کم وي، ځکه دا یې د ربښتونولۍ نښه ده او کولی شي چې دخدای ورکړې استعداد په مټ د خلکو په زړونو کې ځای ومومي.

دخلکو د ظاهر پر ځای د هغو روح او زړه ګټل په انسان کې استقامت پیدا کوي او په سختو حالاتو کې یې نه یواځې کوي؛ او د خلکو زړونه هغه مهال ګټلی شي چې دا دوه شرطونه په ځای کړي:

۱- دالله جل جلاله شریعت ته په بشپړه توګه او اخلاص سره سر ښکته کړي، او له زړه نه یې دپلي کولو کلک هوډ ولري، ځکه دا د فطرت دین دی انسان کولی شي چې د دین په مټ د انسانانو فطرت خپل کړي.

دا چې مسلمان په دنیا کې تر ټولو ډېر ارزښت دین ته ورکوي او همدا یې د دنیا او آخرت ستره پانګه ده ځکه نو الله جل جلاله په دنیا کې ظاهري پرمختګونو او په جهادونو کې خپل نصرت هم اسلام ته په ژمنتیا پورې تړلي دي، څومره چې یو قوم اسلام ته ژمن وي، خبرې، کړنې او ارادې یې د دین له احکامو او اصولو سره عیارې کړې وي، هومره یې بریا او پرمختګ یقیني وي.

د امریکا او ناټو په وړاندې شل کلن جهاد له ځان سره ډېر پندونه د زده کړې وړ درسونه لري، دا د نړۍ د لویو قوتونو په وړاندې د مسلمانانو د یوې کمزورې او بې وزلې ډلې مبارزه وه، دا هغه مبارزه وه چې په دارالاسباب کې یې بریا نه اټکل کېدله، په اسبابو کې د عالم الاسباب غرق شویو خلکو دا سپېڅلې مبارزه ناپوهي او د عقل خلاف بلله، بې نتیجې او غیرمعقوله یې ګڼله خو یو څو الله منونکو او د الله په نصرت باور لرونکو بې بېلګې استقامت او د محض قربانیو دا بریا نه یواځې ممکنه بلکې متحققه کړه.

ځکه نو یقین لرو چې د الله د دین ژمنتیا او په ټولو چارو کې د دین پیروي بالآخره هغه منزل را لنډوي چې د عالم الاسباب اوسېدونکي یې ترلاسه کول نامعقول او نا ممکن ګڼي.

۲- په خپل فکر د نورو خلکو ځارولو پرځای ځان ځارولو ته تیار وي، او دا هغه بیه ده چې هیڅ انسان غاړه نه ورته ږدي، د دې قربانۍ پیل رسول الله صلی الله علیه وسلم کړی: دحنین غزا پر مهال چې نوي مسلمانان د جهاد له میدان څخه تر شا شول، په مسلمانانو له هر لوري د غشو باران ووریدلو؛ نو رسول الله

صلی الله علیه وسلم له خپل تره سره یواځې پاتې شو او خپل امت ته یې اواز وکړ: انا النبي لاکذب انا ابن عبدالمطلب. زه رښتونی نبي یم او دعبدالمطلب زوی یم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم سخت زغم وکړ قربانۍ ته تیار و تر شا نه شو، په خپل فکر کې رښتونی و او کلک ولاړ و، ځکه چې د وینې تویولو انقلاب د نښتې په میدان راځي او د امن انقلاب دصبر په ځمکه راځي.

د اسلامي امارت مشرانو په شل کلن جهاد کې همدا قرباني د جهاد په عملي ډګر کې وښودله، په دې مبارزه کې یواځې د امارت عسکر نه بلکې مشرانو هم قرباني ورکوله او بلکې مشران یې له کشرانو په ډېر سخت امتحان کې وو.

امیرالمؤمنین ثالث عمر رحمه الله له امریکایي یرغل وروسته د ژوند تر پایه له خپلې کورنۍ لرې پاتې شو، هره شپه یې او هره ورځ یې د امریکایي وحشیانو د بې پیلوټه الوتکو د بمبار په وېره کې تېروله او دا ټولې قربانۍ یې د الله د دین لپاره ورکولې.

امیرالمؤمنین ملااختر محمد منصور رحمه الله بیا د یو بې پلوټه الوتکې په بمبار کې لوليه شو، د عالیقدرامیرالمؤمنین سیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله زوی د امریکایي یرغلګرو په وړاندې د استشهاد تاریخي حمله وکړه او پلار یې

پرې خبرو، خو دا یې د دې لپاره وکړل چې بیا څوک دا فکر ونه کړي چې ګواکې د اسلامي امارت مشرانو قرباني نه ده ورکړې.

موږ باید د رسول الله صلی الله علیه وسلم ژوند مطالعه کړو او صبر ورڅخه زده کړو، ۱۳ کاله یې په مکه کې د خپلو ځاني دښمنانوداسې ترخې وزغملې چې هیڅ بې وسه یې هم نه شي زغملی او تاریخ په خپلو پاڼو کې ثبت کړه چې زما په غېږ کې داسې انساناني انقلاب راوستلی شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم دیارلس کاله په مکه مکرمه کې د اسلام پټه او ښکاره بلنه وکړه، په دې لړ کې یې د مشرکانو له لوري ډول ډول کړاوونه او ربړونې ولیدلې، اصحابو یې څو ځله د مشرکانو په مقابل کې د جهاد غوښتنه کوله خو رسول الله صلی الله علیه وسلم به د الله تعالی د لارښوونو سره سم د زغم او عفوې سپارښتنه ورته کوله، بیا د حبشې او مدینې منورې هجرت ته مجبور شول او له هجرت وروسته هم د مشرکانو اذیتونو ادامه پیدا کړه تر دې چې بیا د جهاد اجازه وشوه او د دې مبارک عمل نه وروسته یې په مدینه منوره کې یو پیاوړی اسلامي نظام جوړ کړ او د هغه له برکته په نړۍ کې د انسانانو اخلاقي، علمي او فرهنګي روزنه وشوه، د مېرمنو حقوق یې انسانانو ته وښودل او وې ژغورل، په میراث کې یې حق ورکړ،

له ژوندۍ ښخولو یې انسانان منع کړل، د مور، خور، لور، مېرمنې، خاله او عمه په توګه یې د هرې مېرمنې مقام، حقوق او درناوی حفظ کړ او انسانان یې د جهالت او بې لارۍ له تورو تیاریکیو څخه د علم او هدایت رڼاوو ته را ووېستل.

الله تعالی فرمایي: يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمَاتِ اِلَى النُّوْرِ.

دا قرآن یې له تیارو څخه رڼاوو ته راباسي.

که د سیرت په کتابونو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مبارک بعثت رمخه د عربو ټولنه مطالعه کړئ، د یوناني تمدن، د هنودو د ثقافت او د نورو پرګنیو د ټولنیز، فرهنګي، علمي او ثقافتي حالاتو څخه کتنه وکړئ او بیا له اسلام وروسته اخلاقي او ثقافتي انقلاب وګورئ نو تاسې ته به معلومه شي چې اسلام څه ډول بدلون راوړی دی او انسانان یې له هغه تورو تیارو څخه څنګه را وېستلي دي.

نور نو همدا موضوع په همدې ځای پرېږدم خو چې باید تاسې یې د سیرت په کتابونو کې مطالعې ته ادامه ورکړئ او د خپل دین په ارزښت وپوهېږئ.

ابو محمد فیروزي




## زخمي هېواد

وداڼ اوسئ، وداڼ اوسئ تل زما افغانستانه
سرلوړی په جهان اوسئ تل زما افغانستانه
ستا هر بوټی دوا ده او د هر مرض شفا ده
ګلان دې قدر داڼ اوسئ تل زما افغانستانه
په هر میدان نړۍ سره سیالۍ او رقابت کې
زلمي دې نور روان اوسئ تل زما افغانستانه
سپېڅلي شریعت سره اسلام په پاکه خاوره
نافذ د پاک قرآن اوسه تل زما افغانستانه
داستا ښکلیو باغچو او په رنګینو منظروکې
خوشحاله دې باغوان اوسئ تل زما افغانستانه
دسپین هدف لپاره په اغزنه سخته لاره
روان دې تل کاروان اوسئ تل زما افغانستانه
په امن له جګړې دې دا زخمي زخمي وجود شئ
د سولې ترجمان اوسه تل زما افغانستانه
دا ستا د ازادۍ لپاره تل حیدري.! وایم
بچې دې قهرمان اوسه تل زما افغانستانه

**محمد آغا حیدري**

## د وطن مینه

ستا د نوم توري مې لیک دي په ورغوي
ته چې نه وې زړه مې تک درپسې چوي

اې د ښکلو میره پام چې نظر نشې!
په ښایست دې څومره ډېر رقیب+بان سوي

نن مې بیا د خیال په تخت اوړي را اوړي
اندېښنې، هیلې، سوچونه نوي نوي

دوی د مور وطن په قدر څه خبر دي؟
دوی پرېږده چې د پردیو شیدې روي

وچې شونډې، سر ببر، ګرېوان شکېدلی
اې ریحان وردګه څه دریاندې شوي؟

ریحان وردګ

# ډېرینه مینه

د جنتونو له محله اوړي
له تَعهُده چې په خپله اوړي
پکې ورمې عطروریني لړې’
غوټې موسکئ، موسکئ له گله اوړي
واووښت په داسې ډېرینه مینه
وریت په لمبو له پیمان کله اوړي
لیونئ زړه یې استقبال ته راغلو
نن بوراگاني له بلبله اوړي
هغه پیکه حُسن یې ونښتیځو
د تندي گونځي یوه پربله اوړی
ننگ به دین، اوخاوره کله کوي.؟
(غاویره) څوک چې له مورچله اوړي

غاویر

این تویی یا سرو بستانی به رفتار آمدست
یا ملک در صورت مردم به گفتار آمدست
آن پری کز خلق پنهان بود چندین روزگار
باز می بینم که در عالم پدیدار آمدست
عود می‌سوزند یا گل می‌دمد در بوستان
دوستان یا کاروان مشک تاتار آمدست
تا مرا با نقش رویش آشنایی اوفتاد
هر چه می‌بینم به چشمم نقش دیوار آمدست
ساربانا یک نظر در روی آن زیبا نگار
گر به جانی می‌دهد اینک خریدار آمدست
من دگر در خانه ننشینم اسیر و دردمند
خاصه این ساعت که گفتی گل به بازارآمدست
گر تو انکار نظر در آفرینش می‌کنی
من همی‌گویم که چشم از بهر این کارآمدست
وه که گر من بازبینم روی یار خویش را
مرده‌ای بینی که با دنیا دگربار آمدست
آن چه بر من می‌رود دربندت ای آرام جان
با کسی گویم که در بندی گرفتار آمدست
نی که می‌نالد همی در مجلس آزادگان
زان همی‌نالد که بر وی زخم بسیار آمدست
تا نپنداری که بعد از چشم خواب آلود تو
تا برفتی خوابم اندر چشم بیدار آمدست
سعدی اگر همتی داری منال از جور یار
تا جهان بودست جور یار بر یار آمدست

# روانې چارې

## د ۲۰۱خالد بن ولید رض سرحدي کنډک مجاهدینو ٦ تنه قاچاق کوونکي له یو شمېر نشه یې توکو سره یو ځای نیولي



د ۲۰۱ خالد بن ولیدرض قول اردو، د عبدالله بن زبیررض لومړۍ سرحدي لواء نهم سرحدي کنډک زړورو مجاهدینو د کشفي راپورونو پر اساس تېره شپه د ننګرهار ولایت سپین غر ولسوالۍ مومندرې مورګې سر په سیمه کې ٦ تنه قاچاق کوونکي چې ۴ تنه یې د ګاونډي هیواد د خبیر ایجنسۍ او ۲ تنه یې ننګرهار اوسیدونکي دي له۹۰ کـُـلچې خام چرسو سره یو ځای نیولي دي. دغه کسان هغه مهال نیول شوي چې غوښتل یې یاد نشه یې توکي له فرضي کرښې پورې غاړې ته تېر کړي؛

یاد کسان به د قانوني مراحلو له بشپړولو وروسته اړوند ارګانونو ته وسپارل شي.

## د ملي دفاع وزارت سرپرست وزیر له ۲۱۷ عمري قول اردو څخه لیدنه وکړه

د ملي دفاع وزارت سرپرست وزیر مولوي محمد یعقوب "مجاهد "د هیواد شمال زون ته د خپل سفر په ترڅ کې کندز ولایت ته ولاړ او هلته یې د ۲۱۷ عمري قول اردو له رهبرۍ، مسؤلینو او همدارنګه د یادې قول اردو اړوند اومې سرحدي لواء له مجاهدینو سره ولیدل.

مولوي محمد یعقوب "مجاهد "د ۲۱۷ عمري قول اردو مجاهدینو ته هر اړخیزه وینا وکړه او زیاته یې کړه» :چې د صف وحدت ،د خپلو امیرانو اطاعت ،د اسلامي نظام د استحکام او د خپلو اسلامي او ملي منافعو ساتنې ته ځانګړې پاملرنه وکړئ.

مولوي محمد یعقوب "مجاهد " د قول اردو رهبرې او مسؤلینو ته په خبرو کې وویل، چې د خپل افغان ملت د هوساینې لپاره په خپل ټول توان کار وکړئ او د یادې قول اردو مسؤلینو سره یې ژمنه یې وکړه چې هڅه کوو په ټول توان سره خپل قطعات او جزوتامونه په پوره توګه اکمال کړو.

همدارز سرپرست وزیر مولوي محمد یعقوب "مجاهد " یاد سفر کې د شېرخان بندر څخه د کتنې ترڅنګ د کندوز ولایت أصحاب الصفه دارالأیتام ښوونکو او زده کونکو سره هم ولیدل.

## د ۳۱۳ مرکزي قول اردو څخه ۵۰ تنه مجاهدین فارغ شول

د ملي دفاع وزارت اړوند ۳۱۳ مرکزي قول اردو د لومړۍ پلي لوا د لومړي البدر کنډک څخه ۵۰ تنه مجاهدین د جګړه ایزو او مسلکي زده کړو له یو میاشتني کورس څخه فارغ شول.

دغو مراسمو کې د ۳۱۳ مرکزي قول اردو مرستیال الحاج قاري امین الله طیب او ګڼ شمیر مسؤلینو او منسوبینو ګډون کړی وو. مسؤلینو یادو فارغانو ته د مبارکۍ ترڅنګ د اعداد په اهمیت او اړتیا وینا وکړې او زیاته یې کړه چې په شرعي امورو کې د خپلو امیرانو پوره اطاعت وکړئ.

یادو مجاهدینو د جګړه ایزو تکتیکونو ، پیاده حرکاتو او مانوراتو په ترسره کولو سره ژمنه وکړه چې له هیواد څخه به په هر ډول شرایطو کې دفاع کوو ،غونډه د بری لیکونو په ورکولو سره پای ته ورسیده.

## لوی درستیز قوای مسلح به فراغت محصلین اکادمی افسران پوهنتون دفاع ملی اشتراک ورزید

فراغت ۱۷۲ تن محصلین اکادمی افسران اسامه بن زید با اشتراک قاری فصیح الدین "فطرت "لوی درستیز قوای مسلح کشور در پوهنتون دفاع ملی حضرت ابوعبیده بن جراح "رض "برگزار شد.

این محصلین پس از سپری نمودن یک سال تعلیمات نظامی، مسلکی و عقیدتی امروز طی مراسم ویژه ی با حضور شماری از مسؤلان، منسوبین و مجاهدین از بیست ومین دور این اکادمی فراغت حاصل نمودند.

لوی درستیز قوای مسلح طی سخنانی در این مراسم، ضمن تبریکی به فارغان روی موضوعات لازم اشاره نموده و افزود، برای یک نظام اعداد و آموزش های نظامی امر ضروری است. اردوی اسلامی ما باید مجهز و آراسته به عقیده نظامی باشند تا در مقابل دشمنان قدرت خویش را به نمایش بگزارند .وی در ادامه اضافه نمود ، ما در حال حاضر متشکل از یک اردوی منظم و متعهد در منطقه هستیم که آماده هرگونه فداکاری و دفاع از ارزش های اسلامی ،سرحدات کشور هستند.

این مراسم با اجرای انواع نمایشات نظامی، مانور ،تحلیف عسکری، پیام های اطمینانیه بخش مجاهدین و اهدای تصدیق نامه به فارغان خاتمه یافت.

## په ۲۰۳ منصوري قول اردو کې ۵۰ تنه مجاهدین فارغ شول

د ۲۰۳ منصوري قول اردو اړوند دوهمې سرحدي لواء څخه ۵۰ تنه مجاهدین د درې میاشتني مسلکي پوځي او عقیدوي زده کړو وروسته نن ورځ د یو لړ شاندارو مراسمو په ترځ کې فارغ شول.

د غو مراسمو کې د ۲۰۳ منصوري قول اردو مرستیال حاجي روح الامین "روحاني" د پکتیا ولایت د استخباراتو رئیس مولوي ذاهد او ګڼ شمیر مسؤلینو او مشرانو ګډون کړی وو.

مسولینو په خپلو ویناوو کې یادو فارغانو ته د مبارکۍ ترځنګ زیاته کړه :چې همدغه د ملي اسلامي اردو مسلکي او زړور ځواکونو په هر ډول حالاتو کې د خپلو خلکو ،هېواد او اسلامي نظام څخه په مېړانه ساتنه کړې او تل یې د هیواد له سرحداتو څخه په کلکه دفاع کړې ده.

په پای کې فارغ شویو مجاهدینو د بیلابیلو وسلو په استعمال سره عملي نمایشات او مانورونه تر سره کړل او غونډه د بری لیکونو په ورکولو سره پای ته ورسېده.

## د ملي دفاع وزارت د مسلخ او تصدي ریاست لپاره نوی رئیس معرفي شو

د ملي دفاع وزارت رهبري د لزوم دید له مخې او د چارو د لا ښه سمون په موخه د حضرت ابو عبیده بن جراح ملی دفاع پوهنتون مخکنی قوماندان مولوي عبدالقیوم "الیاس "د مسلخ او تصدي ریاست لپاره ټاکل شوی وو، نن د منابعو د تنظیم اداري رئیس مولوي صدیق الله "محسن" له لوري رسما ً اړوند کارمندانو ته ور پیژندل شو.

دغه مراسمو کې د ملي دفاع وزارت ګڼ شمیر مسؤلینو ګډون کړی وو ،مسؤلینو په وینا کې نوی رئیس ته د مبارکۍ ترځنګ په چارو د بریالیتوب هیله وکړه ،همدا راز نوي رئیس مسؤلینو ته د ښه خدمت کولو ډاډ ورکړ.

## معاون اول ریاست اوپراسیون معرفی شد

نظر به لزوم دید رهبری وزارت دفاع ملی به منظور پیشبرد بهتر امور، مولوی عبدالکریم »نافظ« رئیس پیشین مسلخ به عنوان معاون ریاست اوپراسیون تعیین و از سوی مولوی شبیر احمد »عثمانی « رییس ارکان ستردرستیز به کارمندان معرفی گردید.

در این مراسم تعداد زیادی از روسا و مقامات وزارت دفاع ملی اشتراک داشتند و مقامات در سخنانی ضمن تبریکی به وی، آرزوی موفقیت در پیش برد امور نمودند، همچنان مولوی »نافظ «نسبت به ارائه خدمات بهتر به مسئولین اطمینان خاطر داد.

## د حضرت عبدالله ابن مسعود رض د جګړه ایزو ګډو زده کړو قوماندانۍ څخه (۱۱۱) تنه مجاهدین فارغ شول

د ملي دفاع وزارت د بیلابیلو قطعاتو او جزوتامونو (۱۱۱) تنه مجاهدین د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه د جګړه ایزو ګډو زده کړو قوماندانۍ د جګړه ایز ملاتړ ښوونځي د تطهیر، مخابرې، انجینرۍ او د جګړه ایزو تامیناتو ښوونځي د انجینرۍ وسایطو د حفظ او مراقبت له مسلکي زده کړو څخه نن د یوې غونډې په ترڅ کې فارغ شول.
په دې غونډه کې د حضرت عبدالله ابن مسعود رض د جګړه ایزو ګډو زده کړو قوماندانۍ درستیزوال مولوي شیر احمد "محمدي" د جګړه ایز ملاتړ ښوونځي قوماندان مولوي عبدالله "رحماني" او ګن شمیر مجاهدینو ،مسؤلینو او منسوبینو ګډون درلود.

مسؤلینو فارغ شوي مجاهدین خپلو راتلونکو مسؤلیتونو ته د متوجه کولو تر څنګه له هغوی څخه وغوښتل چې ترلاسه کړې مسلکي زده کړې په خپلو قطعاتو او جزوتامونو کې نورو مجاهدینو ته هم ور زده کړئ او اسلامي نظام ته د خدمت په نیت تربنه ګټه واخلئ؛ غونډه فارغانو ته د برۍ لیکونو په ورکولو سره پای ته ورسېده.

## د اندراب او خاواک کوتل د جوړولو چارې پای ته ورسېدې



د ۲۱۷ عمري قول اردو د رهبرۍ په هدایت د بغلان ولایت اندراب اوخاواک کوتل مواصلاتي لار د یادې قول اردو دریمې لواء انجینري ټیم له لوري د جوړولو چارې پای ته ورسېدې.
دا په داسې حال کې چې د سالنګ تونل د جوړولو چارې شروع شوي دي بدیله لار یې د خاواک کوتل او شیبر لاره ده چې خاواک کوتل لارې د مسافرو لپاره یو شمېر ستونزې جوړې کړې وې؛
د ۲۱۷ عمري قول اردو د رهبرۍ په لارښونه یاد کوتل د دریمې پلې حضرت زید ابن حارثه )ض (لواء انجینري ټیم له لوري د جوړولو چارې پیل شوی وې پای ته ورسېدې.
دغه سړک چې د پنجشېر او بغلان ولایت سره یوځای کوي د ۴۰ کیلو متره اندازې په اوږدوالي د ترمیم او جوړونې چارې یې چې څه موده مخکې پیل شوې وې کارې چارې یې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

## ملي دفاع وزارت څه باندې ۳۶میلیونه افغانۍ د هرات ولایت زلزله ځپلو سره نغدي مرسته وکړه

د هر اړخیزو همکاریو په لړ کې ملي دفاع وزارت مشرتابه داخل ،د هرات ولایت زلزله ځپلو هېوادوالو لپاره په یاد ولایت کې د کورونو جوړولو په برخه کې ۳۶، میلیونه پنځه سوه او ۷۴ زره افغانۍ نغدې ډالۍ کړې.
د ملي دفاع وزارت دغه نغدي مرسته د ستر درستیز د اوپراسیون رئیس مولوي نور الرحمن "نصرت "او د یاد وزارت ویاند عنایت الله "خوارزمي "له لوري د یو شمېر علماوو په حضور کې د هرات ولایت د علماوؤ شورا رئیس شیخ محمد بشر "حلیمي "او د هرات ولایت د زلزله ځپلو هېوادوالو ته د رسیدنې د کمیسیون رئیس ته تسلیم کړه.
په داسې حال کې ،چې د ملي دفاع وزارت په ځانګړې توجه سره ۱۰، میلیونه افغانۍ مخکې هم د لویدیځ زون زلزله ځپلو هېوادوالو ته د مرستې په توګه ډالۍ کړې وې. همدا راز د لویدیځ زون په ولایاتو کې د وروستۍ غمجنې پېښې رامنځ ته کیدو سره سم ،د ملي اسلامي اردو ځواکونو خپل مسلکي او فني ټیمونه لکه :هوایي ځواک ،انجینري ،صحي او نور منسوبین واستول ،چې تر اوسه یې له خپلو هېوادوالو څخه هیڅ ډول کوښښونه او هڅې نه دي سپمولې.

## د کورنیو چارو سرپرست وزیر د ۲۰۳ منصوري قول اردو دویمې پلې لوا څخه لیدنه وکړه

د کورنیو چارو سرپرست وزیر خلیفه سراج الدین حقاني د سویل ختیځ زون ته د سفر په ترځ کې د ۲۰۳ منصوري قول اردو له دویمې پلې لوا څخه لیدنه وکړه.

د کورنیو چارو سرپرست وزیر خلیفه سراج الدین حقاني پخپلو خبرو کې وویل:

د افغانانو د وحدت وخت دی، مجاهدین باید فاصلې ختمې کړي، د هېواد له ازادۍ وروسته د ابادۍ هوډ پیاوړی شوی دی موږ به د خدای او ولس په مرسته په دې هدف کې هم بریې ته رسېږو.

همدا راز د دویمې پلې لوا قوماندان او نورو مسؤلینو له راغلي پلاوي څخه مننه وکړه ،په پای کې خلیفه صاحب د ولس د ستونزو د حل کولو او هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ.

## د وسله والو ځواکونو ستر درستیز د بدخشان ولایت له اشکاشم ولسوالۍ څخه تر واخان پورې د سړک جوړولو کار پرانیستنه وکړه

د هیواد د وسله وال پوځ ستردرستیز حافظ محمد فصیح الدین "فطرت" په داسې حال کې چې د ملي دفاع وزارت د انجنیرۍ رئیس مولوي نصرالله "منصور "، د ۲۱۷ عمري او د ۲۰۹ الفتح قول اردو قوماندانانو یې بدخشان ولایت ته په سفر کې ملتیا کوله د دغه ولایت د اشکاشم ولسوالۍ تر پامیر (واخان)څخه د لویې لارې د جوړولو کار یې پرانیستنه وکړه.

ستر درستیز د دې پروژې د پرانیستې په مراسمو کې د واخان –پامیر لویې لارې بیارغونه په هیواد کې د سوداګرۍ په برخه کې مهمه وبلله او ویې ویل:

دغه لار لوی او کوچني پامیرونه د بدخشان ولایت مرکز سره نښلوي او چارې یې د ملي دفاع وزارت د رهبرۍ تر څارنې لاندې دي او تخنیکي ټیمونه به یې په پوره ایمانداری او امانتدارۍ سره تطبیق او ګټې اخیستنې ته وسپاري.

په ورته وخت کې د سیمې اوسېدونکو د اوږدمهاله ستونزو د حل او د ژوند د اسانتیاوو په رامنځته کولو کې د ملي دفاع وزارت د رهبرۍ له پاملرنې خوښي څرګنده کړه. د ملي دفاع وزارت مسلکي او تخنیکي ټیمونه ژمن دي چې د دې پروژې په پلي کولو او بشپړولو سره به د دې لویې لارې لیرې پرتې ولسوالۍ او کلي د بدخشان ولایت له مرکز سره ونښلوي او د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخو کې لازمې اسانتیاوې د هیواد شمال ته برابرې کړي.

## دستگیری سه تن قاچاقچی مواد مخدر و مهمات توسط منسوبین کشف و استخبارات قول اردوی ۲۰۵ البدر



بر بنیاد راپور های کشفی و استخباراتی منسوبین قول اردوی ۲۰۵ »البدر« سه تن قاچاقچی مواد مخدر و اسلحه ، ۸۰ هزار مرمی مختلف النوع را که در پاکت های چرس جاسازی نموده بودند بازداشت کردند.



این افراد قصد داشتند چرس و مهمات را که در یک موتر نوع فلدر جابجا کرده بودند به کشور پاکستان قاچاق کنند که بلاخره توسط نیروهای بیدار کشفی و استخباراتی از مربوطات مینار چوک ولسوالی سپین بولدک دستگیر شدند. افراد بازداشت شده برای تحقیقات بیشتر به ارگانهای مربوطه تسلیم داده شد.

## د شهيد سردار محمد داود خان په ۴۰۰بستريز روغتون کې د (ولادي ساعد) اورتوپيدي بريالي عمليات ترسره شول



د ملي دفاع وزارت ستردرستيز روغتيايي چارو قوماندانۍ رهبرۍ په ځانګړو هڅو او د بريد جنرال محمد اسماعيل وردګ په مشرۍ د مسلکي او متخصصو ډاکټرانو له لوري د شهيد سردار محمد داود خان په ۴۰۰ بستريز روغتون کې د يو ځوان )ولادي ساعد (اورتوپيدي بريالي عمليات ترسره شول.



د شهيد سردار محمد داود خان ۴۰۰ بستريز روغتون مسلکي پرسونل د پرمخ تلليو طبي وسايلو په درلودلو سره د هيوادوالو او ملي اسلامي اردو ځواکونو د تداوۍ لپاره شپه او ورځ په خدمت بوخت دي.

## د هلمند په ګرشک او نوزاد کې ژورو څاه ګانو ته لويدلي ماشومان وژغورل شول

د ملي دفاع وزارت تخنيکي ټيمونو او د ۲۱۵ عزم قول اردو مجاهدينو په همکارۍ د هلمند ولايت په نوزاد او ګرشک ولسواليو کې دوه تنه ماشومان ،چې ژورو څاه ګانو ته لوېدلي وو، وژغورل.

د يادونې وړ ده ،چې د نوزارد ولسوالۍ په کار سفيد سيمه کې يو نهه کلن هلک په ۹۰ متره څاه او په ګرشک ولسوالۍ کې يوه ماشومه انجلۍ په ۱۵۰ متره څاه کې لوېدلې وو ،چې د ملي دفاع وزارت د رهبرۍ په لارښوونه او د تخنيکي ټيمونو په هڅو له نېکمرغه، ژغورل شوي دي.

ژغورل شوي ماشومان د درملنې په موخه روغتيايي مرکزونو ته لېږدول شوي او روغتيايي حالت يې د ډاډ وړ ښودل شوی دی.

## ترميم ۸۹ عراده وسايط مختلف النوع در قول اردوی ۲۰۳ منصوری

۸۹ عراده وسايط مختلف النوع توسط تيم های تخنيکی و مسلکی در ورکشاپ های کندک حمايوی قول اردوی ۲۰۳ منصوری ترميم و آماده استفاده قرار گرفت.

اين وسايط: ۵۵ عراده تانک، ۲۵ عراده انترنيشنل و ۹ عراده موتر نوع تريلر را شامل می باشد.

قابل يادآوری ست قبل از اين تعداد زياد وسايط مختلف النوع توسط منسوبين تخنيکی اين کندک نيز ترميم شده بود.

## د ملي دفاع وزارت سرمفتشيت د سمع شکاياتو او تحقيقاتو مرستيال معرفي شو

د ملي دفاع وزارت رهبري د لزوم ديد له مخې مولوي عبدالقهار"متوکل" دسرمفتشيت د سمع شکاياتو او تحقيقاتو د مرستيال په توګه ټاکل شوی وو، نن د سر مفتش مفتي لطيف الله "حکيمي " له لوري رسما اړوند کارمندانو ته وروپېژندل شو.

دغه مراسمو کې سرمفتش مفتي لطيف الله"حکيمي "دلوی درستيز د دفتر رئيس او ګن شمېر مسؤلينو ګډون کړی وو.

مسؤلينو نوی مرستيال ته د مبارکۍ تر څنګ لازمي لارښونې وکړې او نوموړی ته يې په چارو کې د برياليتوب هيله وکړه.

## د نرخ او دايميرداد ولسواليو نښليدونکي سړک د بيا رغونې چارې پيل شوې

تيره ورځ د ملي دفاع وزارت ۳۱۳مرکزي قول اردو اړوند پنځمې پلې لوا د انجينري ټيم له لوري د ميدان وردګو ولايت نرخ او دايميرداد(جلګې) ولسواليو ترمنځ د نښلېدونکي سړک د بيا رغونې چارې پيل شوې.

دغه سړک چې تقريبا ۷ کيلو متره دی د ولس د هوسايني لپاره د صدمردي له سيمې څخه د ياد وزارت د انجينري ټيمونو له لوري پيل شوی دی او په راتلونکي لس ورځو کې به تکميل شي.



چاپ مطبعه اردوی اسلامی ملی